سلام پوهنتون
SALAM UNIVERSITY

# سلام

مجلۀ علمیِ پوهنتون سلام

مجلۀ علمی و تحقیقیِ شش ماهه

سال هشتم، دور دوم، شماره ۳ بهار ۱۴۰۲ هـ ش

## در این شماره:

- مقدمه / پیلیزه
- په اوسنیو حالاتو کې د افغانستان د بهرني اړیکو اړوند لومړیتوبونه
- د مبارک آیت {وَقَرنَ فِي بُيُوتِكُنَّ} راجح تفسير
- رقابت های غیر قانونی تجارتی و التزامات قانونی آنها
- د مصنوعي زیرکتیا د پدیدې سپړنه
- بررسی چگونگی اجراءات محاکم امارت اسلامی در قضایای مدنی در روشنایی فرامین و متحدالمآل ها
- بررسی و ضعیت آلوده گی هوای شهر کابل و ارتباط آن با تغییر اقلیم
- مشروعیت بیمه از دیدگاه فقه و ماهیت حقوقی آن
- غرس سیخ در کانکریت؛ روش های علمی و تجارب عملی
- د پیسو په ارزښت کې بدلون اود پورونو په ادا کولو کې یې اغیزې

مجلۀ علمیِ پوهنتون سلام
چهارراهی گل سرخ (بُست)،
کلوله پشته،کابل - افغانستان

# سلام

## مجلۀ علمیِ پوهنتون ســلام

### مجلۀ علمی و تحقیقیِ شش ماهه

### سال هشتم، دور دوم، شماره ۳ بهار ۱۴۰۲ هــ ش

سلام یک مجله علمی و تحکیم شده است که از طرف وزارت تحصیلات عـالـی افغانستان اعتبـار اکـادیمیـک را به دسـت آورده و بـه شمارۀ (RCTD-PNJR-00+9-21) ثبت گردیده اسـت، ایـن مجـله بـحث مـای علمی را بعـد از پروسه تحکیم در علوم اجتماعی به نـــشر می‌سپارد، و در شش ماه یک بار از طرف پوهنتون سـلام، کابل به نشر می رســد.

سال هشتم، دور دوم، شماره ۳ بهار ۱۴۰۲ هـ ش

مجلة علمية، محكمة مسجلة لدى وزارة التعليم العالي برقم (RCTD-PNJR-00+9-21)، تعنى بنشر- البحوث العلمية بعد تحكيمها وتصدر كل ستة أشهر من جامعة سلام في العاصمة الأفغانية – كابل، الدور الثاني: ۳، ١٤٤٥ هـ ق..



آدرس :

د مجلې سره مراسلات به د تحریر د مدیر په نوم وی

پوهنتون ســـلام، چهار راهی گل سرخ (بّست)، کلوله پشته، کابل - افغانستان

شماره های تماس:

(۰)۲۰۲۲۳۰٦٦۴

۰۷۷۸ ۱۵۰ ۱۵۰

ایمیل:

salamjournal@salam.edu.af

ویب سایت :

www.salam.edu.af

پوهنتون سلام
۱۳۸۸ هـ ش
SALAM UNIVERSITY

# سلام

## مجلۀ علمیِ پوهنتون ســلام


# هیئت تحریر

## رئیس تحریر

**استاد دکتور مصباح الله عبد الباقی**

رئیس پوهنتون

## مدیر تحریر

**استاد دکتورفصیح الله عبدالباقی**

استاد برنامه ماستری، پوهنتون سلام

## اعضاء هیئت تحریر

- **استاد ابوبکر مدقق** معاون علمی، پوهنتون سلام
- **پوهاند محمد اسماعیل لبیب بلخی** استاد برنامه ماستری، پوهنتون ســلام
- **استاد نصیر احمد نویدی** رئیس مرکز تحقیقات پوهنتون سلام
- **پوهنمل دکتور رفیع الله عطاء** رئیس پوهنتون بین المللی افغان، کابل
- **پوهندوی دکتور نجیب الله صالح** استاد پوهنځی شرعیات و قانون، پوهنتون ننگرهار
- **پوهندوی دکتور عبد الخبیر علیم** استاد پوهنځی انجنیری، پوهنتون ســلام
- **پوهنوال امین الله معتصم** استاد پوهنتون البیرونی
- **استاد عبد الله صادق** رئیس پوهنځی اقتصاد، پوهنتون سلام

بسم الله الرحمن الرحيم

## په سلام څېړنيزه مجله کې د څېړنو د نشرولو ضوابط:

- مجله د نشر لپاره په ملي ژبو سربېره په عربي او انګليسي ژبو څېړنې او علمي بحثونو د نشر لپاره مني، مګر په دې شرط چې چې په نورو ژبو د ليکل شوو بحثونو لنډيز د ملي ژبو څخه په يوې ژبې، او په ملي ژبو د ليکل شوو بحثونو لنډيز په عربي او انګليسي ژبه د بحث د ليکوال لخوا د بحث تر څنګ مجلې ته وسپارل شي.
- مجله په کال کې دوه ګڼې خپريږي.
- مجله د بېلابېلو ټولنيزو او علمي ډګرونو پورې اړوند هغه څېړنې خپروي چې په منهجي لحاظ سمې او درستې، په علمي او فکري لحاظ اصالت ولري (د بل چا څخه نه وي اخيستل شوي).
- سلام مجله يوازې هغه څېړنې خپروي چې مخکې د کتاب په بڼه او يا په کومې مجلې او يا هم د کومې بلې لارې نشر شوي نه وي.
- د بحث د پاڼو شمېر بايد د ۸ پاڼو (A4سايز) څخه کم او له ۳۰ پاڼو ډېر نه وي، له دغه شمېر څخه د پاڼو د کموالي او ډېروالي په صورت کې به د تحرير د مدير هوکړه اړينه وي.
- تر هغه چې د بحث ظاهري بڼه سمه او درسته نه وي او لومړني شرطونه يې نه وي پوره کړي د تحکيم لپاره به نه اخيستل کيږي.

## د بحث د نشرولو اجراءات:

- کومه څېړنه او بحث چې په مبدئي لحاظ د نشر وړ وي، ليکوال يې بايد د سافټ کاپي سربېره پرنټ کړې درې نسخې د څېړونو مرکز ته وسپاري.
- مجله هره څېړنه اړونده متخصصينو ته د تحکيم لپاره (ددې پريکړې لپاره چې بحث په مجله کې د نشر وړ دی او که نه دی) ليږي.
- د بحث په هکله د متخصصينو رايه وروستۍ يا نهايي بلل کيږي.
- د تحکيم څخه وروسته که بحث د نشر وړ کڼل شوی وي، او څه تعديل او بدلون ته په کې اړتيا ليدل کيږي، نو ليکوال ته به د هغه تعديلاتو د اجراء لپاره بېرته ليږل کيږي.
- د تصحيح نه وروسته ليکوال بحث د بريښنالیک له لارې او يا هم په سي ډي کې د يوې کاپي سره د څېړنو مرکز ته سپاري، تر څو د نشر لپاره چمتو شي.
- هغه بحثونه او څېړنې چې په مجله کې د نشر څخه پاتې شي بېرته يې ليکوال ته سپارل د مجلې مسؤوليت نه دی.

# په دې ګڼه کې د ليکوالانو لنډه پېژندنه


- دکتور مصباح الله عبد الباقی
  استاد برنامه ماستری و رئیس پوهنتون سلام
  misbah.abdulbaqi@gmail.com
- استاد نصیر احمد نویدی
  عضو کادر علمی پوهنځی حقوق و علوم سیاسیِ پوهنتون سلام
- استاد حسیب یوسفزاده
  عضو کادر علمی پوهنځی انجنیری پوهنتون سلام
  haseeb1368@gmail.com
- استاد مختار احمد معصومی
  عضو کادر علمی پوهنځی انجنیری پوهنتون سلام
  mokhtarmasoomi@gmail.com
- استاد عبدالحمید رفعت
  استاد پوهنځی حقوق و علوم سیاسی پوهنتون سلام
  abdulhamidrafat@gmail.com
- استاد احمد صمدی
  استاد و رئیس پوهنځی حقوق و علوم سیاسیِ پوهنتون سلام
  ahmadsamadi26@gmail.com
- استاد پرویز ستانکزی
  عضو کادر علمی پوهنځی حقوق وعلوم سیاسی و آمر بخش تضمین ارتقای کیفیت پوهنتون سلام.
  parwizstanekzai@gmail.com
- انعام الله رحمانی
  عضو کادر علمی پوهنحی شرعیات پوهنتون سلام.
  enrahmane1998@gmail.com
- استاد فیض الرحمن نظامی
  عضوی کادر علمی پوهنځی حقوق و علو م سیاسی پوهنتون سلام
  Faizurrahmannizami001@gmail.com
- استاد محمد طارق سیار
  عضو کادر علمی پوهنځی حقوق و علوم سیاسیِ پوهنتون سلام
  tariq.sayar@gmail.com
- استاد محمد آصف کوچی
  عضو کادر علمی پوهنځی شرعیات پوهنتون سلام
  asifkochai@gmail.com
- استاد عبدالله غلام نبی
  عضو کادر علمی و رئیس پوهنځی اقتصادِ پوهنتون سلام
  abdullah.sadiq88@salam.edu.af
- استاد زرماش ګردیوال
  عضو کادر علمی و رئیس پوهنځی کمپیوترساینس پوهنتون سلام
  zarmash29@gmail.com
- استاد محمد نعیم جلیلی
  عضو کادر علمی پوهنځی شرعیات پوهنتون سلام
- استاد عبدالملک ثاقب
  استاد و رئیس پوهنځی شرعیات پوهنتون سلام
- پوهاند دوکتور محمد قاسم صدیقی
  عضو کادر علمی پوهنځی انجنیری پوهنتون سلام
  seddeqy@kpu.edu.af

# فهرست


| صفحه | عناوین |
|---|---|
| ۱ | مقدمه / پیلیزه |
| ۱۱ | په اوسنیو حالاتو کې د افغانستان د بهرنیو اړیکو اړوند لومړیتوبونه |
| ۳۲ | د مبارک آیت (وَقَرنَ فِي بُيُوتِكُنَّ) راجح تفسير |
| ۵۶ | رقابت های غیر قانونی تجارتی و التزامات قانونی آنها |
| ۷۱ | د مصنوعي زیرکتیا د پدیدې سپړنه |
| ۹۲ | بررسی چگونگی اجراءات محاکم امارت اسلامی در قضایای مدنی در روشنایی فرامین و متحدالمآل ها |
| ۱۰۵ | بررسی و ضعیت الوده گی هوا ی شهر کابل و ارتباط آن با تغیر اقلیم |
| ۱۱۷ | مشروعیت بیمه از دیدگاه فقه و ماهیت حقوقی آن |
| ۱۳۶ | غرس سیخ در کانکریت؛ روش های علمی و تجارب عملی |
| ۱۴۷ | د پیسو په ارزښت کې بدلون او د پورونو په ادا کولوکې یې اغیزې |

# ملخصات البحوث باللغة العربية


| العناوين | الصفحة |
|---|---|
| الأولويات المتعلقة بالعلاقات الخارجية الأفغانية في الظروف الراهنة | ١٦٤ |
| التفسير الراجح لقوله تعالى "وقرن في بيوتكن". | ١٦٥ |
| المنافسة التجارية غير المشروعة ومستلزماتها القانونية | ١٦٥ |
| تحليل ظاهرة الذكاء الاصطناعي: | ١٦٦ |
| إجراءات محاكم الإمارة الإسلامية في القضايا المدنية في ضوء المراسيم والمكاتيب الإرشادية | ١٦٦ |
| دراسة حالة تلوث الهواء في مدينة كابول وعلاقتها بالتغير المناخي | ١٦٧ |
| المشروعية الفقهية للتأمين، والماهية القانونية له | ١٦٨ |
| غرس السيخ في الخرسانة | ١٦٨ |
| التغيرات في قيمة العملات المالية | ١٦٩ |

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پیل خبرې

### د رئیس تحریر په قلم

الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین وعلی آله و آصحابه

د سلام پوهنتون علمي مجلې دا ګڼه په داسې حال کې د درنو لوستونکو مخ ته ږدو چې په افغانستان کې په بېلابېلو ډګرونو کې یو له بل څخه متفاوتې تجربې سرته رسېږي، هر څوک چې هر څومره وړتیا لري د هماغې په اندازه کارونه سرته رسوي، څوک ښه روان دي او د نورو په نسبت ښې لاسته راوړنې لري او څوک یواځې د دې کوښښ کوي چې ورسپارل شوې ادارې فعالې وساتي، او یو شمېر خو د دې توان هم نه لري چې حتی ورسپارل شوې ادارې فعالې وساتلی شي.

**لومړی: د اقتصادي ازادۍ لپاره د یوې استراتېژۍ د ترسیم اړتیا**

په دې لړ کې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ښاغلی ملا عبد الغني برادر یو له هغو شخصیتونو څخه دی چې په تیره موده کې یې تر خپل توان پورې هڅه کړې چې د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لپاره مهمې او بنسټیزې پروژې په لاره واچوي، او یا هم د پخواني نظام څخه ورپاتې مهمې پروژې بشپړې کړي، او دا ټول په دې موخه چې افغانستان د اقتصاد له پلوه پر خپلو پښو ودرېږي او خپله اقتصادي ازادي ترلاسه کړي، په ځان بسیا وي او د خپلو بنسټیزو اړتیا په اړه چا ته محتاج پاتې نه شي، همدا راز د هېواد د بودیجې لپاره داسې عواید برابر کړی شي چې هېواد د خپلو عادي او پراختیايي مصرفونو او بودیجې لپاره بل چا ته اړ نه وي، دا یو استراتېژیک او مثبت فکر دی.

د هېواد او نظام د فوري اړتیاو د پوره کولو لپاره اوس زیات ترکیز د کانونو په پلورلو او اجاره ورکولو دی، په دې لړ کې د ۱۴۰۲ هـ ل کال د وږي د میاشتې په لومړیو ورځو کې د کانونو او صنایعو وزارت له لورې د شا او خوا اوه ملیاردو ډالرو په ارزښت د کانونو د استخراج قراردادونه د بهرنیو او داخلي شرکتونو سره لاسلیک شول، د هېواد د فوري او عاجلو اقتصادي ستونزو د هوارولو لپاره دا یو ښه او دستاینې وړ ګام دی خو یو داسې حل نه دی چې په اوږد مهال کې زموږ د هېواد اقتصادي ستونزې هوارې کړی شي.

له همدې امله د هېواد د اقتصادي ستونزو د بنسټیز حل لپاره د دې اړتیا ده چې د اقتصادي پراختیا لپاره په یوې ملي استراتیژۍ فکر وشي او یوه مدونه وثیقه ترتیب کړی شي چې بیا د هغې په رڼا کې د اقتصادي سکتور اړوند وزارتونه خپلې استراتېژیانې جوړې کړي، او بیا د هر کال په پلان کې دې استراتېژیکو اهدافو ته ځای ورکړي او د هر کال په دوران کې یې د یوې برخې اهدافو د لاس ته راوړلو کوښښ وکړي.

**په دې استراتېژي کې باید لاندې امور په نظر کې ونیول شي**

لومړی: تر هر څه دمخه باید د دې لپاره لرلید وټاکل شي او هغه دا چې د څو کالو په جریان کې باید افغانستان په داسې یو هېواد بدل شي چې په اقتصادي توګه په ځان بسیا وي، د خپلې تشغیلي او پراختیایي بودیجې لپاره د هیڅ بهرني هېواد او مؤسسې مرستې ته اړ، نه وي.

دویم: د لویو اقتصادي پروژو په پلي کولو کې یواځې د هېواد لوی اقتصاد په نظر کې نه وي، هغه خو به په طبیعي توګه د لویو پروژو د پلی کولو سره پرمختګ کوي خو باید کاري فرصتونو او انفرادي او وړو کاروبارونو ته هم د دې په ضمن کې فرصت برابر کړی شي، ځکه چې دا یو د هغو بنسټیزو لارو څخه یوه ده چې د هغې له لارې عامو خلکو او د هېواد وګړو ته د اقتصادي پراختیا او ودې، ښېګڼې رسېږي.

دریم: د اقتصادي استراتیژۍ د جوړولو او پلی کولو څخه مخکې باید داسې قوانین جوړ شي چې په متوازن ډول د پانګې اچوونکو او همدا راز د ګټې اخیستونکو (مستهلکینو)، دواړو ګټې په کې په نظر کې وساتل شي، دا قوانین باید داسې نه وي چې یواځې د پانګه والو ګټې خوندي کوي، او نه یواځې داسې وي چې د ګټې اخیستونکو (مستهلکینو) ګټې خوندي کوي او پانګه وال په پانګه اچونې پښېمانه کړي، بلکې باید متوازن قوانین وي، دا قوانین ډېر تخصصي او منسجم کار ته اړتیا لري، په دې کې باید د نورو هېوادونو له تجربو څخه هم ګټه پورته کړی شي.

څلورم: په دې استراتېژۍ کې باید د دې خیال وساتل شي چې د هېواد د طبیعي زېرمو څخه د استفادې په وخت کې د راتلونکو نسلونو حق هم په نظر کې وساتل شي، ځکه په دې زېرمو کې د هېواد راتلونکي نسلونه هم شریک دي او الله تعالی د عدل او انصاف حکم کوي، او عدل دې ته ویل کېږي چې حق دار ته خپل حق وسپارل شي.

پنځم: د اقتصادي پراختیا لپاره زیربنا جوړول د یوې کامیابې استراتېژۍ بنسټیزه اړتیا ده، که زیر بناوې جوړې نه شي هر ډول پلانونه او استراتېژیانې د کاغذ پرمخ کرښې پاتې کېږي او څه پرې نه مرتبېږي، د اقتصادي زېربناو څخه مو هدف دا دی چې په هر اقتصادي ډګر کې د پرمختګ لپاره اړینې او بنسټیزې اړتیاوې برابرې کړی شي، چې تر ټولو اړین یې د انرژۍ سرچینې دي لکه بریښنا، ګاز او داسې نور، د سرکونو جال خپرول، د صنعتي لویو کارخانو او پروسس ځایونو رامنځته کول، توریزم (سیاحت) لپاره د هوټلونو جوړول، د سفري اسانتیاو برابرول او ډېر داسې نورې اسانتیاوې چې له شتون پرته یې اقتصادي پراختیا نه شي رامنځته کېدلی، له نیکه مرغه د سرکونو جوړولو ته په تېر نظام کې ډېره پاملرنه شوې ده، خو کوم سرکونه چې ترمیم ته اړتیا لري هغه باید ترمیم شي او ښه معیار سره وساتل شي، د انرژۍ په برخه کې ډېرې پاملرنې ته اړتیا ده، د بریښنا د بندونو جوړول چې د کرهنې د ابو لګولو سیستم هم ورسره پراختیا مومي، د بادي بریښنا، او لمریزې بریښنا پروژې په لاره اچول ډېر اړین دي، تر څو بریښنا نه وي هیڅ ډول اقتصادي پراختیا ممکنه نه ده.

**د اقتصادي استراتېژۍ بنسټيز ډګرونه**

هغه ډګرونه چې د هېوادونو اقتصاد په ښنو درولځ شي ګڼ شمېر کېدلی شي، خو په افغانستان کې که موږ په لاندې ډګرونو ترکيز وکړو او د اقتصادي پراختيايي استراتېژۍ برخه يې وګرځوو، کېدلی شي په دې برخو د اهتمام په نتيجه کې موږ د اقتصادي پراختيا او دوامداره پرمختګ موخو ته ژر ورسېږو، دا ډګرونه چې په دې اقتصادي استراتېژۍ کې بايد ځای ورکړی شي په لاندې ډول دي:

**لومړی ډګر: کرهنه او مالداري**

کرهنه له پخوا راهيسې د افغانستان د اقتصاد لويه برخه جوړوي، يو وخت د افغانستان اقتصاد ۷۵٪ په کرهنې او مالدارۍ ولاړ وه، په دې اړه بايد موږ تر هر څه دمخه دا هدف وټاکو چې د څو کالو په جريان کې خپل خوراکي توکي د هېواد په دننه کې پيدا کړو، په ټولو خوراکي توکو کې بايد په ځان بسيا شو، د دې تر څنګ د هېواد څخه بهر ته د خوراکي توکو د صادرولو هدف هم د ځان سره ولرو، په اوسنيو حالاتو کې موږ، په کور دننه د خپلې اړتيا بنسټيزې غلې دانې هم په ډېر کم مقدار پيدا کوو، د بېلګې په توګه غنم چې کله موسم ښه وي بيا هم موږ خپلې اړتيا د ۵۰ څخه تر ۵۵ فيصدو پورې پيداوار لرو او کله چې وچکالي وي نو دا فيصدي نوره هم ښکته راځي[1]، بله بنسټيزه غله وريجې دي سره له دې چې زموږ هېوادوال وريجې زياتې استعمالوي خو سره له دې هم ډېره کمه اندازه د هېواد په دننه توليدېږي، د نورو غلو لکه دالونه، نخود، لوبيا او نور ډېر خو تقريبا په بشپړ ډول له بهر څخه واردېږي، موږ په افغانستان کې ډېره زياته بوره استعمالوو خو د توليد کچه يې صفر ده، همدا حال د غوړو او خوارکي تيلو هم دی چې په بشپړ ډول له بهر څخه واردېږي او د هېواد يوه لويه برخه بهرني استراتېژيک اسعار په دې کې مصرفېږي، دا اوسنی حالت د افغانستان په څېر يو هېواد لپاره د منلو وړ نه دی، ځکه د کرهنې ډېر زيات فرصتونه لري.

په کرهنه او مالدارۍ کې په ځان د بسيا کېدلو لپاره د دې اړتيا ده چې موږ خپله کرهنه او مالداري د کرهنې او مالدارۍ معاصرو طريقو ته واړوو، ماشيني کرهنې ته په افغانستان کې رواج ورکړو، د وړو وړو مساحتونو پر ځای په لويو مساحتونو کې کښت وکړو، د ماشينونو له لارې يې راټول کړو او ټول پروسس يې د ماشينونو له لارې سرته ورسېږي، مالداري بايد زياته او منظمه شي، تر څو د کرهنې لپاره هم د طبيعي سرو څخه هم ممکنه شي او د کيمياوي سرو څخه د توان تر بريده ځان وساتو.

دې ته هم اړتيا ده چې موږ د خپلو اوبو سم مديريت وکړو، هغه مقدار اوبه چې د واورو او بارانونو له لارې د الله تعالی د يو لوی نعمت په توګه موږ ته راکول کېږي، او بيا د سيندونو او ويالو په شکل بهېږي او له هېواد څخه بهر ته وځي، دا اوبه بايد د خپلې کرهنې او مالدارۍ لپاره د هېواد په دننه کې

---

[1] - په افغانستان کې د څه شمارياتو له پلوه افغانستان څه دپاسه اوه ميلونه ميټريک ټنو غنمو ته اړتيا لري او زموږ د کور دننه پيداوار څلور ميلونه ميټريک ټنه دی.

په منظم ډول ذخیره کړو، بریښنا ترې تولید کړو او د اړتیا په وخت کې ترې استفاده وکړو، په دې لړ کې د قوش تېپې کانال ډېره د قدر وړ پروژه ده، دا ډول نورې پروژې هم باید په کار واچول شي.

په دې لړ کې دې ته هم باید متوجه وه اوسېږو چې د اصلاح شوو تخمونو څخه د استفادې ترڅنګ خپل سنتي او روایتي تخمونه هم وساتو، د افغانستان د زراعتي توکو د امتیاز یوه نقطه هم همدا ده چې زیات زراعتي توکي او مېوې یې طبیعي دي او تر اوسه د اصلاح شوو تخمونو څخه زیاته استفاده نه کېږي.

د هغه مېوو او ترکاریو لپاره باید سړې خونې جوړې کړو چې په موسم کې خو زموږ له اړتیا څخه زیاتې وي او کروندګر یې باید په ډېره کمه بیه خرڅې کړي، خو ډېر لږ وخت وروسته موږ د هماغه شیانو بېرته واردولو ته اړ یو، د بېلګې په توګه په مېوو کې انګور، مڼې او داسې نور په موسم کې یې ډېر په ټیټه بیه پلورل کېږي او بیا لږ وروسته یې د نورو هېوادونو څخه د ډېرو پیسو په مقابل کې واردوو، همدا د ترکاریو حالت هم دی، موږ په موسم کې رومیان، پیاز، آلوګان، ګازرې او داسې نور په ډېره کمه بیه خرڅوو، د بېلګې په توګه سږ کال زموږ په کلي کې پیاز چې په ګاونډیو هېوادونو کې هم شهرت لري «د مزینې پیاز» یو من «اوه کیلو» له پنځلس افغانیو څخه تر شلو افغانیو پورې خرڅېدل، له دې امله چې موږ یې د ساتلو لپاره سړې خوني نه لرو نو لږ وخت وروسته یې په څو چنده بیه بېرته له ګاونډیو هېوادونو څخه بېرته واردوو، که د دې لپاره موږ د یو منظم پلان له مخې ترتیبات ونیسو، سړې خونې ورته جوړې کړو، او په موسم کې د خپلې اړتیا څخه زیاتې مېوې او ترکارۍ په کې وساتو نو ډېره زیاته سرمایه سپمولی شو.

د دې ترڅنګ د هېواد د شرقي سرحد سربېره د خپلو مالونو د لېږد لپاره بدیلې لارې هم لټول پکار دي، ځکه که موږ نړیوال مارکیټ ته خپل مالونه ورسولی شو نو دا به د کروندګر لپاره د تشویق یوه لویه وسیله وي، او له دې لارې به د تجارت انډول را ښه کړی شو، د افغانستان په څېر یو هېواد چې بحر ته لار و نه لري دې ته اړتیا لري چې متبادلې لارې ولري، ځکه د کرهنیزو توکو د صادراتو وخت ډېر محدود وي او کله چې دا محدود وخت له لاسه لاړ شي بیا د کروندګر د ټول فصل محصولات او خواري ضایع کېږي.

که بیا هم څه کرهنیز محصولات پاتې کېږي او نړیوالو مارکیټونو ته یې نه شو رسولی، او د خپل داخلي مارکیټ له اړتیا څخه هم زیات وي نو بیا د هغه لپاره وړې او لویې د خوراکي موادو د پروسس کارخانې او واحدونه رامنځته کول پکار دي چې په علمي طریق یې د وچولو او له تازه مېوو څخه د نورو مصنوعاتو (د مېوو اوبه، مرباګانې، خواږه خواږه، وچې کړی شوی مېوې) د جوړولو په اړه ګټه پورته شي، او په دې توګه یې موږ عمر زیات کړی شو، ا و بیا د هغه مصنوعاتو څخه د خپل مارکیټ د اشباع کولو لپاره هم کار واخیستل شي، او همدا راز بیرون د صادرولو لپاره ترې هم کار واخیستل شي، د بېلګې په توګه د خربوزې، خټکي، انځر، شفتالو، زردالو، ګازرو او داسې نورې مېوې که پاکې او د معیارونو سره سمې وچې شي او په ښه پیکنګ کې نړیوالو ته وړاندې شي نو د افغانستان مېوې به په نړیوال مارکیټ

کې حتما خپل ځای ولري، همدا راز یو شمېر نور کرهنیز محصولاتو څخه د مېوو اوبه په ښه پیکنګ کې خلکو ته وړاندې کولی شو لکه د هندوانې او شفتالو اوبه او داسې نور، همدا راز د یو شمېر مېوو څخه مرباګانې جوړولی شو، او په دې توګه به موږ خپل کرهنیز محصولات په بشپړ ډول خلکو ته رسولی وي، همدا راز د غنمو څخه نور محصولات جوړول چې زموږ د ورځیني خوراک برخه ګرځېدلې دي لکه آش او ماکروني او داسې نور د دې ډول محصولات د تولید لپاره دلته ګامونه پورته کول په کار دي.

که مو دا کارونه وکړل موږ به کرهنه د صنعت سره تړلی وي، او یو به بل تقویه کوي، صنعت کاران به د کروندګرو کرهنیز توکی له مخکې اخلي، او په دې توګه به په آرام او مطمئن زړه خپل کار او انتاج ته ادامه ورکوي، دا تشویش به ورسره نه وي چې محصولات به څنګه کېږي؟ او چېرته به یې خرڅوم؟ او کله چې دهقان مطمئن شو نو بیا به محصولات هم ډېر وي او ټولنه به خوشحاله وي.

**دویم ډګر: د افغانستان له لارې د توکو لېږد رالېږد (Transit)**

د افغانستان د خلکو او دولت لپاره د عایداتو یو بل لویه منبع د بهرنیو هېوادونو د سوداګریزو مالونو او د خپلو اړتیا وړ توکو تګ راتګ دی، دا هم باید د اقتصادي استراتېژۍ یوه مهمه برخه وي، او په ټوله کې باید د دې لپاره هم یوه ملي استراتېژي ترسیم شي، د دې اهمیت له هیڅ چا هم پټ نه دی، دې ته هم باید جدي پاملرنه وشي، د دې راکړې ورکړې لپاره چې څه اړین دي باید تر سره شي، چې خلک په مطمئن زړه خپل توکي د افغانستان له لارې نورو هېوادونو ته ورسوي، د ترانزیت (د مالونو تګ راتګ ) څخه یوازې په موټرو بار توکي نه دي سره له دې چې دا یې یو بنسټیز عنصر دی، بلکې له دې څخه د برېښنا، ګاز او نورو پایپ لاینونو تېرېدل هم شامل دي خو د دې کار، د ښه سرته رسولو لپاره څو شیانو ته اړتیا ده چې باید تر سره شي، که دا کارونه تر سره نه شي بیا د دې برخې پراختیا ممکنه نه برېښي:

- د ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه د ګاونډیو سره ښې او مثبتې اړیکې ساتل.
- داسې قوانین جوړول چې د ترانزیت (د مالونو د تېرېدلو راتېرېدلو) کار اسان کړي او د سوداګرو لپاره په کې اسانتیاوې وجود ولري.
- زیر بناوې جوړول او هغه د سیمه ایزو او نړیوالو معیارونو سره سم ساتل او حفاظت یې کول، لکه سرکونه، هوایي میدانونه او د اورګاډې پټلۍ او داسې نور.
- په کور دننه د امن او امان حالت په دائمي توګه مستقر ساتل، چې هیڅوک د خپلو مالونو د لیږد رالېږد په وخت کې د هیڅ ډول تشویش سره مخ نه وي.

**دریم ډګر: صنعت او د کانونو استخراج**

دا یو هغه بل ډګر دی چې باید د افغانستان د اقتصادي پراختیا د ملي استراتېژۍ برخه وي، د دې برخې اهمیت له دې امله هم ډېر دی چې د نړۍ د ټولو هېوادونو سترګې په افغانستان باندې ښخې دي، هر څوک غواړي په دې کې دلته پانګونه وکړي، دا طبیعي زېرمې چې له یوې لورې د افغانستان لپاره یوه لویه پانګه ده خو له بل پلوه که په درست ډول مدیریت نه کړی شي یو لوی سرخوږی هم ترې جوړېدی شي، د کانونو په اړه د نړیوالو ځواکونو ترمنځ د ناوړه سیالیو له امله افغانستان بیا د عدم

استقرار لور ته تللی شي، نو له دې امله په دې اړه ډېر ژور فکر په کار دی، په دې اړه یوه مستقله استراتیژي جوړول اړین دي چې د دی ډګر اړوند ټول قضایا په کې په تفصیل سره بحث او وڅېړل شي، د دې استراتېژۍ بنسټیزه موخه باید دا وي چې موږ څرنګه د نورو موخو ترڅنګ د کانونو د استخراج څخه په افغانستان کې صنعت ته وده ورکولی شو، څرنګه د نورو هېوادونو کمپنۍ دې ته هڅولی شو چې په افغانستان کې د صنعت په پراختیا کې پانګونه وکړي، چې له دې لارې خلکو ته کاري فرصتونه برابر شي، خو په ابتدایي شکل باید دا لاندې قضیې په پام کې ولرو:

- موږ باید د کانونو تقسیم بندي وکړو، د بیلګې په توګه یو هغه کانونه دي چې یوازې د سون د موادو په توګه ترې کار اخیستل کېږي او په خپله د کوم صنعت لپاره د خام موادو حیثیت نه لري، چې پروسس شي او نور د استفادې وړ شیان ترې جوړ شي، او بل هغه کانونه دي چې د پروسس څخه وروسته ترې نور مواد جوړېږي، د لومړي ډول کانونو په اړه یو ډول سیاست خپلولو ته اړتیا ده او د دویم ډول کانونو په اړه بل ډول سیاست پلي کولو ته اړتیا ده.
- هغه کانونه چې د نورو صنعتونو لپاره خام مواد برابروي، او هغه کانونه چې که په ناخالص ډول یې څوک خرڅ کړي یو قیمت لري او که په خالص ډول خرڅ کړی شي بل ډول قیمت لري، د دې کانونو لپاره باید بنسټیز اهداف دا وټاکل شي چې دیو اوږد مهاله پلان له مخې، د دې موادو څخه د سمې ګټه اخیستنې له لارې، موږ باید افغانستان ته په صنعتي ډګر کې پرمختګ ورکړو، په بل عبارت سره، په ورو، ورو هغه کارخانې باید هیواد ته راوستل شي، چې دا مواد همدلته پروسس کړي او جوړ شوي توکي یې بهرنیو هېوادونو کې وپلورو، او په پیل کې دا شرط هم پرې کېږدو چې د فني کارکوونکو څخه پرته نور کارګران به د افغانستان وګړي وي، زمونږ هیواد وال وي، په اوږد مهاله کې به په اړوند ډګر کې فني تجربه هم افغانانو ته انتقالوي.
- د کانونو د استخراج پروژې باید یو هېواد ته ور نه کړو تر څو د هماغې یو هېواد په ولکه کې و نه لوېږو، سره له دې چې که د هغه هېواد قرارداد موږ ته ارزان هم پرېوزي، په عام ډول د مسلمانو هېوادونو په ځانګړی توګه د هغه مسلمانو هېوادونو کامیابو شرکتونو ته فرصت ورکړو چې موږ سره په ګاونډ کې نه وي او استعماري کړنې هم و نه لري، په دې توګه به موږ د نورو غیر مسلمانو هېوادونو د اتباعو له ناوړو اغېزو څخه هم محفوظ پاتې شو او هم به مو د یو نوي استعمار په دام کې د پریوتو د امکاناتو مخه نیولې وي.
- د پروژو په ورکولو کې باید د افغاني شرکتونو ګډون او مشارکت اړین شرط وګرځوو، او په افغاني شرکتونو دا شرط کېږدو چې په یوې مشخصې مودې کې به د بهرنیو شرکتونو څخه فني زده کړې بشپړوي.
- دې ته هم باید متوجه وه اوسېږو چې په دې سکتور کې د مافیایي کړیو د جوړېدو مخه ونیسو، ځکه دا هماغه د احتکار حالت دی چې شریعت د ډېرو مصالحو له امله په خوراکي توکو کې ناروا ګرځولی دی.

**څلورم ډګر: سیاحت او توریزم**

افغانستان لرغونی تاریخ لري، په نړیوال تمدن کې یی غوښنه برخه درلوده،، او زیات شمېر ډېر مشهور شخصیتونه یې نړۍ ته وړاندې کړي دي، د دې مشهورو شخصیتونو او ورسره د مشهورو سیمو او ښارونو نومونه لکه بلخ، فاریاب، بست، هرات او داسې نور یې په پرله پسې توګه د تاریخ، رجالو او د نورو علومو په کتابونو کې په تکرار سره یادېږي، همدا راز په تېرو څلوېښتو کلونو کې په پرله پسې توګه د رسنیو سر ټکی پاتې شوی دی، له دې امله د نړۍ ډېر خلک افغانستان ته د راتګ لپاره لیوالتیا لري .

له دې فرصت څخه ګټه اخیستل په کار دي، او توریزم او سیاحت ته وده ورکول پکار دي، او د نورې نړۍ په څېر له دې څخه د هېواد د اقتصاد لپاره د یوې منبع په توګه ګټه اخیستل اړین دي، او دا ځکه چې توریزم، هېواد ته لویه سرمایه د ځان سره راوړي، خو په عین حال کې د خپل ځان سره څه کلتوري ستونزې هم راوړي، که موږ په دې وتوانېږو چې د ستونزو څخه یې مخنیوی وکړو او مثبت اړخونه یې ترویج کړو نو دا د هېواد د اقتصاد لپاره یوه لویه منبع ګرځېدلی شي، خو د دې توریزم څخه د مثبتې ګټې اخېستنې لپاره باید یوه دقیقه استراتېژي وټاکو، همدا راز باید د دې لپاره اړوند اسانتیاوې برابرې کړو، لکه هوټلونه، هغه سیمو ته ښه سرکونه چې خلک ورته تلل غواړي، د هېواد هغه سیمو ته چې ښه چاپېریال او پاکه هوا لري د ځنګلونو او طبیعي ښکلا بېرته ورګرځول، د امن او امان حالت په دقیق ډول مستقر ساتل، که دا کارونه سرته ورسېدل نو موږ له دې څخه په اقتصادي او هم په کلتوري میدان کې ډېره ګټه پورته کولی شو.

**پنځم ډګر: خدمات**

زموږ د هېواد د پانګې یوه لویه برخه په بهرنیو هېوادونو کې د هغوی د خدماتو څخه د استفادې په موخه په مصرف رسېږي، په ځانګړي ډول د صحت، تعلیم، چاپ، اداري اسانتیاو، انترنت، د توکو د لېږد را لېږد او نورو ډېرو ډګرونو کې موږ نورو ته اړ یو، نه یوازې دا چې د بهرنیو هېوادونو څخه په دې ډګر کې سرمایه نه شو را جذبولی بلکې خپلو هېوادوالو ته هم مطلوب خدمات نه شو برابرولی، او دا یو داسې حالت دی چې هیڅ یو با شهامته هېواد یې د ځان لپاره نه خوښوي.

د دې ترڅنګ نور هېوادونه د خدماتو په لړ کې نورو هېوادونو ته ماهر کارګران (Skilled labour) لېږي او له دې لارې هغه کارګران د خپلو کورنیو سره د مرستې لپاره لویه سرمایه هېواد ته را لېږي، له بده مرغه زموږ چې کوم هیوادوال بهرنیو هېوادونو ته ځي له دې امله چې هیڅ مهارت نه لري نو تر ټولو سخت او شاقه کارونه همدوی ته ور تر غاړې وي، موږ اړتیا لرو چې نورو هېوادونو ته ماهر کارګران ولېږو، اول باید ماهر کارګران د مسلکي انستیتیوتونو څخه فارغ کړو بیا هغوی ته په بهرنیو هېوادونو کې د کار فرصتونه برابر کړو، له یوې لورې به مو خلک په کار لوېدلي وي او له بل پلوه به مو د خپل هېواد لپاره زیاته پانګه را جلب کړې وي.

د دې لپاره یوه اوږد مهاله استراتېژۍ جوړولو ته اړتیا ده چې موږ څنګه کولی شو د څو کلونو په دوران کې نه یوازې دا چې خپلو هېوادوالو ته اړین خدمات برابر کړو او ډېره زیاته سرمایه چې د افغانستان څخه د دې غرض لپاره بهر ته ځي، بېرته را وګرځوو او د هېواد په دننه کې دا ډول خدمات

خپلو هېوادوالو ته وړاندې کړو، بلکې د بهرنیو هېوادونو اتباعو ته دلته ښه خدمات وړاندې کړو او دا د خپل هېواد د اقتصادي ځواکمنتیا پیاوړې وسیله وګرځو.

داسې ډګرونه به نور هم وي چې موږ یې د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره په جوړېدونکي استراتېژۍ کې ځای پر ځای کړو، که مو یوه اوږد مهاله دا ډول استراتېژي وټاکله او داسې مخلص خلک مو چمتو کړی شول چې ګام په ګام دا استراتېژي تعقیب کړي نو لرې به نه وي چې موږ په ډېره لنډه موده کې د پرمختګ لوړو څوکو ته ورسېږو، او که د پلان او استراتېژۍ څخه پرته روان ؤ نو نه به حرکت منظم وي، نه به راته دا معلومه وي چې په اوږد مهاله کې موږ څه غواړو، او اوس په کوم حالت کې قرار لرو، او دا به داسې یو ورک حالت وي چې هیڅوک یې د ځان لپاره نه خوښووي.

**دویم: د دې ګڼې مضامین**

د سلام د علمي مجلې د طبیعت سره سم په دې ګڼه کې هم متنوع مضامین نشر ته سپارل کېږي، په دې کې ټول داسې موضوعات دي چې ټولنه ورته اړتیا لري، د فقهې، تفسیري، ټولنیزو، انجنیري او سیاسي چارو اړوند مضوعات په کې ځای پر ځای شوی دي.

لومړی موضوع چې د «په اوسنیو حالاتو کې د افغانستان د بهرنیو اړیکو اړوند لومړیتوبونو» تر عنوان لاندې د سلام پوهنتون رئیس محترم دکتور مصباح الله عبد الباقي او سلام پوهنتون د تحقیقاتو د مرکز د رئیس محترم استاذ نصیر احمد نویدي له لورې لیکل شوی ده، د یوې طرحې په توګه د اسلامي امارت مشرتابه ته وړاندې شوی، او دا په کې په ګوته شوي چې موږ په کومو بنیادونو، خپلې بهرنۍ اړیکې رغولی شو، او دا چې څرنګه د ځان سره نور هېوادونه په مثبت ډول ښکېلتیا ته اړ کولی شو، او دا چې کله پراخې اړیکې رامنځته شي نو بیا باید ترې په کومو موخو کې ګټه پورته کړی شي، یوه مهمه موضوع ده چې زموږ ټولنه او هېواد ورته اړتیا لري.

دویمه موضوع د سلام پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي د اسلامي تعلیماتو د دیپارتمنت غړي او د ماسترۍ استاذ محترم محمد نعیم جلیلي او د شرعیاتو د پوهنځي محترم رئیس استاذ عبد الملک ثاقب له لورې د (د «وقرن في بیوتکن» مبارک ایت راجح تفسیر) تر عنوان لاندې لیکل شوی ده، دا هم د یو مبارک ایت راجح تفسیر په ګوته کوي، د دې ایت هغه تفسیر چې یو شمېر علماو کړی دی خلکو ته داسې انګېرنه ورکوي چې ګویا ټول امت د الله تعالی کتاب پرې ایښی دی، ځکه که هغه مرجوح تفسیر مراد شي نو په هیڅ ډول به ښځو ته د کور څخه بهر وتلو جواز نه درلودی، سره له دې چې ټول امت د الله په کتاب عمل هم کړی دی او ښځو ته یې په پرده کې د کور څخه د بهر وتلو اجازه هم ورکړې، دا راجح تفسیر څه دی، همدا قضیه په دې بحث کې په دقیقه توګه څېړل شوی ده.

دریمه موضوع چې د (رقابت های غیر قانونی تجارتی والزامات قانونی آن ها) تر عنوان لاندې د محترم استاذ احمد صمدي د حقوقو د پوهنځي رئیس او محترم استاذ عبد الحمید رفعت (چې د حقوقو په پوهنځي کې د قضا او څارنوالۍ د دیپارتمنت آمر دی) له خوا لیکل شوی ده، یوه مهمه څېړنه ده چې په سوداګرۍ کې غیر قانوني سیالۍ څه قانوني نتائج لري، په تجارت کې سیالۍ ته اړتیا ده،

ځکه احتکار په شریعت کې ناروا دی، خو دا سیالي باید یو چوکاټ ولري، او د سیالۍ په نوم داسې کارونه و نه کړای شي، چې نورو سیالو شرکتونو او اشخاصو ته زیان ورسوي، خو که څوک له دې چوکاټونو بهر کېږي نو باید څه نتائج د ځان سره ولري، دا چوکاټونه جوړول او ټاکل د قانون کار دی، اوس که څوک د دې چوکاټونو التزام نه کوي هغه باید څه مسؤولیتونه ولري، څه جزا ورته قانون ټاکي، او قانون په څه شکل پانګه والو ته د پانګې مصئونیت تضمینوي؟ په دې اړه دا څېړنه بحث کوي.

څلورمه څېړنه د (د مصنوعي زیرکتیا د پدیدې سپړنه«افسانې، واقعیتونه، او د ټیکنالوژیکي پرمختګونو بدلېدونکی منظره») تر عنوان لاندې د سلام پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي محترم رئیس استاذ عبد الله صادق او د کمپیوتر ساینس پوهنځي محترم رئیس زرماش ګردیوال له لورې لیکلې ده، په دې څېړنه کې یې د مصنوعي زیرکتیا په اړه څه واقعیتونه، هغه اندیښنې چې د خلکو په ذهنونو کې پرتې دي، او همدا راز په بازار کې شته د مصنوعي زیرکتیا سافټویرونه او په ځانګړې توګه هغه چې ژبني ماډلونه بلل کېږي، او خلک ترې عملا ګټه پورته کوي، په ځانګړې توګه په څېړنو او لیکنو کې د دې سافټویرونو او پروګرامونو څخه څه استفاده ممکنه ده، او دا څه نیمګړتیاوې لري دا ټول په دې توصیفي څېړنه کې د لوستونکو مخ ته ایښودل شوي دي.

پنځمه موضوع د (بررسی چگونگی اجراءات محاکم امارت اسلامی در قضایای مدنی در روشنی فرامین و متحد المال ها) چې د حقوقو پوهنځي محترم استاذانو هر یو استاذ فیض الرحمن نظامي او استاذ محمد طارق سیار (د سلام د تحقیقاتي مرکز معاون) له لورې لیکل شوی ده، یوه مهمه موضوع یې څېړلی ده، او هغه دا چې له دې امله چې د اسلامي امارت د قضا پروسه ډېرو خلکو ته څرګنده نه ده، نه دوی کوم ځانګړي قوانین لري او نه کوم پروسیجرونه ټاکل شوي دي، او مدني حقوقي قضیې ډېرې زیاتې دي نو خلک د یو مبهم حالت سره مخ دي، له دې امله دې ته اړتیا لیدل کېږي چې دا وڅېړل شي چې د مدني قضیو د محاکمې پروسه څنګه ترسره کېږي او په دې اړه صادر شوي وثائق څه دي؟ همدا قضیه په دې څېړنه کې سپړل شوی ده.

شپږمه څېړنه په دې مجله کې د (وضعیت آلوده گی هوای شهر کابل و ارتباط آن با تغییر اقلیم) چې محترم پوهاند محمد قاسم صدیقي د سلام پوهنتون د انجینرۍ د پوهنځي استاذ لیکلی ده، په دې اړه یې بحث کړی چې په ژمي کې د دوبي، مني او پسرلي په پرتله په کابل کې د هوا ککړتیا زیاته وي، د دې لاملونه څه دي؟ او دا څنګه باید کنترول کړی شي؟ دا هغه سوالونه دي چې په دې څېړنه کې یې ورته ځوابونه ویلي دي، له دې امله چې دا د خلکو د ژوند سره تړلی موضوع ده نو اهمیت یې ډېر زیات دی، او باید اړونده ادارې یې سپارښتنې عملي کړي.

اوومه موضوع چې د (مشروعیت بیمه از دیدگاه فقه وماهیت حقوقی آن) چې د حقوقو د پوهنځي استاذ د سلام پوهنتون د تضمین کیفیت د ادارې آمر محترم استاذ پرویز ستانکزي او محترم استاذ انعام الله رحماني د سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاذ په قلم لیکل شوی ده، یوه مهمه موضوع یې څېړلی ده، د بیمې په اړه د فقهاو نظریات متفاوت دي، څوک یې په بشپړ ډول ناروا بولي، څوک یې

په ټولو صورتونو کې روا بولي او څه داسې دي چې کوم صورتونه يې چې شرعي ممانعت نه لري هغه روا او نور صورتونه يې ناروا بولي، دا قضيه په دې څېړنه کې په تفصيل سره بحث شوی ده، همدا راز دا هم بحث شوی ده چې د بيمې قانوني حيثيت څه دی، په قانون کې دا د کوم ډول عقودو څخه شمېرل شوی ده، د دې موضوع اهميت په دې کې دی چې دا دولت لپاره د عوايدو يو مهم مورد دی، خو اوس دې ته اړتيا ده چې اسلامي امارت په دې اړه څه نظر غوره کوي؟

اتمه څېړنه د (غرس سيخ در کانکريت؛ روش های علمی وتجارب عملی) تر عنوان لاندې محترم استاذ انجنير مختار احمد معصومی او محترم انجنير صاحب محمد حسيب يوسفزاده چې دواړه د سلام پوهنتون د انجنيری د پوهنځي استاذان دي ليکل شوی ده، په دې څېړنه کې ليکوالانو د يوې داسې قضيې لپاره د حل لارو د وړاندې کولو هڅه کړې ده چې خلک بالفعل ورسره مخ دي، او هغه دا چې کله کانکريټ سخت شي او بيا هغه سيخونه چې د بل منزل د وصل کولو لپاره پرېښودل شوي ؤ غوڅ کړی شي، او بيا وغواړي چې بل منزل پرې جوړ کړي په دې سخت شوي کانکريټ کې د سيخونو د وصل کولو او د دې سيخونو د ټومبلو لارې چارې څه دي؟ داسې لارې چارې چې تعمير د خطر سره مخ نه کړي، همدا هغه قضيه ده چې په دې څېړنه کې ورته ځوابونه لټول شوي دي، په تعميراتي ډګرکې دا يوه لويه ستونزه ده چې خلک ورسره لاس او ګريوان دي، په دې اړ د تعميراتو انجينران له دې علمي څېړنې پوره ګټه پورته کولی شي.

نهمه څېړنيزه مقاله په دې ګڼه کې د (د پيسو په ارزښت کې د بدلون او د پورونو په ادا کولو يې اغېزې) تر عنوان لاندې د سلام پوهنتون د شرعياتو پوهنځي استاذ محترم محمد آصف کوچي له لورې ليکل شوې ده يوه مهمه او د ټولنې د ضرورت وړ موضوع يې څېړلی ده، او هغه دا چې د پور د اخيستلو له وخت څخه د پور د ادا کولو تر وخت پورې که د پيسو په ارزښت کې تفاوت رامنځته شي نو څه کول په کار دي؟ که قرض ورکوونکي ته د قرض د ادا کولو د وخت په نرخ قرض ادا کړی شي نو هغه ډېر تاواني کېږي، نو په داسې حالاتو کې څه کول په کار دي، په لنډه توګه چې د دې په ځواب کې څه ويل شوي دي په لاندې توګه دي، که د پيسو په ارزښت کې تفاوت لږ وه نو هغه ته اعتبار نشته نو بايد په هماغه اندازه پيسې ورکړي چې د قرض ورکوونکي څخه يې اخيستې وی، او که دا تفاوت زيات وه نو بايد هغه تفاوت د با تجربه خلکو له لورې محاسبه شي او تفاوت بايد د قرض د اصل مبلغ سره قرض ورکوونکي (دائن) ته ورکړی شي، او دا اضافي پيسې سود او ربا نه بلل کېږي.

دا څېړنې د درنو لوستونکو مخ ته ږدو، او هيله مو دا ده چې دا او داسې نور څېړنيز بحثونه په ټولنه کې يو علمي حرکت او خوځښت را منځته کړي، موږ همداسې يو خوځښت ته اړتيا لرو چې زموږ ټولنه د علم او معرفت لور ته سوق کړي، او دا به هغه وخت ممکن وي چې دا علمي څېړنې ولوستلې شي او که څوک يې په اړه څه نظر لري نو په علمي توګه يې نقد کړي، موږ به ان شاء الله د سلام د علمي مجلې د پاڼو له لارې د علمي نقدونو خپرولو ته تل هر کلی وايو.

و سبحانك اللهم وبحمدك نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك ونتوب إليك.

# په اوسنيو حالاتو کې د افغانستان د بهرني اړيکو اړوند لومړيتوبونه

دکتور مصباح الله عبدالباقی[۲]
misbah.abdulbaqi@gmail.com
استاد نصير احمد نويدی[۳]
nnawidy@gmail.com

**لنډيز**

په دې لنډه مقاله کې د دې هڅه شوی چې په اوسنيو حالاتو کې د افغانستان د بهرني سياست اړوند لومړيتوبونه وڅېړل شي، او په لنډ ډول د يوې طرحې په توګه واکمنانو ته وړاندې کړی شي، د بهرنيو اړيکو اړوند لومړيتوبونه څو ډول دي، لومړی يې د بهرنيو اړيکو د اهدافو او موخو اړوند لومړيتوبونه دي، دويم يې د بهرنيو اړيکو د رامنځته کولو اړوند لومړيتوبونه دي، او درېيم يې د نورې نړۍ سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتيا اړوند لومړيتوبونه دي.

په لومړی برخه کې د بهرنيو اړيکو د موخو او اهدافو اړوند لومړيتوبونه څېړل شوي، او دا تر ټولو مهم لومړيتوبونه ځکه دي چې دا د افغانستان د بهرني سياست سمت ټاکي، او هغه قبله ورته مشخصه کوي چې دا اړيکې بايد د هغه په لور ولاړې شي، په دې لړ کې ډېر په لنډ ډول د مشخصو نکتو په شکل د دې لومړيتوبونو يادونه شوی ده، او غوښتنه مو دا ده چې د هېواد ټولې سياسي نمايندګۍ بايد دا لومړيتوبونه په نظر کې وساتي.

له دې وروسته په مقاله کې د بهرنيو اړيکو د رامنځته کولو اړوند لومړيتوبونه په ګوته شوي، په دې اړه پنځه لومړيتوبونه په ګوته شوي چې د (د بهرنيو اړيکو په اړه د اسلامي امارت د مشرانو ترمنځ د عامې همغږۍ اړتيا) او ( د بهرنيو اړيکو او نورو ګامونو ترمنځ د شرعي موازناتو او لومړيتوبونو په نظر کې نيول) او (د شکلي اړيکو پر ځای د اعتماد فضاء رامنځته کولو) او (د خپل مصداقيت د ساتلو) او (د متوازنو اړيکو يا بې پرې سياست خپلولو) څخه عبارت دی.

د مقالې په اخيرنۍ برخه کې د نورو هېوادونو سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتيا اړوند لومړيتوبونه څېړل شوي، او دا په ګوته شوي چې اسلامي امارت د اړيکو د رامنځته کولو او نورو هېوادونو سره د ښکېلتيا ډېر مهم مسايل د ځان سره لري، چې په دې اړه بايد لاندې قضيو ته لومړيتوب ورکړي: (سيمه ييز اتصال) (متقابلې اقتصادي ګټې) (د اوبو اړوند قضيې) (د بهرنيو مسلحو جهادي ګروپونو او امنيت اړوند قضيې) (د نړيوالې اجنډا د نه درلودلو په اړه ډاډ ورکول) (د سرحدونو

---

۲. د شرعياتو د پوهنځي د علمی کدر غړی او د سلام پوهنتون رئيس

۳. د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي د علمي کدر غړی او د سلام پوهنتون د تحقيقاتو د مرکز رئيس

لانجې) (غیر قانوني هجرتونه) او داسې نور شامل دي، د دې لومړیتوبونو په نظر کې نیولو سره موږ د نړۍ ډېر هېوادونه په مثبت ډول د ځان سره په اړیکو کې ښکېل کولی شو.

که دا لومړیتوبونه په ټولو مراحلو کې رعایت شي، په اوسنیو حالاتو کې د افغانستان نړیوالې اړیکې پر مستحکمو بنسټونو درېدلی شي، خو که دا لومړیتوبونه رعایت نه کړای شي نو بیا د کامیابو بهرنیو اړیکو توقع درلودل به د خیال څخه پرته بل څه نه وي.

**سریزه**

الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین وعلی آله و أصحابه أجمعین، وبعد.

**د موضوع اهمیت**

د یو هېواد لپاره بهرنۍ اړیکې حیاتي ارزښت لري، هیڅ هېواد له دې اړیکو پرته خپل عادي ژوند پرمخ نه شي وړی، ځکه چې هیڅ یو هېواد هم خپلې ټولې اړتیاوې په ځانته ځان نه شي پوره کولی، نو په دې اړه په نورو هېوادونو باندې اعتماد کولو ته اړ کېږي، همدا راز د سولې او امنیت اړوند مسایل د جرایمو اړوند قضیې، د اقتصاد او سوداګرۍ، پانګونې، د هجرتونو او سفرونو، کلتوري اړیکو او نورو ډېرو مسایلو لپاره هر هېواد نورو هېوادونو سره اړیکو ته اړتیا لري.

دا اړیکې د ټولو هېوادونو لپاره اړینې دي، خو په دې اړه د هېوادونو لومړیتوبونه توپیر لري، د یو چا لپاره به په یو وخت کې یو لړ قضیې مهمې وي او د بل هېواد لپاره به نورې قضیې مهمې وي، له همدې امله دا لومړیتوبونه د یو وخت څخه بل وخت ته او د یو هېواد څخه بل هېواد ته متفاوت وي، که موږ په اوس مهال کې د خپلو بهرنیو اړیکو د مقاصدو او بنسټیزو اهدافو اړوند لومړیتوبونه وټاکو، او د دې اړیکو د پیاوړتیا او رامنځته کېدو اړوند لومړیتوبونه مشخص کړو، او دا وټاکلې شو چې موږ باید نور هېوادونه د کومو لومړیتوبونو پر بنسټ د ځان سره په مثبت ډول ښکېل کړو، نو کېدای شي چې موږ د خپلو بهرنیو اړیکو لپاره ښه بنسټونه برابر کړی شو، چې په دې لیکنه د همدې لومړیتوبونو په اړه وړاندیزونه شوي دي.

دا خو څرګنده خبره ده چې د افغانستان لپاره بهرنۍ اړیکې د تاریخ په دې پړاو کې خورا مهمې او بنسټیزې دي، او دا هم مهمه خبره ده چې دا اړیکې په سم لور حرکت وکړي، نو له دې امله په دې اړه لومړیتوبونه ټاکل هم اړین دي، تر څو د دې لومړیتوبونو په نتیجه کې د دې اړیکو په رامنځته کولو او صحیح لور حرکت ورکولو کې موږ سره مرسته کوي.

**د دې لیکنې بنسټیزه موخه**

په اوس مهال کې افغانستان د بهرنیو اړیکو پراختیا او استحکام ته اړتیا لري، خو په عملي توګه د نظام د بدلون څخه دوه کاله وروسته هم دا اړیکې په ډېر ښه حالت کې قرار نه لري، د دې اړیکو د پراختیا په مخ کې کوم خنډونه پراته دي، د دې په ګوته کول او په عملي توګه له منځه وړل د دې څېړنې لومړۍ موخه ده.

د بهرنیو هېوادونو سره د اړیکو په مخ کې پراته خنډونه په دوه ډوله دي، لومړی هغه خنډونه دي چې د افغانستان د داخلي سیاستونو سره تړاو لري، او دویم هغه خنډونه دي چې په ظالمانه ډول د نورو هېوادونو له لورې اعمال کېږي، کوم خنډونه چې زموږ د داخلي سیاست سره تړاو لري د هغوی لرې کول او له منځه وړل به د نړۍ با انصافه خلک دې ته اړ کړي چې د ظالمو ښکېلاکګرو هېوادونو په مقابل کې د افغانستان سره ودرېږي، او دریغ یې تأیید کړي، له دې امله دا خنډونه له منځه وړل (چې په له منځه وړلو کې یې د اسلام د ثوابتو څخه هیڅ ډول تنازل نشته) د هېواد د تاریخ په دې پړاو کې د هېواد لپاره ډېر اړین دي.

په عامه توګه دا فکر کېږي چې د یو هېواد بهرنی سیاست د بهرنیو هېوادونو سره د اړیکو پر محور را څرخېږي، مګر د نړۍ محترم هېوادونه په بهر کې د خپلو مېشتو اتباعو مسایل هم د خپلو بهرنیو اړیکو یو بنسټیز محور ګڼي، او په دې کار سره د ملت جوړنې پروسه پرمخ وړي، موږ هم د تاریخ په دې پړاو کې چې یو لوی شمېر هېوادوال مو په بهر کې ژوند کوي، دې ته اړتیا لرو چې د هر ډول تبعیض څخه پرته د هغوی مسایلو ته ځان ورسوو، او د حل کولو کوښښ یې وکړو، او د ملت ترمنځ د اعتماد جوړونې پروسه پرمخ یوسو، په دې څېړنه کې دا هم د یوې بنسټیزې موخې په توګه وړاندې شوی ده.

د دې ترڅنګ د ډېرو هېوادونو سفارتونه او سیاسي نمایندګۍ یوازې نمایشي بڼه لري، خو موږ باید د دوی لپاره خپل ځانګړي اهداف ولرو، او دا باید زموږ د لومړیتوبونو پر بنسټ ټاکل شوي وي، دا لومړیتوبونه څه کېدلی شي، په دې اړه هم په دې څېړنه کې وړاندیزونه شوي دي.

**د څېړنې میتود او د بحث تشه**

د دې څېړنې له لارې د افغانستان د بهرنیو اړیکو د اوسني وضعیت تحلیل وړاندې شوی، او دا خو یو څرګند حقیقت دی چې د وضعیت پېژندنه او د هغه تحلیل او د هغه اړوند وړاندیزونه وړاندې کول تر ډېره حده ابتکاري بڼه لري، او د موضوع په اړه د لیکوال پر خپل تحلیل باندې ولاړ وي، نو له دې امله چې دا څېړنه ابتکاري ده او په دې اړه مخکې ډېر څه نه دي لیکل شوي، نو له همدې امله هغه مراجع او مصادر هم ډېر کم دي چې په دې څېړنه کې ورته مراجعه شوی وي، په بل عبارت د لیکنې طبیعت د دې غوښتنه نه کوي چې د مراجعو او مصادرو څخه دې په کې استفاده وشي.

له بل پلوه دا څېړنه یوه وصفي او تحلیلي څېړنه ده، د بېلابېلو لومړیتوبونو اړوند چې کوم وړاندیزونه په دې څېړنه کې شوي دي دا د وضعیت په توصیف باندې بنا دي، چې د هغه یادونه له دې امله دلته نه ده شوې چې له یوې خوا ټولو ته څرګند دی، او له بل اړخه د مقالې د اوږدېدو لامل ګرځېده، له دې وروسته چې کوم لومړیتوبونه ټاکل شوي او وړاندې شوي دي د وضعیت د توصیف په تحلیل باندې بنا دی، په دې معنی چې د بهرنیو اړیکو له پلوه د افغانستان اوسنی حالت په مطلوبه مستوی کې قرار نه لري، دا حالت بدلون ته اړتیا لري، نو که په دې حالت کې مثبت بدلون غواړو نو باید د دې اړیکو اړوند بېلابېلو اړخونو کې لومړیتوبونه وټاکو او په عمل کې یې د پیاده کولو کوښښ وکړو، پر همدې بنسټ د بهرنیو اړیکو د موخو اړوند لومړیتوبونه ټاکل شوي، همدا راز د بهرنیو اړیکو د پیاوړتیا اړوند لومړیتوبونه

ټاکل شوي، او بیا د اسلامي امارت له لورې د نورو هېوادونو سره د مثبتې ښکېلتیا لپاره لومړیتوبونه ټاکل شوي دي.

**د څېړنې تنظیم او ترتیب**

څېړنه په لاندې درېو بنسټیزو برخو ویشل شوی ده: لومړۍ برخه یې د بهرني سیاست او د بهرنیو اړیکو د موخو او اهدافو اړوند لومړیتوبونه څېړي، په دې ترکیز کوي چې په دې اړخ کې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت څه په پام کې باید ولري، او څه ته باید لومړیتوب ورکړي.

دویمه برخه د بهرنیو اړیکو د رامنځته کولو اړوند لومړیتوبونه را په ګوته کوي، او په دې اړه بحث کوي چې د دوه کلونو په تېرېدو سره هم اسلامي امارت د بهرنیو اړیکو د غښتلتیا مطلوبې مرحلې ته و نه رسېده، د افغانستان اسلامي امارت څه شیان د لومړیتوبونو په توګه په نظر کې باید ونیسي چې دا اړیکې پیاوړې او غښتلې شي، په دې اړه ډېرو مهمو قضیو ته اشاره شوی، چې لنډیز یې دا دی چې د هر هېواد بهرنۍ اړیکې تل د هغه هېواد د داخلي سیاست او د داخلي سیاست د ترسیمونکو ادارو او شخصیتونو د نظریاتو څخه اغېزمن کېږي، له دې څخه د افغانستان اسلامي امارت هم مستثنی نه دی، نو که موږ غواړو چې پیاوړې بهرنۍ اړیکې ولرو (چې دا یو داسې اړتیا ده چې له دې پرته د یو هېواد لپاره په امن او استقرار کې پاتې کېدل ممکن نه دي) نو بیا دې ته اړتیا لرو چې د داخلي سیاست په یو لړ قضیو بیا کتنه وکړی شي، او په دې اړه یوه عمومي همغږي رامنځته کړی شي.

درېمه برخه له دې څخه بحث کوي چې د افغانستان اسلامي امارت داسې څه مسایل د ځان سره لري چې نور هېوادونه د ځان سره په مثبتو اړیکو کې را ښکېل کړي؟ څېړنه وایي چې بلې! اسلامي امارت ډېر داسې مسایل لري چې د نورو هېوادونو لپاره د اهمیت درلودونکي دي، که اسلامي امارت په دې اړه خپل لومړیتوبونه وټاکي نو له دې څخه به ځان وساتلی شي چې نور هېوادونه یې داسې څه ته اړ کړي چې د هېواد د ګټو سره به اړخ نه لګوي، نو په دې اړه هم لومړیتوبونو ټاکلو ته اړتیا ده، او په دې برخه کې د دې لومړیتوبونو څخه یو شمېر د نمونې په توګه وړاندی شوي دي، چې نور یې باید د ملت مشرانو او پوهانو ترمنځ د مناقشو او بحثونو له لارې مشخص کړی شي.

د الله تعالی څخه دعا کوم چې دا څېړنه د دې لامل وګرځوي چې موږ خپل هېواد د اسلام د درست فهم سره سم د امن، استقرار او پرمختګ لوړو پړاوونو ته ورسوو.

وسبحانك اللهم وبحمدك نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك ونتوب إليك

**اولا: د بهرنیو اړیکو د موخو او اهدافو اړوند لومړیتوبونه**

د بهرنیو اړیکو موخې او اهداف له یو هېواد څخه بل هېواد ته او له یو وخت څخه بل وخت توپیر مومي، په اوسمهال کې د اسلامي امارت د بهرنیو اړیکو موخې او اهداف څه کېدلی شي؟ دا خو یو لوی سوال دی، په دې اړه خو په کار دا ده چې د بهرنیو چارو د وزارت او یا هم د کوم بل جهت له لورې د هېواد د اهل نظر او تخصص درلودونکو وګړو څخه نظر واخیستل شي او بیا په دې اړه پالیسي وټاکل شي، او لومړیتوبونه مشخص کړی شي، خو زما په نظر په اوسنیو ظروفو او حالاتو کې د هېواد د بهرنیو

اړیکو بنسټیز اهداف لاندې کېدلی شي، چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت یې باید د لاسته راوړلو لپاره هلې ځلې وکړي:

۱. د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ ساتنه، او په بهر کې په ټولو فورمونو کې د هیواد د اسلامي حیثیت مؤثر استازیتوب کول.

۲. د هېواد په اقتصادي پیاوړتیا کې مرسته او همکاري.

۳. امنیت او سوله؛ په دې معنی چې موږ د خپل هېواد امنیت ته رامخته کېدونکي ګواښونه د مثبتو بهرنیو اړیکو له لارې دفعه کړو، همدا راز د نړۍ او سیمې هېوادونو ته د دې ډاډ ورکړو چې افغانستان به د هیڅ هېواد امنیت ته ګواښ نه متوجه کوي او د نورو څخه هم هیله لرو چې زموږ امنیت ته ګواښ جوړ نه کړي.

۴. د افغانستان او ګاونډیو هېوادنو ترمنځ د موجوده شخړو سره داسې تعامل کول چې که شخړې پر خپل حال پاتې هم شي خو چې د اړیکو د خرابېدو او د ستونزو د رامنځته کېدو لامل و نه ګرځي.

۵. د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره داسې پیاوړې سیاسي او اقتصادي اړیکې رامنځته کول چې افغانستان په سیمه کې د اتصال نکته وګرځي، او په دې توګه د «قلب آسیا» په حیث چې د کوم غیر معمولي جیوپولیتیکي حیثیت څخه برخمن دی، د دې مرکزیت څخه اعظمي استفاده وشي.

۶. د اسلامي نړۍ سره دیني، علمي، کلتوري او سیاسي اړیکو ته وده ورکول، او د نړۍ د ټولو هېوادونو، نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو سره کلتوري، بشري، سیاسي او د هر ډول اړیکو د پیاوړتیا له لارې د هېواد مؤثریت لا زیاتول.

۷. د هېواد څخه بهر مېشتو افغانانو سره اړیکو ته پراختیا ورکول، او د دوی ترمنځ د داسې فعالیتونو د مخنیوي هڅې کول چې د هېواد او هېوادوالو د بدنامۍ لامل ګرځي، د بهر میشتو افغانانو د حیثیت او انساني کرامت څخه دفاع کول، د افغاني پاسپورت د حیثیت ساتنه او له دې حیثیت څخه دفاع کول.

۸. د بهر مېشتو افغانانو مرسته او د هغوی د عزت او حیثیت ساتنه باید د بهرني سیاست د لومړیتوبونو څخه وشمېرل شي، د افغانستان سیاسي نماینده ګۍ او سفارتونه باید په هغه هېوادونو کې افغانان پر ځان راټول او هلته مېشت افغانان یې خپل کور وګڼي.

۹. د افغانانو لپاره د سفر د اسانتیاو، د ویزو د ترلاسه کولو او سوداګریزو معاملاتو اسانتیا باید د ډیپلوماسۍ یو لومړیتوب وي، همدا رنګه داسې ګامونه پورته کول چې په نړۍ کې د افغانستان د پاسپورټ حیثیت او احترام لوړ کړي باید د بهرنۍ ډیپلوماسۍ یوه هدف وي.

۱۰. د تعلیمي فرصتونو برابرول او د علمي کادرونو او شخصیتونو د روزلو لپاره اسانتیاوی برابرول باید د بهرنیو اړیکو یو لومړیتوب وي.

د بهرنیو اړیکو د لومړیتوبونو د ټاکلو په وخت کې باید دا په نظر کې ونیول شي چې له دې لارې بېلا بېلو جهتونو او اړخونو ته پیغام ورکړی شي، د بیلګې په توګه له دې لارې هغه هېوادونو ته باید پیغام ورکړ شي چې غواړي د تهدیدونو او تجاوزونو له لارې افغانستان تر اغېز لاندې ولري، دا هېوادونه

باید پیغام تر لاسه کړي چې نور د دې وخت تللی دی چې څوک افغانستان د زور له لارې تر اغېز لاندې راولي، همدا راز هغه هېوادونه چې غواړي د افغانستان سره ښه، مثبتې او د متقابل احترام پر بنسټ ولاړې اړیکې ولري له دې لارې مثبت پیغام تر لاسه کړي، او تر څنګ یې خپلو هېوادوالو ته هم ډاډ ورکړ شي چې په بهر کې د خپلو هېوادوالو روا ګټې ساتل او د هغوی څخه دفاع کول د اسلامي امارت مسؤولیت دی چې د بهرنیو چارو وزارت یې په خپلو لومړیتوبونو کې شمېري، په دې لړ کې لاندې تفصیلي قضیې باید په نظر کې ونیول شي:

لومړی: بهرنۍ اړیکې د افغانستان د خپلواکۍ او اسلامي حیثیت د خوندیتوب وسیله ده، او دې اړیکو ته باید مسؤولین په همدې سترګه وګوري.

دویم: دا د افغانستان د هر ډول جایزو ګټو د خوندي کولو او لاس ته راوړلو تر ټولو مؤثره وسیله ده، او د همدې لپاره باید ترې ګټه پورته کړی شي.

دریم: له دې لارې باید د نړۍ هېوادونو او سیمه ییزو قوتونو ته پیغام ورکړل شي چې افغانستان د هیڅ چا لپاره تهدید نه دی خو دا چې د چا له لورې د تهدید سره مخ شي، افغانستان سیمه ییز او نړیوال امنیت ته ډېر اهمیت ورکوي، او په دې لړ کې د خبرو اترو او تفاهم له لارې د هر هېواد د تشویشونو د رفع کولو لپاره اماده دی.

څلورم: له دې لارې باید ملت ته د دې ډاډ ورکړ شي چې د بهرنیو چارو وزارت او په بهرنیو هېوادونو کې د افغانستان سفارتونه او نماینده ګۍ دنده لري چې د افغانستان د اتباعو د حقوقو او انساني کرامت څخه دفاع وکړي، د افغاني پاسپورټ حیثیت وساتي، او په دې اړه هر راز هلې ځلې خپل مسؤولیت ګڼي.

که په دې توګه موږ د بهرنیو اړیکو لپاره د موخو او اهدافو اړوند لومړیتوبونه وټاکل او په مؤثره توګه مو د هغو نماینده ګیو او سفارتونو څخه استفاده وکړه چې هېواد یې په واک کې لري نو موږ به تر ډېره حده د هېواد ګټې خوندي کړي وي او هغه اهداف به مو لاس ته راوړي وي چې په دې شرایطو کې یې ملت د هېواد د بهرنیو چارو د وزارت څخه لري، خو اوس سوال دا را ولاړېږي چې موږ څرنګه کولی شو چې لومړی دا اړیکې رامنځته کړو، او بیا هغه کوم تفصیلي ګامونه دي چې په دې لار کې باید واخیستل شي، لاندې کرښې همدې سوالونو ته د ځواب لټولو لپاره لیکل شوي دي.

**ثانیا: د اړیکو د رامنځته کولو او پیاوړي کولو اړوند لومړیتوبونه**

دا یو منل شوی حقیقت دی چې بهرنی سیاست او بهرنۍ اړیکې هغه وخت په سم ډول تنظیمېدلی شي چې د کور دننه سیاست په سم ډول عیار شوی وي، او په هېواد کې دننه هغه حالت رامنځته کړی شوی وي چې د بهرنیو هېوادونو او سازمانونو د اعتماد وسیله وګرځي، هغه جوړښتونه رامنځته کړی شوی وي چې د خپل برخلیک په ټاکلو او مخته وړلو کې د ملت ګډون یقیني کوي، قانوني خلا ګانې وجود و نه لري، او ټول بهرني هېوادونه په دې یقین وکړي چې هغوی د حاکم نظام د استازو له لارې د ټول ملت سره تعامل کوي، او کومې ژمنې چې کوي او یا ورسره کېږي هغه د ټول ملت

سره ژمنې دي، دا د بهرنيو اړيکو د رغولو لپاره لومړی شرط دی، له دې پرته د بهرنيو اړيکو رغول ممکن نه دي، نو له هر څه د مخه د خپل کورني سياست د سمولو لپاره جدي گامونه پورته کول په کار دي.

او د بهرنيو اړيکو د اهميت په اړه د اسلامي امارت د مسؤولينو ترمنځ د شريعت د مقاصدو او د لومړيتوبونو او موازناتو فقهي اصولو ته په کتو او د السياسة الشريعة (مصالحو او مفاسدو) د اصولو سره سم يو اصولي او علمي بحث په لاره اچول پکار دي، د دې بحث او مناقشې په پايله کې بايد مسؤولين د کورنيو چارو د سمون په لړ کې په لاندې څو ټکو اتفاق ته ورسېږي، څکه د کور دننه حالات جوړول د بهرنيو اړيکو لپاره بنسټ برابروي:

**لومړی: د بهرنيو اړيکو د اهميت په اړه عمومي همغږي**

د بهرنيو اړيکو په اړه بايد د اسلامي امارت د قيادت په کچه يوه عمومي همغږي رامنځته شي، دې قضيې ته بايد په مثبت نظر وکتل شي، دې ته يوازې په دې نظر و نه کتل شي چې د دې په پايله کې موږ د خپلو اهدافو څخه تنازل ته اړ کېږو، او يا دا چې له دې امله موږ د محدوديتونو لاندې راځو، بلکې په دې اړه هغه مقاصدو ته وکتل شي چې د ښو بهرنيو اړيکو په پايله کې يې موږ لاس ته راوړلی شو، دې اړيکو ته د هغه اړتياو او ضرورتونو په رڼا کې کتل پکار دي چې د دې اړيکو په پايله کې ورته هېواد او ملت لاس رسی پيدا کولی شي.

د همدې مناقشې په پايله کې بايد د اسلامي امارت د مشرانو له نظره د بهرنيو اړيکو د لومړيتوب کچه هم مشخصه کړی شي، په دې معنی چې کله د دې اړيکو د پياوړتيا او څه نورو اهدافو ترمنځ تعارض واقع شي نو کوم يو ته بايد د شرعي او فقهي قواعدو په رڼا کې ترجيح ورکړی شي، او دا چې که دا اړيکې د کور دننه سياست کې د څه بدلونونو غوښتنه کوي نو کوم يو ته بايد ترجيح ورکړی شي؟ دا بدلونونه ومنل شي چې پرې لويې گټې ولاړې دي او که يوازې د دې بهانې له امله و نه منل شي چې نور خلک يې له موږ څخه غوښتنه کوي؟

که دا لومړيتوبونه مشخص نه کړی شي او د نظام دننه يو اړخ د کورنيو چارو د رغولو په مخ کې خنډ گرځي او په هغه څه اصرار کوي چې د اړيکو د له منځه تللو لامل گرځي، او د بهرنيو چارو وزارت يې د رغولو هڅې کوي، په داسې حالت کې به موږ هيڅکله پياوړې بهرنۍ اړيکې ونه لرو، څکه داسې نه شي کېدلی چې يو جهت (د بهرنيو چارو وزارت) د دې اړيکو د رغولو لپاره هڅې وکړي او نور يې د له منځه وړلو او ورانولو لپار لاس په کار وي، څکه د بهرنيو چارو وزارت د کور دننه د هغه سياستونو، پاليسيانو، حالاتو او ظروفو ايجادونکی او رامنځته کونکی نه دی چې د بهرنيو اړيکو د ښه کېدو او خرابېدو بنسټ گرځي، بلکې د بهرنيو چارو وزارت يوازې په هېواد کې د موجودو حالاتو ترجماني کوي، نو که په هېواد کې دننه حالات برابر نه وي که د بهرنيو چارو وزارت هر څومره فعال او مؤثر وي څه به پرې مرتب نه شي، خو که کورني حالات برابر وي، د کور دننه سياستونه په داسې توگه عيار شوي وي چې د ملت غوښتنه هم ده او بهرني هېوادونه او سازمانونه يې د اړيکو د ښه کولو لپاره اړين بولي نو بيا د بهرنيو چارو د وزارت د دومره فعاليتونو سره ډېرې ښې پايلې لاس ته راتللی شي.

که افغانستان غواړي چې د نړیوالې ټولنې یو فعال او مؤثر غړی وه اوسي نو اړینه ده چې خپل د کور دننه حالات د دې د غوښتنو سره عیار او هغه خنډونه چې د دې په مخ کې مانع ګرځي له منځه یوسي، که دا کار و نه شي او موږ هر څومره په یو طرفه ډول هڅې وکړو کېدای شي کومه زړه پورې پایله و نه لري.س

**دویم: د بهرنیو اړیکو په اړه د شرعي موازناتو په نظر کې نیول**

هغه پرېکړې چې د هېواد په دننه کې کېږي، او هغه فرمانونه او قوانین چې په داخل کې اجراء کېږي او د بهرنیو اړیکو په مخ کې خنډونه ایجادوي، بلکې جوړې اړیکې هم له منځه وړي، باید په مقایسوي ډول وڅېړل شي چې په شرعي لحاظ کوم لومړیتوب لري؟ د دې فرمانونو اجراء او که بهرنۍ اړیکې؟ که په دې فرمانونو کې داسې کارونه وي چې د «تحسینیاتو»[٤] له جملې څخه وي او په مقابل کې پرې «حاجیات»[٥] له لاسه ورکوو نو په دې اړه باید یو اتفاقي دریځ غوره کړی شي چې د موازناتو د فقهې د اصولو سره سم باید «حاجیاتو» ته په «تحسینیاتو» ترجیح ورکړی شي، همدا راز که دا تعارض د «مصلحت» او «مفسدې» ترمنځ وي او یا د دوو «مفسدو» ترمنځ وي، په دې اړه په اسلامي فقه کې موږ زیات قواعد لرو چې د هغوی سره سم باید دا قضیه بحث کړی شي، د دې قواعدو له جملې څخه دا لاندې قواعد یوازې د نمونې په توګه دلته لولو:

**د دوو مصلحتونو ترمنځ د تعارض په صورت کې:**

١. الأکثر مصلحة أولی بالتقدیم علی الأقل مصلحة (په کوم څه کې چې زیاته ګټه وي هغه پر هغه وړاندې او مقدم دی چې د هغه په نسبت کمه ګټه ولري).
٢. تقدم المصلحة المتیقنة علی المصلحة المظنونة أو الموهومة. (هغه ګټه چې یقیني وي هغه پر هغه ګټه باید مقدمه او وړاندې وګڼل شي چې غیر یقیني ګټه ولري او یا ګټه ونه لري بلکې یوازې د ګټې وهم وي).
٣. تقدم المصلحة الکبیرة علی المصلحة الصغیرة. (لویه ګټه پر وړې ګټې باید مقدمه وګڼل شي)
٤. تقدم مصلحة الجماعة علی مصلحة الفرد. (د جماعت ګټه د فرد پر ګټه باید مقدمه او وړاندې وګڼل شي).
٥. تقدم مصلحة الکثرة علی مصلحة القلة. (د زیاتو خلکو ګټې ته د کمو خلکو پر ګټه باید لومړیتوب ورکړی شي)
٦. تقدم المصلحة الدائمة علی المصلحة العارضة أو المنقطعة. (دائمي ګټه د مؤقتې او د له منځه تلونکې ګټې په مقابل کې مقدمه ګڼل کېږي).

---

[٤]. دا یوه اصولي اصطلاح ده چې په شرعي لحاظ د مکلفینو د افعالو مراتب په ګوته کوي، تحسینیات د حاجیاتو او ضروریاتو څخه لاندې مرتبه ده.

[٥]. حاجیات د تحسینیاتو څخه لوړه مرتبه ده.

۷. تقدم المصلحة الجوهرية والأساسية على المصلحة الشكلية والهامشية. (بنسټيزه او مهمه ګټه د ظاهري او سرسري ګټې په مقابل کې لومړيتوب لري).
۸. تقدم المصلحة المستقبلية القوية على المصلحة الآنية الضعيفة. (د راتلونکې اړوند قوي ګټه د فوري ضعيفې ګټې په مقابل کې لومړيتوب لري).

**د مفسدې او مصلحت ترمنځ د تعارض په صورت کې:**

۱. أن درء المفسدة مقدم على جلب المصلحة. (د تاوان دفع کول د ګټې په لاسته راوړلو لومړيتوب لري)
۲. أن المفسدة الصغيرة تغتفر من أجل المصلحة الكبيرة. (وړوکی تاوان د لويې ګټې لپاره بخښل کېږي)
۳. تغتفر المفسدة العارضة من أجل المصلحة الدائمة. (مؤقت تاوان د دائمي ګټې لپاره بخښل کېږي)
۴. ولا تترك مصلحة محققة من أجل مفسدة متوهمة. (يقيني ګټه د يو وهمي او غير حقيقي تاوان له امله بايد پرې نه ښودل شي).

**د دوو مفسدو ترمنځ د تعارض په صورت کې:**

۱. لا ضرر ولا ضرار. (نه چا ته تاوان رسول پکار دي او نه د ضرر رسولو په ځواب کې چا ته ضرر رسول پکار دي)
۲. الضرر يزال بقدر الإمكان. (تاوان او ضرر بايد د امکان تر کچې له منځه يوړل شي)
۳. الضرر لا يزال بضرر مثله أو أكبر منه. (ضرر بايد د هغه د مماثل ضرر او يا د هغه څخه د لوی ضرر له لارې له منځه نه وړل کېږي).
۴. يرتكب أخف الضررين وأهون الشرين. (د دوو ضررونو او د دوو بدو څخه چې هر يو کم وي د هغه ارتکاب په کار دی).
۵. يحتمل الضرر الأدنى لدفع الضرر الأعلى. (کم ضرر د لوی ضرر د له منځه وړلو لپاره د تحمل وړ دی).
۶. يحتمل الضرر الخاص لدفع الضرر العام. (خاص ضرر د عام ضرر د له منځه وړلو لپاره د تحمل وړ دی)[٦].

---

[٦]. دا قواعد په بېلابېلو کتابونو کې ذکر شوي دي، د الأشباه والنظائر کتابونه، همدا راز د فقهي قواعدو کتابونه خو د نمونې په توګه وګورئ: فقه الأولويات دراسة في الضوابط، د سلسلة الرسائل الجامعية (۲۲) ګڼه، ليکوال: محمد الوکيلي، د المعهد العالمي للفكر الاسلامي چاپ، ورجينيا- امريكا، لومړی چاپ، کال ۱۹۹۷م، په ځانګړې توګه پنځم فصل چې عنوان يې دی «ضوابط الأولويات في حالة التزاحم» ص ۱۹۷، همدا راز وګورئ: معلمة زايد للقواعد الفقهية والأصولية ج۴ ص ۱۱۷، الباب الخامس: قواعد الموازنة والترجيح بين المصالح، لومړی چاپ ۲۰۱۳م، د مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان چاپ.

د دې معنی هیڅکله هم دا نه ده چې افغانستان دې د خپلو دیني اصولو او ملي مصالحو څخه تنازل وکړي، بلکې د دې معنی به دا وي چې موږ سرې کرښې وضع کړو چې له دې څخه تنازل نشته او نورې قضیې د موازناتو او مصالحو او مفاسدو د قواعدو تابع دي، دا به هغه جهتونو ته د فعالیت ډګر پرانیزي چې د دې اړیکو د رغولو لپاره کار کوي.

**دریم: د شکلي اړیکو پر ځای د هېوادونو سره د اعتماد فضا رامنځته کول**

دریمه قضیه چې باید موږ سره بالکل واضح او څرګنده وي، هغه دا ده چې په دې حالاتو کې د افغانستان لپاره یوازې په رسمیت پېژندل کفایت نه کوي، او یوازې دا بسنه نه کوي چې موږ دې په نورو هېوادونو کې سفارتونه ولرو، او یا دې نور هېوادونه په افغانستان کې سفارتونه ولري، درسته ده چې دا لومړی پړاو دی خو دا نهایي هدف هیڅکله نه دی، بلکې موږ باید د کامیابې ډیپلوماسۍ له لارې هېوادونه دې ته قانع کړو چې د افغانستان سره د مشترکو ګټو پر بنسټ تعامل وکړي، مثبتې اړیکې ورسره ولري، ځکه نړۍ ځینې هېوادونه په رسمیت پېژني خو تعامل ورسره نه کوي (لکه د سوډان پخواني حکومت، او یا هم د ایران اوسنی نظام) موږ د داسې بهرنیو اړیکو متحمل کېدی نه شو چې د نړۍ د هېوادونو د مقاطعې او یا هم د نړیوالې ټولنې د بندیزونو سره په کې مخ یو، موږ باید د نړۍ د هېوادونو او نړیوالو سازمانونو سره قوي او فعالې اړیکې تأمین کړو.

د دې معنی دا ده چې موږ باید د هر څه دمخه د هېواد په داخل کې هغه بستر جوړ کړو چې پر بنسټ یې موږ بهرنۍ اړیکې پیاوړې کولی شو، د قیادت په کچه هغه همغږي رامنځته کړو چې د پیاوړو بهرنیو اړیکو لپاره د مناسب بستر په رامنځته کولو کې مهم رول ولري، تر څو چې دا ډول همغږي رامنځته نه شي دا ډول پیاوړي اړیکي جوړول یوازې د بهرنیو چارو د وزارت د توان څخه پوره نه دي، د بېلګې په توګه که موږ د خلاصو دروازو بهرنۍ سیاست غوره کوو چې د ټولو هېوادونو سره د تګ راتګ اړوند او د تعامل اړوند هیڅ ډول قیود نه وضع کوو او د هېواد په دننه کې ورته په قانوني لحاظ اړین کارونه سرته نه وي رسېدلي نو په داسې حالت کې به دا ډول سیاست پلی کول نا ممکن وي، همدا راز که موږ غواړو هېواد د سیمې لپاره د اتصال نقطه وګرځوو خو زموږ قانوني سیستمونه د دې لپاره نه وي جوړ دا به هم یوازې یو شعار پاتې وي او په عمل کې به هیڅکله پیاده نه شي، د دې تر څنګ دا اړینه ده چې هېواد د قوانینو او قانونمندۍ په لحاظ داسې حالت ته ورسېږي چې بهرني هېوادونه د افرادو پر ځای د نظام او سیستم سره تعامل وکړي، او دا تشویش ورسره نه وي چې که یو فرد د یو مسؤولیت څخه لیرې کېږي نو د هغوی د تفاهماتو پایله به څه وي؟

د بهرنیو اړیکو لپاره دا بستر هغه وخت رامنځته کېدلی شي چې د نظام د مسؤولینو په شمول د هېواد د مخلصو خلکو د مشورې او بحث مباحثې په پایله کې د راتلونکو شلو کلونو لپاره استراتېژیک اهداف وټاکل شي، او دا بیا په کلونو وویشل شي، او د بهرنیو چارو د وزارت په شمول ټولو وزارتونو او ادارو ته مشخص اهداف ورکړل شي چې د هر کال په تېریدو سره یې باید ترلاس کړي، همدا اهداف د هر وزارت د کامیابۍ او ناکامۍ معیارونه او شاخصونه وي، دا وزارتونه او ادارې د همدې اهدافو د تحقق او عدم تحقق پر بنسټ محاسبه شي، هېواد د جمعي ادارې په لور یوړل شي، وزارتونو ته ټارګېټونه

ورکړل شي، او بیا د هغوی د تحقق لپاره ورته د فعالیت ازادي ورکړی شي، او په وړو وړو کارونو کې د چا له لوري مداخله و نه شي، خو د کال په پای کې د ټاکلو اهدافو د تحقق او عدم تحقق په اړه واقعي راپور وړاندې شي چې په پایله کې یې باید د وزارت په مسؤولیت کې د وزیر د پاتې کېدو او نه پاتې کېدو په اړه باید فیصله وشي.

**څلورم: خپل مصداقیت ساتل**

څلورمه قضیه چې ډېره مهمه ده هغه د خپلو وعدو مصداقیت ساتل دي، د بهرنیو اړیکو د قوي کولو لپاره یوه بنسټیزه اړتیا د خپلو وعدو مصداقیت ساتل دي، که د بېلابېلو قضیو په اړه هغه څه عملي نه کړی شي چې د بهرنیو هېوادونو سره پرې ژمنه کېږي دا به په اوږد مهال کې د بهرنیو چارو وزارت مصداقیت ته ډېر زیان ورسوي، چې دا به په پای کې یوازې د بهرنیو چارو د وزارت حیثیت زیانمن نه کړي بلکې د ټول اسلامي امارت حیثیت به د ستونزو سره مخ کړي.

**پنځم: متوازنې اړیکې یا بې پرې سیاست**

په دې کې شک نشته چې نړۍ د یو قطبي حالت څخه د وتلو په حال کې ده، او د څو قطبي کېدو حالت ته روانه ده، په داسې حالاتو کې یو طرفه سیاستونه د افغانستان په څېر یو د هېواد لپاره ډېر زیانمن ګرځي چې ډېر ځانګړی جیوپولیتیک موقعیت لري، داسې یو موقعیت چې د دې قطبونو څخه د هر یو لپاره ډېر اړین برېښي، د امریکا متحده ایالتونه فکر کوي چې د چین د اقتصادي کنټرول لپاره، همدا راز د ایران او منځنې ختیځ سره د چین د اړیکو د پیاوړتیا د مخنیوي، او د چین د لوی پروژې (یو کمر بند یوه لار) د بېلابېلو نښلوونکو لارو د کنټرول لپاره د افغانستان سره ښې اړیکې اړینې دي، تر څو له دې لارې وکولی شي چې د چین اقتصادي پراختیا کنټرول کړي، او په ورته مهال کې په افغانستان کې د معادنو او نورو سکتورونو کې د پانګونې څخه یې مانع وګرځي، او په دې توګه یې د نړۍ د قیادت پر سر په سیالۍ کې وروسته پرې ږدي، همدا راز په افغانستان کې د موجودیت له لارې د منځنې ختیځ په لور د چین د پراختیا او غزېدو مخه ونیسي، او په منځنې ختیځ کې د انرژۍ د سرشارو سرچینو له استفادې څخه یې محروم کړي.

د دې تر څنګ امریکا د متحده ایالتونه په سیمه کې د مؤثریت له لارې غواړي چې د چین د اقتصادي پرمختګ د کنټرول لپاره د هغه هېواد په داخل کې ستونزې او شخړې رامنځته کړي، چې د چین لپاره تر ټولو ستره بالقوه ستونزه په شمالي ترکستان کې د ایغوري مسلمانانو ستونزه کېدلی شي، د مسلمانانو په مقابل کې د چین د غلطو سیاستونو له امله دا قضیه د چین لپاره لوی سر درد جوړولی شي، او د امریکا متحده ایالتونه له دې حالت څخه پوره ګټه پورته کول غواړي، او له مودو راهیسې د دې لپاره کار کوي، او د امریکا د متحده ایالتونو له نظره د دې کار د سرته رسولو لپاره یو تر ټولو غوره سنګر افغانستان کېدلی شي، د همدې لپاره یې په تېرو کلونو کې په افغانستان کې د خپلو دایمي اډو د جوړولو هڅې کولې او کله به یې په لوړه کچه د خپل استخباراتي وجود په دوام ټینګار کاوه، همدا د امریکا د متحده ایالتونو د پخواني جمهور رئیس ډونلډ ټرامپ له څرګندونو څخه هم څرګندېږي.

د دې په مقابل کې چین غواړي چې د (One Belt One Road) سترې پروژې[۷] له لارې د نړۍ هېوادونه له ځان سره ونښلوي، او د دې کار لپاره ورته يو تر ټولو بهترینه نښلوونکی لار د افغانستان څخه تېرېږي، چين غواړي د ایران او منځني ختيځ سره خپلې اړيکې د افغانستان له لارې نږدې کړي، او په دې توګه د منځني ختيځ د انرژۍ د زېرمو څخه استفاده وکړي، چې تر ټولو بارز مثال يې د چين او ایران ترمنځ پنځه ويشت کلن تړون دی چې په پايله کې به يې ایران په ارزانه بيه چين ته ګاز او نفت ورکوي او په بدل کې به چين په ایران کې ۴۰۰ مېلیارده ډالر پانګونه کوي[۸]، همدا راز د چين په منځګړیتوب د ایران او سعودي ترمنځ د تفاهم رامنځته کېدل د دې هڅو يوه کړۍ ده.

د دې معنی دا ده چې دا سيمه لکه د پخوا په څېر د نړۍ د سترو ځواکونو لپاره جذابيت لري، او دا ستر هېوادونه دلته مؤثر پاتې کېدل غواړي، خو د متوازنو اړيکو غوښتنه دا ده چې موږ د دې ټولو ستر ځواکونو سره ښې او مثبتې اړيکې ولرو، خو په يو طرفه ډول د هيڅ يو ستر ځواک په لمن کې و نه لوېږو، بلکې خپله ازادي وساتو، خپلې فيصلې د خپلو ګټو پر بنسټ پخپله وکړو، بل چا ته پر دې فيصلو د اغېز اجازه ور نه کړو، په دې لړ کې دا بايد په ذهن کې ولرو چې چين يو داسې ممسک او بخيل هېواد دی چې هيڅکله به هم د دې بخل او امساک سره د نړۍ د قيادت وړتيا ترلاسه نه کړی شي، له بل پلوه چين د تمدن په توګه ـ په غالب ګمان ـ هيڅکله هم د نورو تمدنونو سره د مقابلې توان و نه لري، ځکه چين په حقيقت کې داسې کومې تمدني ځانګړتياوې نه لري چې د نورو لپاره جذابيت ولري، خو د يو لوی اقتصادي ځواک په حيث بلکې د نړۍ د ستر اقتصادي او نظامي ځواک په حيث شايد رامخ ته شي، او دا خو ښکاره خبره ده چې تمدن يوازې د اقتصادي او نظامي ځواکمنتيا نوم نه دی، بلکې د دې تر څنګ د علم معرفت، اخلاقياتو، فلسفې، تعامل او د نرم ځواک په در لودلو سره يو تمدن او يو هېواد د نورو لپاره د منلو وړ ګرځي.

نو يوازې د چين او د چين محوره ایتلاف سره د اړيکو جوړول او پياوړي کول نه زموږ د اقتصادي ستونزو په حل کې همکاري کولی شي، او نه د سياسي اړيکو په پراختيا کې مؤثر رول لوبولی شي، خو په ورته مهال کې چين زموږ په ګاونډ کې پروت يو ستر نظامي او اقتصادي ځواک هم دی چې ورسره د اړيکو خرابېدل افغانستان د ستونزو سره مخ کولی شي، خو بشپړ اعتماد پرې هيڅکله هم نه شي کېدلی، ځکه نه د اعتماد وړ ملګری دی او نه د مصرف لپاره لوی زړه لري، بلکې اړيکې هم بايد ورسره په ډېر احتياط وه پالل شي چې خدای مه کړه د دې اقتصادي اړيکو په پايله کې په راتلونکې کې افغانستان د يو بل ډول استعمار سره مخ نه شي.

---

[۷]. د چين د دې سترې پروژې په اړه د تفصيلاتو لپاره وګورئ: د ويکي پېډيا انګليسي پاڼه چې په ډېر تفصيل سره يې نوموړې پروژه معرفي کړې ده، (Belt and Road Initiative - Wikipedia).

[۸]. د دې لپاره وګورئ: خبر ګزاری تسنيم (منافع سند همکاری ۲۵ساله با چین برای ایران/ ۴۰۰میلیارد دلار سرمایه گذاری در راه است- اخبار اقتصاد ایران - اخبار اقتصادی تسنیم Tasnim (tasnimnews.com)) د ۱۴۰۱هـ ش کال د دلوې د مياشتې ۲۵ نېټه.

چین په سیمه او نړۍ کې د اقتصادي پراختیا لپاره په طبیعي توګه د همکاریو او اړیکو د پراختیا لپاره لیوالتیا لري، په ورته مهال کې د سیمې څخه د امریکا د متحده ایالتونو د لرې ساتلو په هڅه کې هم دی، تر څو ورته په داخل کې امنیتي ستونزې را ولاړې نه کړي، له دې امله د چین سره د اړیکو د پراختیا او پیاوړتیا په لړ کې شاید ډېر کوښښ او جهد ته اړتیا نه وي، خو دې ته اړتیا ده چې په ډېر مهارت باید مخ ته ولاړ شو، تر څو خدای مکړه په افغانستان کې د سریلانکا او څه نورو افریقایي هېوادونو تجربه تکرار نه شي چې په چین باندې د اعتماد له امله یې ازادي هم د ګواښ سره مخ شوه، د چین سره د اقتصادي اړیکو په اړه د مهاتیر محمد په وخت کې د مالیزیا تجربه هم د څېړنې وړ تجربه ده.

له بل پلوه، سره له دې چې د امریکا متحده ایالتونه یو ظالم او ښکېلاکګر هېواد دی، خو تر اوسه هم په نړۍ کې اغیزمن رول لري، د نړۍ د اوسني ستر هېواد سره ښې اړیکې هم د هېواد د اقتصادي ستونزو په کمولو کې اغیزمن رول لوبولی شي او هم په سیاسي ډګر کې پرې ډېرې ګټې مرتبېږي، او د هغه سره خرابې اړیکې ډېرې ستونزې هم رابرسېره کولی شي، خو په دې فکر په کار دی چې د چین د کنټرول پرته او د نورو هېوادونو ته د ضرر رسولو پرته هغه کوم میدانونه دي چې د نړۍ د دې ستر هېواد سره د افغانستان مشترکات کېدلی شي، دا باید ولټول شي چې هغه کوم ګډ میدانونه دي چې په کې د امریکا د متحده ایالتونو سره د اړیکو د جوړولو امکانات وجود لري، زما له نظره خو داسې میدانونه شته چې د ګډو همکاریو وسیله ګرځېدلی شي (په دې اړه بحثونو ته اړتیا شته چې دا میدانونه مشخص کړی شي)، او د دې میدانونو لټول له دې امله اړین دي چې موږ خو په هر حال د امریکا د متحده ایالاتو سره ښو اړیکو ته اړتیا لرو خو د دې اړیکو محور باید هیڅکله هم دا نه وي چې افغانستان د هغه هېواد د لاس آله وګرځي تر څو یې د نورو پر ضد استعمال کړي، له دې پرته باید موږ هغه میدانونه مشخص کړو چې د امریکا د متحده ایالتونه په کې خپلې ګټېویني او دلچسپي په کې لري، د دې دوامداره دلچسپۍ رامنځته کول د هېواد اړتیا ده، همدې ته موږ متوازنې اړیکې وایو چې د نړۍ د سترو ځواکونو دلچسپي په افغانستان کې دوامداره وساتو خو د دوی ترمنځ په روانو شخړو کې د هیڅ یو طرف و نه نیسو، د اړیکو په اړه بې پرواه پاتې کېدل، او د دې سترو ځواکونو سره د اړیکو په اړه بې تفاوته پاتې کېدل هیڅکله هم د توازن معنی نه افاده کوي.

سره له دې چې په اوسنیو شرایطو کې د امریکا د متحده ایالتونو لومړیتوب به دا وي چې که په سیمه کې خپل مؤثر استخباراتي شتون یقیني کړي تر څو دا مهمه سیمه د هغه له نفوذ څخه وتلې نه وي، او د چین محوره ایتلاف او امریکا د متحده ایالتونو ترمنځ د نړۍ د قیادت پر سره په دې مسابقه کې ډېر امکانات په لاس کې ولري، خو که دلته داسې استخباراتي شتون حفظ نه کړی شي، نو بیا به یې ترجیح دا وي چې دلته په دې سیمه کې داسې جنګونه رامنځته کړي چې منطقه بې ثباته کړي، او خپل حریف هېوادونه په دې جنګونو کې رانښکیل کړي، او خپل حریف هېوادونه په هغه حالت کې ښکیل کړي چې د افغانستان څخه له وتلو مخکې په کې امریکا پخپله ښکیل وه، د افغانستان د بهرنیو اړیکو یو بنسټیز هدف باید دا وي چې د امریکا متحده ایالتونه په مثبت ډول په افغانستان کې ښکېل

وساتي، هغه میدانونه ولټول شي چې په هغه کې ښکېلتیا د امریکا د متحده ایالتونو لپاره هم ګټور دي او افغانستان د نیابتي جنګونه ډګر هم نه ګرځوي.

دې هدف ته د رسېدلو لپاره د اوسني ښه فرصت څخه باید ښه استفاده وکړو، او هغه داسې چې د امریکا متحده ایالتونه په اوسنیو شرایطو کې د ډېر نظامي فشار د واردولو ډېر واک او ځواک په لاس کې نه لري، ځکه چې د افغانستان ګاونډي او د سیمې نور هېوادونه په سیمه کې د جنګ او بې امنیو څخه په تنګ دي، همدا راز په سیمه کې د امریکا د متحده ایالتونو پوځي شتون ټول هېوادونه په خپل زیان بولي، (خو د دې امکان شته چې د پاکستان د اقتصادي ستونزو د حل په بدل کې د پاکستان اردو او استخبارات د بیا لپاره په افغانستان کې د امنیتي ستونزو د رامنځته کولو لپاره په کار واچول شي، خو د دې تدارک ممکن دی) په دې توګه په افغانستان باندې د امریکا د متحده ایالتونو لپاره د فشار د واردولو ډېره زیاته زمینه نه ده برابره، خو د دې معنی دا نه ده چې اوس دا زمینه نه ده برابره نو دا فرصت به موږ همېشه په لاس کې ولرو، بلکې دا حالات بدلېږي را بدلېږي، نو موږ باید د دې فرصت څخه داسې ګټه پورته کړو چې له یوې لورې په خپل هېواد د بل جنګ د مسلط کولو مخه ونیسو او له بلې لورې د داسې حل لارو د مسلط کولو مخه ونیسو چې د نورو په خوښه به پر موږ مسلط کېږي، او دا کار د دوه ګامونو په پورته کولو کولی شو:

لومړی: موږ باید د نړۍ د هېوادونو سره متوازنې اړیکې وساتو، موږ باید د امریکا د متحده ایالتونو او غرب سره اړیکې سړېدو ته پرې نهږدو، بلکې د نړۍ د ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه د غربي نړۍ سره د دپلوماتیکو اړیکو په جوړولو تر اخیري بریده ټینګار وکړو، ځکه یوازې د چین او روسیې د محور سره اړیکې پیاوړې کول موږ بیا یو غیر متوازن حالت ته وړلی شي، موږ باید د دې دواړو محورونو سره متوازنې اړیکې ولرو.

دویم: په هېواد کې داسې حالت رامنځته کړو چې د ملت د زیاتې برخې همکاري او اعتماد را جلب کړو، په ملي مشروعیت کار وکړو، او د یو څو سیاسي او نمایشي کارونو پر ځای د ټولنې عام وګړي را خپل کړی شي، هغه خلک چې ټولنه بې ثباته کول غواړي عام خلک باید د هغوی څخه را جلا کړل شي، او دا کار باید مخکې له دې وشي چې د ظروفو او حالاتو د فشار په پایله کې ورته اړ کېږو.

د دې ترڅنګ زموږ په سیمه کې د سیمې د هېوادونو ترمنځ کړکېچونه دې ته زمینه برابروي چې د خپلو ستونزو حل او د حساباتو تصفیه د افغانستان په خاوره سره وکړي، تر څو خپل جنګونه د خپلو هېوادونو د سرحدونو څخه بهر پرمخ یوسي، په دې لړ کې د هند او پاکستان ترمنځ ستونزې دواړه دې ته هڅوي چې په افغانستان کې مؤثر رول ولري، او د افغانستان د خاورې څخه یو د بل پر ضد استفاده وکړي.

همدا راز د سیمې نور هېوادونه په خپلو کې ستونزې لري، خپلې شخړې لري، او غواړي له هرې ممکنې لارې خپلو ګټو ته ځان ورسوي، چې یو ډېر څرګند مثال یې د ایران او سعودي عربستان ترمنځ ستونزې دي (د سلفي او رافضي سیاسي جګړې) بل مثال یې د قطر او سعودي ترمنځ ستونزې، او د

عربي اماراتو او قطر ترمنځ ستونزې اوشخړې دي، موږ د دې ټولو هېوادونو سره متوازنې اړيکې غواړو او بايد د دې لپاره کار وکړو، خو په هيڅ قضيه کې بايد د هيڅ چا لپاره آله و نه ګرځو، او نه بايد چا ته د دې فرصت ورکړو چې نه په لنډمهال کې او نه په اوږد مهال کې د يو هېواد لپاره د بل هېواد پر ضد کړنې تر سره کړو، زموږ دريځونه او اړيکې بايد داسې ترسيم شي چې زموږ د هېواد او ملت لوړې ګټې خوندي کړي، او همدا يې بايد تر ټولو بنسټيز معيار وي، وروسته له دې چې دا وکتل شي چې په کې شرعي محظور وجود و نه لري.

د متوازنو اړيکو کوم سياست چې اوس مخ ته وړل کېږي دا د وخت اړتيا او د هېواد ضرورت دی، او د سياست په اړه يوه ډېره په زړه پورې تګلاره ده، خو دا تګلاره هغه وخت کاميابېدلی شي چې د دې تګلارې اړتياوې په نظر کې ونيسو، او د دې تر ټولو بنسټيزه اړتيا دا ده چې خپله د ضعف نقطه د بل چا په لاس کې پرې نه ږدو، او د ضعف تر ټولو ستره نقطه دا ده چې نورو هېوادونو ته دا فرصت تر لاسه وي چې خپل افغانان را ته په لاس کې ونيسي، او دا هغه وخت نورو هېوادونو ته په لاس ورځي چې موږ ټول افغانان په نظام کې را ټول نه کړی شو!.

**ثالثا: د نورو هېوادونو سره د مثبتې ښکېلتيا اړوند لومړيتوبونه**

په اوسنيو شرايطو کې يو لړ قضيې دي چې د هېواد لپاره استراتيژيک حيثيت لري او بايد چې د بهرني سياست د اهتمام مرکز وي، بايد په اوس مهال کې د بهرني سياست لومړيتوبونه وه اوسېږي، په ورته مهال کې دا هغه قضيې دي چې موږ له دې لارې د نړۍ بېلابېل هېوادونه د افغانستان سره د مثبتو اړيکو درلودلو ته هڅولی شو، له دې امله دې ته موږ د نورو هېوادونو سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتيا لپاره لومړيتوبونه وايو، له همدې پلوه دا قضيې ستراتيژيک حيثيت لري او له دې امله هم دا قضيې مهمې دي چې دا زموږ د هېواد او هېوادوالو په ژوند مثبت او منفي اغېز لري، په دې کې دا لاندې قضيې ډېرې مهمې دي.

**لومړی: سيمه ييز اتصال**

په افغانستان کې د با ثباته او دائمي امنيت لپاره دا اړين دي چې موږ بايد په دې هېواد کې آرامي، امنيت او استقرار د سيمې د هېوادونو ضرورت وګرځوو، په دې معنی چې د سيمې د ټولو هېوادونو حياتي ګټې د افغانستان سره وتړو تر څو دلته د امنيت د خرابېدو په صورت کې د دې هېوادونو خپلې حياتي ګټې اغېزمنې شي، تر څو د افغانانو څخه دوی د افغانستان د امنيت په اړه زيات فکرمند وه اوسېږي، او هيڅکله هم په افغانستان کې د ګډوديو د رامنځته کولو تصور هم و نه کړي، او دا کار موږ په دې توګه کولی شو چې افغانستان د سيمه ييز اتصال په مرکز بدل کړو، افغانستان بايد د منځنۍ آسيا او جنوبي آسيا ترمنځ د وصل نکته وګرځي، همدا راز د چين او ايران، د چين او منځني ختيځ ترمنځ د اتصال نکته وګرځي، افغانستان بايد د دې سيمو پر امنيت مثبت اغېز ولري، په امنيتي ترړونونو کې مثبت رول ولري، افغانستان بايد منځنۍ آسيا، چين، منځني ختيځ او د جنوب ختيځې آسيا او نورو سيمه ييزو کلتورونو لپاره د التقاء نقطه وګرځي.

د افغانستان له لارې باید د دې سیمو ترمنځ سوداګریز توکي تبادله شي، افغانستان باید د اورګاډي د پټلۍ او سوداګریزو لارو په وسیله د سیمې هېوادونه سره ونښلوي، افغانستان باید په سیمه کې په یو سوداګریز مرکز «Hub» بدل شي، همدا راز افغانستان باید د هغه هېوادونو څخه چې د انرژۍ (برق، نفت او ګاز) زیاتې زیرمې او امکانات لري هغه هېوادونو ته د انرژۍ د انتقال لپاره د اتصال په مرکز بدل شي چې د نړۍ په کچه د انرژۍ په مصرف کې تر ټولو ستر هېوادونه شمېرل کېږي، لکه هند او چین.

د دې ترڅنګ دا سیمه ییز اتصال د افغانستان په اقتصادي وضعیت باندې خورا ستر اغېز لري، ځکه کله چې افغانستان د تجارتي مالونو، انرژۍ او ترانسپورتي خدماتو په مرکز بدل شي نو دلته به د دې په پایله کې د افغانستان د خلکو لپاره بې شمېره کاري فرصتونه برابرېږي چې دا د افرادو او کورنیو په اقتصادي وضعیت ډېره زیاته اغېزه لري، همدا راز د ترانزیت څخه چې کوم عوائد لاس ته راتللی شي هغه د هېواد د بودیجې لپاره یو ستر مصدر ګرځېدلی شي.

کله چې د کوم هېواد اقتصاد مستحکم وي، او د اقتصادي پیاوړتیا اثرات عام وګړي ته ورسېږي، په هېواد کې کاري فرصتونه وجود ولري، د خلکو ژوند هوسا وي هلته بیا څوک په اسانۍ سره لاس وهنه هم نه شي کولی، او نه د هغه هېواد ځوانان څوک بې لارې کولی شي.

نو په اوسنیو شرایطو کې د هېواد د بهرنیو چارو د وزارت یو ستر مسؤولیت دا دی چې د دې پورته هدف د لاس ته راوړلو لپاره کار وکړي، خو دا یاد ساتل په کار دي چې دا کار هغه وخت شونی دی چې د هېواد او نظام په دننه د دې لپاره ذهني امادګي وجود ولري او د نظام د بېلا بېلو برخو ترمنځ همغږي وجود ولري.

**دویم: اقتصاد محوري**

یو د هغه قضیو څخه چې زموږ د بهرنیو اړیکو د مثبتې ښکېلتیا لپاره لومړیتوب وګرځول شي د افغانستان د اقتصادي اړیکو پیاوړتیا او د اقتصاد په رغونه کې مؤثر رول لوبول دي، د اقتصادي سکتوري وزارتونو (د اقتصاد وزارت، د معادنو او پترولو وزارت، د تجارت وزارت او داسې نورو) لپاره د اقتصادي اړیکو د پیاوړي کولو زمینه برابرول دي، د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره باید اقتصادي اړیکې، سوداګریزه ډپلوماسي، د نړۍ د هېوادونو سره په عام ډول او د ګاونډیو هېوادونو سره په ځانګړې توګه سوداګریزې اړیکې جوړول، بانکي سیستمونه اعاده کول، د بیروني پانګونې راجلبول مهم ګامونه ګڼل کېږي، په دې اقتصاد محوره او تجارت محوره بهرنیو اړیکو کې بې شمېره ګټې پرتې دي چې شاید دلته یې یادونې ته اړتیا نه وي ځکه دا یو څرګند حقیقت دی، د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره دا اړین دي چې د کور دننه موږ د دې هدف د لاس ته راوړلو لپاره ظروف او حالات برابر کړي وي، که موږ دا هدف وټاکو خو د کور دننه سیاست مو د دې د غوښتنو سره سم نه وي عیار کړی بیا دا هدف نه شي ترلاسه کېدلی، د دې تر څنګ د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره لاندې کارونه اړین دي چې باید په اوسنیو شرایطو کې د بهرنیو اړیکو لپاره د لومړیتوبونو په توګه وټاکل شي:

۱. د اړونده ادارو، وزارتونو او د افغانستان بانک په همکارۍ د افغانستان د بانکي سیستمونو فعالول، او د بهرنیو هېوادونو د بانکي سیستمونو سره د افغانستان د بانکونو د اړیکو عادي کول، تر څو په عادي توګه د نړۍ سره راکړه او ورکړه اسانه شي.

۲. د افغاني تولیداتو لپاره بازار موندنه باید یو د هغه اهدافو څخه وي چې د اړوند وزارتونو په همکارۍ او همغږۍ د افغانستان د بهرنیو اړیکو په لومړیتوب کې قرار ولري، موږ باید هغه زراعتي تولیدات بهرنیو مارکیټونو ته ورسوو چې زموږ بزګران یې په ډېرو ستونزو د ځمکې څخه ترلاسه کوي، همدا راز که موږ دلته تولیدي کارخانې ولرو د هغوی محصولات هم باید په بهرنیو مارکیټونو کې عرضه کړو، تر څو د سوداګرۍ انډول کنټرول کړو، او یوازې یو استهلاکي ملت نه اوسو.

۳. بهرنۍ ډیپلوماسي باید د دې لپاره په کار واچولی شي چې موږ لوی شرکتونه د خپلو شرطونو سره سم پانګونې ته وهڅوو، په ځانګړې توګه په مهمو خدماتي سکتورونو کې لکه د انرژي سکتور، د خدماتو سکتور، د زیربنا په برخه کې، د زراعت، مالدارۍ او صنعت په برخه کې، او عمومي پالیسي باید دا وي چې موږ د خامو موادو د خرڅولو پر ځای د هېواد په دننه کې تولیدي اقتصادي فعالیتونه تشویق کړو، او خلک په صنعت کې پانګونې ته وهڅوو.

۴. په دې برخه کې باید دې ته متوجه واوسو چې د بیا لپاره په یو هېواد په ځانګړې توګه په داسې یو هېواد چې په دیني لحاظ زموږ ټولنه زیانمنه کوي بشپړ اعتماد ونه کړو، که لږ یې په صراحت سره ووایو چې یوازې په چین باندې په دې لړ کې اعتماد به زموږ هېواد د یو بل بهرني یرغل په درشل کې ودروي، همدا راز دا به په اقتصادي لحاظ د افریقایي هیوادونو او جنوب شرق آسیا د هیوادونو په ځانګړې توګه د سریلانکا تجربه تکرار کړي.

۵. د افغانستان بهرنۍ سیاسي نماینده ګۍ باید د پانګونې د تسهیل په مراکزو بدل شي که وکولی شو چې په سفارتونو او نماینده ګیو کې داسې وړ کسان وګمارل شي چې د اړوند هېوادونو شتمن خلک د بېلا بېلو پروګرامونو له لارې په افغانستان کې پانګونې ته تشویق کړي.

۶. په اوسنیو شرایطو کې د هېوادونو د عایداتو د سترو سرچینو څخه یو هم سیاحت او توریزم دی، موږ ډېر غني تاریخ لرو، دا د عامو مسلمانانو سره د اړیکو د جوړولو لپاره هم ښه وسیله ده

۷. په داخل کې باید د داسې قانون جوړونې لور ته ولاړ شو چې د بهرنۍ پانګونې د را جلبولو وسیله وګرځي، داسې قانون سازي چې له یو پلوه د پانګونې لپاره ښه بستر مهیا کړي، او له بل پلوه د پانګونې او د سرمایې د انتقال لارې چارې ساده او اسانې کړي، او په ورته مهال کې هغه ویره له منځه یوسي چې پانګوال یې په عام ډول د ځان سره لري، په عربي کې یو متل دی چې وایي: "رأس المال جبان" سرمایه ډېر بې زړه شی دی، یعنې چېرته چې لږ ګواښ هم ورته متوجه وي هلته نه ځي، نو موږ باید د قانون جوړونې له لارې د پانګوالو وېره له منځه یوسو.

**دریم: د اوبو قضیه**

یو له هغه قضیو څخه چې د ګاونډیو هېوادونو سره زموږ د اړیکو د خرابېدو لامل ګرځي د افغانستان د اوبو د کنټرول قضیه ده، دا باید په اوس مهال کې د مثبتې ښکېلتیا لپاره لومړیتوب ولري، د اوبو قضیه که له یوې خوا امنیتي ستونزې او مشکلات زیږوي له بلې خوا د اوبو او بریښنا په بندونو او

تأسیساتو کې د نړیوالو ادارو د پانګونې په مخ کې خنډ ګرځي، د ایران، پاکستان او منځنۍ آسیا د هېوادونو سره د اوبو شخړه باید یو د هغه بنسټیزو قضیو څخه وي چې د بهرنیو اړیکو محور تشکیل کړي، د دې کار لپاره تر هر څه دمخه اړینه ده چې یوه داسې علمي کمیټه تشکیل شي چې د اوبو اړوند متخصصینو او د اوبو اړوند نړیوالو قوانینو کې تخصص لرونکي شخصیتونه په کې ګډون ولري، دا ملي کمیټه باید یوه داسې پالیسي ترتیب کړي چې زموږ د ملي ګټو ساتونکې وي او د نړیوالو قوانینو سره هم په ټکر کې نه وي، او بیا پرې د ملت د مخورو خلکو تأیید هم واخیستل شي، دا سند باید د اوبو اړونده مذاکراتو کې موږ لپاره لارښوونکي اصول وټاکي او په دې اړه سره خطونه معلوم کړي چې په هیڅ صورت ترې باید تنازل و نه شي، او د همدې ملي سند د روح سره سم موږ باید د اوبو اړوند شخړو ته د پای ټکی کېږدو.

**څلورم: د عسکریت او مسلحو مقاومتونو او تروریزم قضیه**

د نورو هېوادونو اړوند د مسلحو مقاوتي ډلو قضیه د مثبتې ښکېلتیا لپاره یوه بله مهمه قضیه ده، او اسلامي امارت یې ورته باید په لومړیتوبونو کې ځای ورکړي، دا قضیه یوه داسې مهمه قضیه ده چې د افغانستان راتلونکې ورسره تړلې ده، په دې معنی چې هېوادونه او په ځانګړې توګه د سیمې هېوادونه دې ته سترګې په لاره دي چې په دقیق ډول په دې پوه شي چې اسلامي امارت به د هغه ډلو په اړه څه دریځ غوره کوي چې په خپلو هېوادونو کې د مسلح مقاومت او یا هم د عسکري فعالیتونو له لارې بدلون راوستل غواړي، دا ډول عسکري فعالیتونه به د اسلامي امارت لپاره د منلو وړ وي؟ که اسلامي امارت به د دوی په اړه کوم بل ډول دریځ غوره کوي؟

په دې کې شک نشته یو شمېر هغه خلک چې نړیواله اجنډا لري او په اسلامي نړۍ کې د دوی په اصطلاح د غرب د ګوډاګي رژیمونو پر ضد او په اسلامي نړۍ کې د امریکا د متحده ایالتونو د موجودیت پر ضد د مسلح مقاومت او عسکري فعالیتونو پر تګلاره روان دي خو عموما خارجي او تکفیري فکر نه لري، د مقاومت په موده کې د دې ډلو سره اړیکو ډېرې منفي پایلې نه درلودې. خو د نظام د جوړېدو وروسته څه داسې التزامات او مسؤولیتونه د نظام او دولت پر اوږو را برېوځي چې زړه به یې نه غواړي خو د نظام د ساتلو لپاره به اړین او ضروري وي، په دې اړه هم تشویشونه وجود لري چې ایا اسلامي امارت د دې ډول قضیو سره تر اوسه پورې د یوې مقاومتي ډلې په څېر تعامل کوي که د یو داسې نظام په توګه چې مسؤولیت منونکی دی، خپل نړېوال التزامات درک کوي او سر ته یې رسوي؟

دا قضیه بیا هم کورنۍ همغږۍ ته اړتیا لري چې د بهرنیو چارو وزارت په بهر کې د دې دریځ ترجماني کولی شي، خو د داسې سیاستونو خپلول بیا د اسلامي امارت د مشرتابه او د مؤثرو شخصیتونو مسؤولیت دی.

د دې ترڅنګ چې کومه بله قضیه د سیمې د هېوادونو او نړېوالو له لورې د تروریزم تر عنوان لاندې مطرح کېږي هغه د «داعش» قضیه ده، دا قضیه خو کله د یو شمېر نړیوالو څواکونو له لورې د فشار د وسیلې په توګه استفاده کېږي، او کله هم د ګاونډیو هېوادونو له لورې د یو واقعیت په توګه مطرح

کېږي، او د داسې ډلو د مهارولو په اړه د اسلامي امارت د هوډ په اړه پوښتنې راپورته کوي، او دا څکه چې د داعش ګواښ او د دې ګواښ کنټرول، همدا راز د دې ډول نورو سخت دریځو ډلو مخنیوی د سیمې او نړۍ لپاره یوه مهمه او بنسټیزه موضوع ده، او ښه خبره دا ده چې د دې قضیې په اړه د اسلامي امارت په صف کې بشپړه همغږي وجود لري، دا قضیه باید یوه د هغو محوري قضیو له جملې څخه یوه وي او د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت دا باید په خپلو لومړیتوبونو کې ونیسي چې نړۍ او ګاونډیو ته ډاډ ورکړ شي چې اسلامي امارت دې ستونزې ته متوجه دی، او د دې ستونزې د حل توان په ځان کې لري، دا باید په قوت سره د نړۍ او سیمې هېوادونو سره مطرح کړی شي تر څو له دې پلوه د هېوادونو له لورې اسلامي امارت متضرر نه شي.د اوسنیو حالاتو لپاره د بهرني سیاست په لومړیتوبونو کې کېښودل شي، او د هغه کوښښونو یادونه وشي چې اسلامي امارت یې په دې لړ کې سرته رسوي.

**پنځم: د نړیوالی اجنډا نه درلودل**

هغه هېوادونه یا ډلې چې نړیواله اجنډا ولري عموما په نورو هېوادونو کې لاس وهنه خپل حق ګڼي، او له همدې امله په نورو هېوادونو کې خپلې هم فکره ډلې د هغه هېوادونو د امنیت د له منځه وړلو لپاره کاروي، لکه په مخکې وختونو کې شوروي اتحاد او کمونست ګوند چې په هر هېواد کې به یې د کارګرانو د انقلاب تر نامه لاندې ستونزې رامنځته کولی چې زموږ هېواد د همدې بدمرغۍ ښکار شو، او یا هم د ایران د دوی په اصطلاح اسلامي انقلاب چې په ټوله اسلامي نړۍ کې یې د همدې نړیوالې اجنډا (چې اهل تشیع د اسلامي امت د قیادت زیات حقدار دي چې تمثیل یې د ایران اسلامي جمهوریت کوي) تر نامه لاندې د جنګونو اورونه بل ساتلی دي، تر دې چې په هغه هېوادونو کې هم د خپلو اغیزو زیاتولو کوښښ چې هلته د اهل تشیع وجود اصلا نشته لکه مالیزیا، اندونیزیا او ګڼ شمېر افریقایي هېوادونه.

څه هېوادونه همداسې وېره د اسلامي امارت په اړه هم لري، په ځانګړې توګه کله چې څه داسې خلک په صفونو کې لیدل کېږي چې په نړۍ کې او ځانګړې توګه په اسلامي نړۍ کې د غربي ښکېلاک پر ضد د نړیوالې جبهې خبره کوي، نو دا تشویشونه نور هم تقویه کېږي موږ د خپلو بهرنیو اړیکو له لارې باید دې هېوادونو ته ډاډ ورکړو چې د افغانستان اسلامي امارت کومه نړیواله اجنډا نه لري، په اوسنیو حالاتو کې موږ که د خپل جنګ ځپلي هېواد په خپلو پښو د درول جوګه شو دا هم لویه خبره ده.

د دې تر څنګ کله کله څه اصطلاحات داسې معناګانې او اشارې د ځان سره لري چې په دې اړه نور هېوادونه په تشویش کې اچوي، او نړیوال او ګاونډیان داسې تصور کوي چې کېدلی شي دا به د کومې نړیوالې اجنډا برخه وي، د بېلګې په توګه د اسلامي امارت د زعامت نوم د دولت د رئیس، د

رهبریت مقام، او داسې نورو څخه «امیر المؤمنین»[۹] ته بدلول او یا د هېواد رسمي نوم د افغانستان د اسلامي دولت څخه د اسلامي امارت ته بدلول، دا ډول کلمات چې عملا کومه ګټه پرې نه مرتبېږي خو ستونزې رامنځته کوي، له دې امله که دا ممکن وي چې په دې اړه مقاصدي تفکیر وشي نو بهتره به وي.

همدا راز د بهرنیو چارو د وزارت دنده او مسؤولیت دی چې نړیوالو او سیمه ییزو هېوادونو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت کومه داسې سیمه ییزه او یا نړیواله اجنډا نه لري، چې په هېوادونو کې حالات ګډوډ کړي او مسلح مقاومتونه تقویه کړي، اسلامي امارت یوازې د افغانستان د رفاهیت او د یو کامیاب هېواد په حیث په خپلو پښو د درولو لپاره کار کوي، نه د هېوادونو د نیولو او په زوره د لاندې کولو کوم تصور ورسره شته او نه په هغه هېوادونو کې د اړو دوړ د جوړولو کوم پلان لري. که په دې اړه د اسلامي امارت له داخل څخه د بهرنیو چارو وزارت ملا وتړل شي او همکاري ورسره وشي دا تشویشونه به له بنسټه څخه له منځه ولاړ شي.

**شپږم: د نړیوالو سرحدونو لانجې**

یوه بله قضیه چې د ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان د مثبتې ښکېلتیا زمینه برابروي او باید په اوس مهال کې باید په لومړیتوبونو کې ورته ځای ورکړ شي هغه د سرحدي ستونزو قضیه ده، دا خو څرګنده ده چې موږ یو لړ سرحدي ستونزې د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو سره لرو، په تېرو کلونو کې دې ستونزو موږ د ډېرو کړاونو سره مخ کړي یو، همېشه دې هېوادونو د افغانستان د ضعف په حالت کې د خپلې خوښې حل د مسلط کولو کوښښ کړی دی، کوم سرحدونه چې لانجمن دي او اوس یې حل ممکن نه دی، لکه د ډیورنډ کرښه، همدا راز لکه د پنجده سیمه چې په ۱۸۸۲م کې روسانو نیولی ده د اوس لپاره د فشار د یوې وسیلې په توګه ترې استفاده وشي چې زموږ ګاونډیان د داسې اقداماتو څخه منع کړي چې د افغانستان استقرار ته زیان رسوي، خو په ورته مهال کې داسې مرحلې ته هم ونه رسېږي چې له دې اړخه بیا متضرر شو، او ګاونډیان په دې اړه د فشار د اچولو لپاره زموږ په داخلي امورو کې د لاسوهنو لپاره زړه ښه کړي.

**اووم: غیر قانوني هجرتونه**

یو د هغه قضیو څخه چې نړۍ ورسره لاس او ګرېوان ده هغه د غیر قانوني هجرتونو قضیه ده، او ډېر هجرتونه په دې ورستیو وختونو کې د افغانستان څخه سرچینه نیسي، موږ په دې اړه مسؤولیتونه لرو

---

۹. د امام الحرمین الجویني د عباراتو څخه هم همدا څرګندېږي چې هغه القاب چې د مسلمانانو د خلیفه او امام لپاره ځانګړی دي هغه وخت د یو چا لپاره باید استعمال شي چې ټول مسلمانان پرې راټول وي، امام الحرمین وایي: «ولكن خلا الدهر عن إمام في زمن فترة، وانفصل شطر من الخطة عن شطر، وعز نصب إمام واحد، يشمل رأيه البلاد والعباد، فنصب أمير في أحد الشطرين للضرورة في هذه الصورة، ونصب أمير في القطر الآخر منصوب، ولم يقع العقد الواحد على حكم العموم، إذا كان يتأتى ذلك، فالحق المتبع في ذلك أن واحدا منهما ليس إماما، إذ الإمام هو الواحد الذي به ارتباط المسلمين أجمعين» «غياث الأمم في التياث الظلم» (ص۱۷۷)

چې د خپلو خلکو لپاره د کار او شغل فرصتونه برابر کړو، د ښه ژوند لپاره ورته امکانات برابر کړو، نور متضرر هېوادونه د دې اړتیا لري چې پر هغوی د غیر قانوني هجرتونو فشار راکم شي دا قضیه د بېلا بېلو هېوادونو سره د خبرو اترو او ګډو پروګرامونو د مطرح کولو یوه قضیه کېدلی شي چې د بهرنیو چارو وزارت یې باید په خپلو لومړیتوبونو کې ونیسي.

**اتم: د جنګي جرایمو او جنګي تاوان دوسیه**

موږ دې ته اړتیا لرو چې د تېر شل کلن اشغال په جریان کې چې کوم جنګي جرایم د امریکا او د هغې د متحدینو له لورې په افغانستان کې سرته رسېدلي هغه په داسې ډول ډول ثبت شي چې په حقوقي لحاظ ترې وروسته استفاده وشي، د دې دوسیې جوړول د وخت اړتیا ده، که پخپله د بهرنیو چارو وزارت او یا بله کومه رسمي اداره دا کار د حالاتو د نزاکتونو له امله سرته نه شي رسولی کېدلی شي چې د خصوصي سکتور کومه تحصیلي اداره دا کار د یو ځانګړي میکانیزم له لارې سرته ورسوي، خو په دې شرط چې د بهرنیو چارو د وزارت په څېر یو اړخ یې تر شا ولاړ وي او حمایت یې وکړي، دا کار که په عاجله توګه سرته و نه رسېږي هغه اسناد او مدارک چې په حقوقي لحاظ ګټور واقع کېدلی شي له منځه ځي، که اوس ترې استفاده هم و نه کړی شي نو د فشار د واردولو لپاره به یو مهم سند په لاس کې ولرو، او که بالفرض هیڅ استفاده هم ترې و نه شي نو کېدلی شي چې وروسته د یو تاریخي سند په حیث نړیوالو سره شریک کړی شي او د استعماري قوتونو ظالمانه کړنې نړیوالو ته څرګندی کړی شي.

په اوس مهال کې د افغانستان بهرنی سیاست هغه وخت د کامیابۍ پوړونه سر کولی شي چې دا لومړیتوبونه په نظر کې ونیسي، هم په موخو او اهدافو کې لومړیتوبونه په نظر کې ولري، او هم د سیاسي اړیکو د رامنځته کولو اړوند لومړیتوبونه هم په پام کې وساتل شي، او هم د نورو هېوادونو سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتیا اړوند لومړیتوبونه په نظر کې ولري، د دې ترڅنګ د بهرني سیاست د کامیابۍ بل شرط دا دی چې د هېواد د واقعیتونو څخه نمایندګي وکړي، په دې اړه د اسلامي امارت د مشرتابه، مسؤولینو او د بهرني سیاست د ترسیمونکو ترمنځ همغږي وجود ولري، د بهرنیو چارو وزارت د سیاستونو رامنځته کونکی ارګان او اړخ نه دی، دا یوازې د هغه څه نه د دفاع مسؤولیت پر غاړه لري چې د هېواد په دننه کې وجود لري، او د اسلامي امارت له لورې په هېواد کې پلی کېږي، د همدې سیاستونو پر بنسټ د نورو هېوادونو سره د اړیکو د جوړولو هڅې کوي، نو له دې امله د بهرنیو چارو وزارت د کامیابۍ بنسټیز لامل دا دی چې په کور دننه داسې واقعیتونه خپل کړو چې د نړیوالو لپاره ورسره تعامل ممکن وي، او دا هغه څه دي چې په بېلابېلو اړخونو کې یې د لومړیتوبونو تر عنوان لاندې یادونه وشوه، که دا کار و نه شي د بهرنیو اړیکو د جوړولو کار په ډېرې ستونزې په مخ کې ولري.

# د مبارک آیت {وقرن في بیوتکن} راجح تفسیر

استاد محمد نعیم جلیلی[1]
mnjalily@gmail.com
استاد عبدالملک ثاقب[2]
abdulmaliksaqib95@gmail.com

**د څېړنې لنډیز**

په دې لنډه څېړنه کې د سورت احزاب د (۳۳) ایت د تفسیر په اړه د یوې ناسمې انګېرنې د سمونې هڅه شوې ده، یو شمېر هغه وګړي چې متشابه نصوص (کوم نصوص چې د یو څخه د زیاتو انګېرنو او تفسیرونو احتمال لري) د محکماتو او اسلامي امت د عامو علماو د اتفاقي دریځ په رڼا کې نه فهموي، دوی د دې مبارک ایت لومړی برخه {وقرن في بیوتکن } د ایت د دویمې برخې څخه په مستقل ډول فهموي، او دویمه برخه چې د دې جملې د تفسیر حیثیت لري له دې څخه بېلوي چې په نتیجه کې یې د دې مبارک ایت په تفسیر کې په نا سمه انګېرنه کې پرېوزي، موږ په دې څېړنه کې په ډېر لنډ ډول د دې ناسمې انګېرنې او تفسیر د سمونې هڅه کړې ده، او هغه په دې ډول چې د اسلامي امت د علماو عام دریځ دا دی چې د مباحو کارونو لپاره په شرعي پرده کې د مسلمانو ښځو د کورونو څخه بهر وتل مباح کار دی، همدا خبره د احادیثو څخه هم څرګنده ده، او د فقهاو او د احادیثو د شارحینو د تشریحاتو څخه هم څرګنده ده، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهراتو له تعامل څخه هم همدا معلومېږي، نو دا ټول په دې دلالت کوي چې د ایت لومړی جمله له دویمې جملې څخه جلا کول او دواړه په مستقل ډول فهمول ناسم کار دی.

نو له دې امله د {وقرن في بیوتکن } سم تفسیر هغه دی چې ډېرو مفسرینو خپل کړی دی، او هغه دا چې په ایت کې دویمه جمله { ولا تبرجن تبرج الجاهلیة الأولی} د لومړۍ جملې بیان دی، نو د ایت معنی به دا وي چې «ای مسلمانو ښځو[3]! په کورونو کې قرار پاتې شئ، په دې معنی چې د لومړي جاهلیت د راڅرګندېدو په څېر مه را څرګندېږئ» هدف دا دی چې د تیر جاهلیت په څېر را ښکاره کېدل مسلمانو ښځو ته نا روا دي، خو که ښځې د تیر جاهلیت په څېر نه را څرګندېږي، د هغوی حکم په دې ایت کې نه دی یاد شوی[4]، د دوی حکم بیا په نورو دلائلو باندې ثابت دی چې دا یو روا او مباح کار دی، نو په پای کې دا ویل شوي دي، چې د دی ایت د نا سم تفسیر پر بنسټ د ټولنې یوه لویه

---

[1]. د سلام پوهنتون په شرعیاتو پوهنځي کې د علمي کدر غړی.

[2]. د سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي رئیس

[3]. په هغه صورت کې چې د دې مخاطبې ټولې مسلمانې ښځې وي، او دا خطاب یوازې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهراتو پورې ځانګړی نه وي.

[4]. دا د هغه چا له نظره چې مفهوم مخالف ته په قرآن او سنت کې اعتبار نه ورکوي، لکه حنفي علماء.

برخه د خپلو حقوقو څخه محروموول درست کار نه دی، خو دا سمه خبره ده چې څوک د شرعي آدابو د رعایت څخه پرته له کور څخه بهر وځي هغوی باید متوجه کړای شي

**سریزه**

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله و أصحابه أجمعين وبعد.

موږ د یوې مسلمانې ټولنې په توګه په دې ایمان لرو چې د ژوند په ټولو اړخونو کې په هغه څه التزام د دنیا او آخرت د کامیابی لامل ګرځي چې د الله تعالی له لورې د شریعت په توګه موږ ته راکړ شوي دي، او هغه څه چې د شریعت په توګه رالیږل شوي دي هغه موږ سره یا د نصوصو په شکل کې شتون لري، او یا هم د دې نصوصو څخه د استنباط په شکل کې علماو تدوین کړي دي.

کوم احکام چې په نصوصو کې شتون لري هغه هم په دوه ډوله دي لومړی هغه نصوص چې امت یې په فهم باندې اجماع لري، دا ډول نصوص محکمات بلل کېږي، او په اړه یې هیڅ ډول اختلاف درست نه دی، د بېلګې په توګه د الله تعالی دا مبارک قول چې فرمایي: {وأقيموا الصلاة وآتوا الزكاة واركعوا مع الراكعين} [البقرة: ۴۳] په دې مبارک ایت کې د «الصلاة» او «الزكاة» په معنی د امت اجماع شتون لري چې له دې همدا ځانګړي عبادتونه مراد دي چې هر مسلمان یې سرته رسوي، نو له دې امله له دې څخه بل معنی اخیستل د تحریف معنی لري.

دویم ډول نصوص هغه دي چې د فهم په تعیین او په تفسیر کې یې د امت د علماو ترمنځ د نظرونو تعدد وجود ولري، او د معنی په تعیین کې یې د علماو ترمنځ اختلاف شتون ولري، دا ډول نصوص د اجتهاد یو میدان دی، د دې ډول نصوصو د معنی او مراد ټاکل او مشخص کول، څېړنې او تحقیق ته اړتیا لري، په دې کې شک نشته چې هیڅ څوک د دې حق نه لري چې د دې ډول نصوصو یو فهم پر ټولو خلکو تحمیل کړي، ځکه د دې ډول نصوصو په فهم کې هیڅوک هم حق په خپل احتکار کې نه لری، او نه د دې ادعا کولی شي، مګر هر څوک د دې حق لري چې د دلائلو په رڼا کې خپل نظر او د نصوصو څخه خپل فهم د خلکو سره شریک کړي، او د خپل فهم د ترجیح ټول دلائل په پوره قوت سره د علماو او ټولو خلکو په مخ کې کېږدي، د بېلابېلو نظرونو د پرتلې نه وروسته ملت او په ټولنیزو چارو کې چارواکي هغه نظر غوره او انتخاب کړي چې د شریعت د کلي فهم او د دین د مقاصد سره برابر او د ټولنې او خلکو د حالاتو او ظروفو رعایت په کې شوی وي.

له همدې دویم ډول نصوصو څخه یو هم هغه مبارک ایت هم دی چې الله تعالی په کې فرمایي: {وقرن في بيوتكن ولا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى وأقمن الصلاة وآتين الزكاة وأطعن الله ورسوله إنما يريد الله ليذهب عنكم الرجس أهل البيت ويطهركم تطهيرا} [الأحزاب: ۳۳].

له دې مبارک آیت څخه یو شمېر مفسرین داسې فهم اخلي چې د ښځو لپاره له کور څخه بیرون وتل اصلا درست نه دي، او وایي چې ښځه یا د کور ده یا د ګور ده، همدا خبره سعدي شیرازي په دې الفاظو کوي، وایي:

«ز بیگانگان چشم زن کور باد چو بیرون شد از خانه در گور باد»[۵].

دا یواځې یو پښتو متل نه دی، او نه یواځې د یو شاعر خبره ده، بلکې له همدې تصور څخه یو شمېر علماء هم اغیزمن دي، همدا د سعدي بیتونه په ځو مواردو کې په تفسیر روح البیان[۶] کې اسماعیل حقي هم نقل کړي دي، او د یو شمېر مفسرینو لکه جصاص رازي، قرطبی او داسې نورو څخه هم همدا ډول انګېرنه او تفسیر نقل شوی دی، او نن سبا د نجونو د تعلیم په اړه هم زیات شمېر خلک له همدې څخه استدلال کوي، تصور یې دا دې چې د تعلیم او تعلم لپاره د نجونو او ښځو له کورونو څخه بهر وتل روا کار نه دی، ځکه ښځو ته په مطلق ډول په کور کې د پاتې کېدلو حکم شوی دی.

د دې خلکو تصور دا دی چې دا ایت کریمه په دې دلالت کوي چې د شرعي ضرورت[۷] څخه پرته د کور څخه د ښځې بیرون وتل حرام دي، او بیا ضرورت څخه هغه شرعي ضرورت مراد اخلي چې د پرې ښودلو په نتیجه کې یې د انسان د ژوند او یا هم د هغه د کوم غړي د له منځه تللو خطر وي، او یا هم کوم قطعي فرض او شرعي مقصد یې له امله ترک کېږي.

حال دا چې د امت عامو علماو دریځ او عمل د دې ښکارندوی نه دی، ځکه د امت د علماو عام دریځ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زماني څخه را په دېخوا د ټول امت تعامل دا وه چې ښځې د شرعي پردې په رعایت کولو سره د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره د کور څخه بهر تللی، په بېلابېلو ټولنیزو فعالیتونو کې د ګډون او شخصي اړتیاو د پوره کولو لپاره د کور څخه بهر وتلې، نو دې ته جدي اړتیا لیدل کېږي چې دا وڅېړل شي چې اصل حقیقت څه دی؟ د دې ایت صحیح او درسته انګېرنه او تفسیر څه دی؟ مفسرینو له دې څخه څه فهم کړي دي؟ نبوي احادیث او د امت معتمد علماء په دې اړه څه وایي؟ او د اسلامي امت تعامل په دې اړه څه پاتې شوی؟ غواړو په دې څېړنه کې دې او د دې په څېر نورو پوښتنو ته ځواب ووایو.

---

۵. بوستان باب هفتم در عالم تربیت ص ۳۷۸ د شیخ مصلح الدین سعدی شیرازی (په اومه پېړۍ کې ژوند کړی غالبا د ۶۱۰ شا او خوا پیدا شوی او ۶۹۰ او ۶۹۴ ترمنځ وفات شوی) د بوستان دا نسخه «انتشارات ققنوس» نشر کړی، خیابان انقلاب، شهدای ژاندرمری، تهران، کال ۱۳۷۲هـ ش، د محمد علی فروغی تصحیح کړی نسخې پر بنسټ.

۶. روح البیان (۲/ ۱۸۲) و (۷/ ۱۳۱) و (۷/ ۲۴۰) اسماعیل حقي بن مصطفی الاستانبولي الحنفي الخلوتي المولی أبو الفداء (ت ۱۱۲۷ هـ ق) طبع دار الفکر بیروت، لبنان، بدون تاریخ.

۷. شرعي ضرورت یوه اصولي اصطلاح ده چې له امله یې انسان ته د حرامو ارتکاب روا ګرځي، لکه د مرګ له وېرې د مردار غوښه خوړل چې په فقهي قاعده کې داسې توضیح شوی دي «الضرورات تبیح المحظورات» د دې معنی به دا وي چې تر څو ښځه د مرګ د تهدید او یا هم د بدن د کوم غړي د له منځه تللو سره نه وي مخامخ شوي، او یا په بهر نه وتلو کوم بل داسې فرض ترې نه فوت کېږي چې له دې څخه یې درجه لوړه وي، له دې ډول حالاتو پرته ښځې ته له کور څخه بهر وتل روا نه دي، فکر نه کوم چې دا ډول نظر کوم عالم ولري!.

**د څېړنې د شالید او میتود په اړه**

د قرآن کریم د تفسیر په ډېرو کتابونو کې له دې امله د دې ایت د لومړۍ جملې تفسیر ته ډېر پام نه دی شوی، ځکه چې په هغه وختونو کې د دې اړتیا نه ده احساس شوې، او یو شمېر مفسرینو چې دا قضیه بحث کړې هم ده هغوی غالبا د هغه اعتراضونو ځواب کړی چې د اهل تشیع علماو له پلوه حضرت عائشې رضي الله عنها ته متوجه شوي دي چې الله تعالی خو وايي چې {وقرن في بيوتكن } او حضرت عائشه رضي الله عنها د کور څخه بهر وځي او د لښکرو قیادت کوي؟ او د جنګ جمل مشري پر غاړه اخلي؟ د دې په ځواب کې مفسرین وايي چې د دې مبارک ایت دواړه جملې د یو مفهوم د بیانولو لپاره راغلي دي، او معنی یې دا ده چې په کور کې پاتې شئ، او د لومړي جاهلیت د را ښکاره کېدو په څېر مه را ښکاره کېږئ، نو ښځو ته د لومړي جاهلیت د را ښکاره کېدو په څېر را ښکاره کېدل او له کور څخه وتل نا روا دي، مطلقا را ښکاره کېدل او له کور څخه بهر وتل نا روا نه دي، بلکې هغه د اباحت اصلي د اصل سره سم مباح کار دی، خو که په بهر وتلو کوم فرض مرتب وي نو بیا دا را وتل اړین ګرځي، او که کوم نا روا ورسره یو ځای شي(لکه بې پرده ګي او خلوت او داسې نور) بیا له کور څخه بیرون ته دا ډول راوتل نا روا ګرځي، دا حکم یوازې د ازواج مطهراتو پورې ځانګړی نه دی، بلکې د ټولو مسلمانو ښځو لپاره هم همدا حکم دی، دا هغه قضیه ده چې په دې څېړنه کې څېړل شوی ده.

دا قضیه په دې څېړنه کې په استنتاجي او تحلیلي میتود څېړل شوی، په دې معنی چې په قرآن کریم کې یو ایت موجود دی چې هغه د {وقرن في بيوتكن } څخه عبارت دی، د دې معنی څه ده، او د دې سم تفسیر او تحلیل څه دی؟ دا جمله دوه احتمالي معناګانې لري، یوه دا چې دا جمله دې مستقله وي، او ښځو ته دې مطلق امر وي چې په کور کې کښېني، نو په طبیعي توګه به د دې معنی دا وي چې بهر وتل ورته حرام دي، دویم احتمال یې دا دی چې د دې جملې تفسیر په دویمه جمله کې بیان شوی دی چې د لومړي جاهلیت د را ښکاره کېدو په څېر مه را ښکاره کېږئ.

خو دا لومړی معنی د احادیثو سره په ټکر کې ده، همدا راز د فقهاو د څرګندونو سره په ټکر کې ده، او د دې تر څنګ د امت د عمل سره په ټکر کې واقع ده، نو له دې څخه په ښکاره ډول څرګندېږي چې دا معنی مراد نه ده، ځکه که دا معنی مراد وی نو د امت تعامل به د دې تفسیر او معنی خلاف نه وه، د فقهاو تصریحات به یې مخالف نه ؤ، او نه به احادیث د دې سره په تعارض کې واقع ؤ.

او دویمه معنی د تفسیر د اصولو سره هم برابره ده، د احادیثو سره هم او د فقهاو او د اسلامي امت د اتفاقي دریځ سره هم اړخ لګوي، او د ټول اسلامي امت تعامل هم له همدې سره په توافق کې پاتې شوی، نو همدا معنی به مراد وي، ځکه دا نا ممکنه خبره ده چې که لومړی معنی مراد وی نو احادیث، د فقهاو اقوال او د امت دا اتفاقي دریځ دی د دې خلاف واقع شوی وی، نو له دې څخه همدا ثابتېږي چې دا دویمه معنی مراد ده او دا لومړی معنی اصلا د دې ایت معنی نه ده

وسبحانك اللهم وبحمدك نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك و نتوب إليك.

**لومړی: د ایت لفظي ترجمه**

الله تعالی فرمایي: {وقرن في بيوتكن ولا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى وأقمن الصلاة وآتين الزكاة وأطعن الله ورسوله إنما يريد الله ليذهب عنكم الرجس أهل البيت ويطهركم تطهيرا} [الأحزاب: ۳۳].

په خپلو کورونو کې ثابتې پاتې شئ، او د لومړي جاهلیت د را څرګندېدو په څېر مه را څرګندېږئ، او لمونځ قائم کړئ، او زکات ورکړئ، او د الله تعالی او د هغه د پیغمبر اطاعت وکړئ، ای اهل بیتو (د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانو) یقینا الله تعالی غواړي چې له تاسې څخه ستاسې ګناهونه لرې کړي او تاسې په بشپړ ډول پاک کړي.

**دویم: د دې مبارک آیت قرائتونه او لغوي تحقیق**

د «قرن» په کلمه کې دوه متواتر قرائتونه شتون لري:

**لومړی: د نافع او عاصم قرائت دی دوی «قرن» د قاف په فتحې سره لولي.**

**دویم: جمهور «قرن» د قاف په کسرې سره لولي.**

**لومړی قرائت: «قرن» د قاف په فتحې سره**

که قرائت «قرن» د قاف په فتحې سره وي، نو د دې کلمې د اصل په اړه لاندې دوه نظرونه وجود لري:

لومړی توجیه: چې د قر یقر (د علم یعلم) د باب څخه وي، نو په دې حالت کې دا د امر صیغه ده چې اصل یې «اقررن» وه، نو یوه راء تخفیفا حذف شوه، او د لومړۍ راء فتحه (ځکه چې دا د علم یعلم له باب څخه دی) قاف ته نقل شوه، او کله چې لومړی حرف متحرک شو نو د وصل همزې ته اړتیا پاتې نه شوه نو «قرن» شو، په دې حالت کې به د «قرن» صرفي وزن «فعن» وي، ځکه دویمه راء چې د لام کلمه ده حذف شوی ده، او دا ځکه حذف شوی چې په کلمه کې ثقل د همدې له امله رامنځته شوی وه، یو شمېر علماء وایي چې اصلا دویمه «راء» حذف شوی، ځکه کله چې د لومړۍ «راء» فتحه قاف ته نقل شوه، د ساکنینو د التقاء (چې دوه راء ګانې دي) له امله لومړی «راء» حذف شوه، نو په دې اعلال سره به د «قرن» صرفي وزن «فلن» وي، ځکه د عین کلمه یې حذف شوی ده.

مګر کله چې اعتراض دا وشو چې اصلي حرف خو کله نه حذفېږي، بلکې حرف علت حذفېږي، دلته «راء» د کوم قانون له مخې حذف شوی ده، نو مکي[8] او ابو علي[9] وویل «چې د ثقل له امله لومړی

---

[8]. نوم یې ابو محمد مکي بن أبي طالب القيسي (۳۵۵هـ ۴۳۷هـ) دا خبره یې په خپل کتاب مشکل اعراب القرآن ج ۲ ص ۵۷۷ کې کړې ده، تحقیق: دکتور حاتم صالح الضامن، چاپوونکی اداره: مؤسسة الرسالة، بیروت، دویم چاپ ۱۴۰۵هـ ۱۹۸۴م.

[9]. ابو علي الحسن بن أحمد بن عبد الغفار الفارسي، د عربي ژبې او نحوې امام، د ابن درید او ابو القاسم الزجاج په څېر شخصیتونو شاګرد او د ابن جني استاذ (۲۸۸هـ ۳۷۷ هـ)، یو کتاب یې چاپ دی د الایضاح العضدي په نوم لومړی چاپ په کال ۱۳۸۹هـ ۱۹۶۹م، چې د. حسن شاذلي فرهود تحقیق کړی دی.

«راء» په «ياء» بدله شوه، نو فتحه يې ما قبل «قاف» ته منتقل شوه، نو د ساکنينو التقاء رامنځته شوه چې په نتيجه کې يې «ياء» حذف شوه».

په دې قرائت باندې المازني[۱۰] اعتراض کړی چې «قر يقر» که د (علم يعلم) په وزن وي نو هغه د سترګو د يخوالي په معنی راځي، او په يو ځای کې د ثابت پاتې کېدلو په معنی نه راځي، او کوم چې په يو ځای کې د ثابت پاتې کېدلو په معنی راځي هغه د (ضرب يضرب) په وزن باندې راځي، او د هغه څخه د امر صيغه «قرن» د قاف په فتحې سره نه شي راتللی؟

د دې اعتراض په ځواب کې أبو حيان په البحر المحيط کې د ابو عبيدة او الزجاج او نورو څخه نقل کړي چې «قر يقر» که د «ضرب» له باب څخه وي او که د «علم» له باب څخه وي، دواړه په يو ځای کې د ثابت پاتې کېدلو په معنی راځي او دا په عربي ژبه کې ثابت دي، او علماء وايي چې مثبت حجت دی په نافي باندې، او (من علم حجة على من لم يعلم) نو که مازني ته د دې معلومات نه وي نو عدم علم په عدم وجود باندې دلالت نه کوي، نو بناء د مازني دا خبره درسته نه ده.

دويمه توجه: په دې قرائت کې دويمه وجه دا ده چې دا کلمه د «قار» «يقار» (د خاف يخاف له باب څخه) د امر د جمع مؤنث صيغه په اصل کې «اقيرن» وه، د ياء فتحه قاف ته نقل شوه، او ياء د ساکنينو د التقاء له امله حذف شوه، نو د وصل همزه هم له دې امله حذف شوه چې اړتيا ورته پاتې نه شوه ځکه د کلمې لومړی حرف متحرک شو، نو «قرن» شو. په دې قرائت به د دې کلمې معنی وي "اجمعن أنفسکن في بيوتکن"، ځکه قارة د جمع په معنی راځي، په همدې معنی بر اعظم ته قاره ويل کېږي ځکه هغه د ډېرو وچو مجموعه وي.

**د «وقرن» دويم قرائت**

دويم قرائت چې د جمهورو قرائت دی د «قاف» په کسرې سره دی «وقرن»، د دې قرائت لپاره هم متعدد توجيهات شتون لري، چې په لنډ ډول يې په لاندې توګه وړاندې کوو:

لومړی توجيه: دا لفظ د «وقر» «يقر» څخه دی چې د «وعد» «يعد» په وزن دی، او هماغه اعلال په کې شوی چې د «وعد» په امر کې کېږي، يعنې اصل يې «اوقرن» وه، د کسرې نه وروسته واو ثقيل وه نو حذف شو، نو کله چې د کلمې لومړی توری «قاف» او هغه متحرک وه نو د وصل همزې ته اړتيا پاتې نه شوه نو «قرن» شو. او معنی به يې په خپل کور کې د سکون او د وقار حالت غوره کول وي، يعنې په خپلو کورونو کې د وقار او سکون حالت غوره کړئ، چې معنی يې هماغه ده چې په خپلو کورونو کې پاتې شئ.

---

[۱۰]. نوم يې ابو عثمان بکر بن محمد بن عدي بن حبيب البصير المازني دی، مشهور نحوي او لغوي عالم دی، په استاذانو کې يې أبو عبيدة معمر بن المثنی، اصمعي، أبو زيد الأنصاري او اخفش شامل دي، په شاګردانو کې يې د أبو العباس المبرد په څېر شخصيتونه شامل دي، د يو روايت پر بنسټ په کال ۲۴۷هـ کې وفات شوی دی.

دویمه توجیه: دا د «قر یقر» (چې د «ضرب یضرب» په وزن دی) څخه د امر صیغه ده، او په دې کې هغه درې واړه توجیهات د تطبیق وړ دي چې د تیر قرائت په لومړی توجیه کې ورته اشاره وشوه، چې لومړی راء حذف شوی، که دویمه راء حذف شوی، او که راء په یاء بدله شوی او بیا حذف شوی لکه مکي او ابو علي چې وایي. په دې قرائت بیا هغه اعتراض هم نه واردېږي چې «المازني» په لومړي قرائت باندې درلوده، ځکه دا د عربي ژبې د مشهورې وجهې سره مطابقت لري[١١].

**دریم: د ایت څخه نا سم فهم**

د ایت ظاهر په دې دلالت کوي چې د ښځو لپاره په کور کې پاتې کېدل فرض دي، او د فرضو مخالفت حرام دي، نو له کور څخه وتل حرام دي، او دا ځکه چې د (قرن) کلمه د امر صیغه ده، او امر د وجوب لپاره وي، همدا فهم یو شمېر خلک له دې ایت څخه اخلي او تصور یې دا دی چې ښځه باید په خپل کور کې محبوسه وي، او له کور څخه ورته وتل حرام دي، د بېلګې په توګه امام جصاص رازي وایي: «وفیه الدلالة علی أن النساء مأمورات بلزوم البیوت منهیات عن الخروج»[١٢].

په دې ایت کې پر دې دلالت دی چې ښځې په خپلو کورونو کې پر باقي پاتې کېدلو مأمورې دي، د بهر وتلو څخه منع[١٣] کړی شوي دي.

امام قرطبي مالکي وایي: «معنی هذه الآیة الأمر بلزوم البیت، وإن کان الخطاب لنساء النبي صلی الله علیه وسلم فقد دخل غیرهن فیه بالمعنی. هذا لو لم یرد دلیل یخص جمیع النساء، کیف والشریعة طافحة بلزوم النساء بیوتهن، والانکفاف عن الخروج منها إلا لضرورة، علی ما تقدم في غیر موضع»[١٤]

---

١١. د دې قرائتونو او د قرائتونو د توجیهاتو لپاره وګورئ: المحیط في التفسیر (٨/ ٤٧٦_ ٤٧٧) د ابو حیان محمد بن یوسف بن علي بن یوسف بن حیان أثیر الدین الأندلسي (ت ٧٤٥ هـ) ط. دار الفکر، بیروت، د چاپ کال ١٤٢٠هـ تحقیق: صدقي محمد جمیل. او الدر المصون في علوم الکتاب المکنون (٩/ ١٢٠-١٢١) د ابو العباس شهاب الدین أحمد بن یوسف بن عبد الدائم المعروف بالسمین الحلبي (ت ٧٥٦هـ) طبع دار القلم، دمشق، تحقیق: د. أحمد محمد الخراط. همدا راز وګورئ: روح المعاني في تفسیر القرآن والسبع المثاني (١١/ ١٨٧) د شهاب الدین محمود بن عبد الله الحسینی الآلوسي (ت ١٢٧٠ هـ)، تحقیق: علي عبد الباري عطیة، چاپوونکې اداره: دار الکتب العلمیة- بیروت، کال ١٤١هـ. دې تفاسیرو ته د رجوع په وخت کې انسان ګوري چې په عبارتونو کې یو ډول اضطراب وجود لري.

١٢. «أحکام القرآن للجصاص» (٣/ ٤٢١) تألیف: أحمد بن علي أبو بکر الرازي الجصاص الحنفي (ت ٣٧٠هـ)، تحقیق: عبد السلام محمد علي شاهین، چاپوونکې اداره: دار الکتب العلمیة بیروت – لبنان، لومړی چاپ، کال ١٤١٥هـ/١٩٩٤م.

١٣. د منهیات په لفظ د «و لا تبرجن» لفظ ته اشاره کوي او هغه مقیده نهي ده، مطلقه نهي نه ده.

١٤. تفسیر القرطبي مشهور په الجامع لأحکام القرآن (١٤/ ١٧٩)، مؤلف: أبو عبد الله، محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي، تحقیق: أحمد البردوني وإبراهیم أطفیش، چاپوونکی اداره: ار الکتب المصریة – القاهرة، دویم چاپ، کال: ١٣٨٤ هـ - ١٩٦٤ م.

د دې ایت مفهوم دا دی چې په دې کې په کورونو کې په باقي پاتې کېدلو امر دی، په دې ایت کې سره له دې چې خطاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم ازواج مطهراتو ته دی، خو نورې مسلمانانې ښځې قیاسا په دې کې شاملې دي، دا په دې صورت کې چې په دې اړه د نورو ښځو په اړه کوم ځانګړی دلیل وجود و نه لري، حال دا چې شریعت د داسې دلایلو څخه ډک دی چې په کورونو کې د ښځو د پاتې کېدو په لزوم باندې دلالت کوي، د ضرورت[۱۵] څخه پرته د کورونو له وتلو څخه پر امتناع دلالت کوي، لکه په ډېرو ځایونو کې چې مې پرې مخکې بحث کړی دی.

او حافظ ابن کثیر خو دا د آدابو او مستحباتو له جملې څخه ګڼي، د دوه دېرشم ایت په تفسیر کې وایي: «هذه آداب أمر الله تعالى بها نساء النبي صلى الله عليه وسلم ونساء الأمة تبع لهن في ذلك».

دا هغه ادبونه دي چې الله تعالی د پیغمبر علیه السلام ازواجو ته پرې امر کړی، او د امت نورې ښځې په دې کې د هغوی تابع دي.

بیا وروسته وایي:«وقوله تعالى: وقرن في بيوتكن أي الزمن فلا تخرجن لغير حاجة، ومن الحوائج الشرعية الصلاة في المسجد بشرطه»[۱۶].

د «وقرن...» معنی دا ده چې په کور کې باقي پاتې شئ، او د حاجت او اړتیا څخه پرته بهر مه وځئ، او د شرعي حاجتونو څخه یو هم د شرطونو سره برابر په مسجد کې لمونځ هم دی.

همدا خبره د شهاب الدین الآلوسي[۱۷] څخه او همدا راز د څه نورو علماو څخه هم نقل شوې ده، چې څه د امر دا صیغه په استحباب باندې حمل کوي او وایي چې استحبابا مسلمانو ښځو ته په کورونو کې پاتې کېدل په کار دي، او څوک یې په وجوب باندې حمل کوي.

که د علماو دا اقوال په استحباب باندې حمل شي او داسې وانګېرل شي چې د ښځې لپاره مستحب دا دي چې په کور کې پاتې شي او بهر ته ولاړه نه شي، نو دا به درسته انګېرنه وي، خو که دا په وجوب باندې حمل شي او تصور دا وي چې د شرعي ضرورت څخه پرته ښځه له کور څخه بهر نه شي وتلی نو له دې مبارک ایت څخه دا فهم یو داسې فهم دی چې د شریعت د نصوصو، د دې ایت څخه د امت د معتمدو علماو د فهم، د امت د عام تعامل او د اسلامي شریعت د طبیعت سره متصادم دی، له

---

۱۵. چې دې ته متوجه باید وه اوسو چې ضرورت یوه فقهي او اصولي اصطلاح ده چې مخکې مو د هغې معنی ته اشاره درلوده.

۱۶. تفسير القرآن العظيم مشهور په تفسير ابن كثير (٦/ ٣٦٣)، ليكوال: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (ت ٧٧٤ هـ) تحقيق: محمد حسين شمس الدين، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية، منشورات محمد علي بيضون – بيروت، لومړی چاپ، كال: ١٤١٩ هـ.

۱۷. روح المعاني فی تفسیر القرآن الكريم والسبع المثاني مشهور په تفسیر الآلوسي ج ۱۱ ص ۱۸۷، دار الكتب العلمية، تحقيق: علي عبد الباري عطية، لومړی چاپ کال ۱۴۱۵هـ.

دي امله دا یو مرجوح فهم دی، د دې فهم تصحیح په کار ده، ځکه داسې یو فهم شریعت ته منسوبول په حقیقت کې د شریعت په اړه غلط او نا درست تصورات خپروي، او د شریعت د بدنامۍ لامل ګرځي.

**دا نا سم فهم مراد نه دی**

دا درسته خبره ده چې د ښځې د فعالیت او کار یو بنسټیز ډګر د هغې کور دی، په ځانګړې توګه کله چې واده شي او د کورنۍ څښتنه شي، ښځه باید د خپل کور څخه د کورنۍ د غړو لپاره د سکون او اطمئنان چاپېریال برابر کړي، د خپلو اولادونو په تربیت او روزنه بشپړ اهتمام وکړي، مګر د دې ترڅنګ هغه د خپلو اړتیاو د تر سره کولو لپاره همدا راز د ټولنیزو اړتیاو د سرته رسولو لپاره د کور څخه بیرون وتلی شي، او د یو انسان په حیث د خپلو اړتیا د پوره کولو لپاره، همدا راز د یو مسلمان په حیث د خیر په کارونو کې د ګډون لپاره له کور څخه وتل یو مباح عمل دی، مګر دا چې د دې وتلو سره داسې کوم مقصد اړه ولري او هغه د ښځو د ګډون پرته سرته نه شي رسېدلی په داسې حالت کې دا اباحت دا حکم د هغه مقصد سره سم تغییر خوري، لکه څرنګه چې د سد الذرائع او فتح الذرائع اصولي قاعده ده.

د همدې اصولي قاعدې سره سم له کور څخه دا وتل هغه وخت ناروا ګرځي چې کله ورسره نا روا کارونه یوځای شي، د بېلګې په توګه کله چې په لباس، حجاب او ظاهري هیئت کې د شریعت احکام رعایت نه کړي، نو بیا علماء په دې تصریح کوي چې دا کار یې ناروا دی، هدف دا دی چې پخپله وتل ناروا نه دي بلکې کله چې په وتلو کې شرعي آداب رعایت نه شي هغه وتل ناروا دي، همدا د قرآن کریم د دې مبارک ایت مدلول دی، او همدا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صریحو احادیثو مدلول هم دی، او همدا د فقهاو او حنفي مذهب په شمول د اهل سنتو د ټولو فقهي مذاهبو د معتمدو علماو د تصریحاتو مدلول هم دی.

دا د اسلامي امت د معتبرو علماو دریځ دی چې «وقرن في بیوتکن» په ظاهر باندې حمل نه دی، بلکې د امت د ټولو معتبرو علماو له نظره له کور څخه د ښځو وتل یو مباح عمل دی، اوس د بل هر مباح عمل په څېر که له دې سره داسې څه نا روا کارونه یو ځای شي چې په شریعت کې جواز نه لري نو د دې مشکلاتو د تلازم له امله سدا للذریعة نا روا ګرځي، او که ناروا اعمال ورسره یوځای نه وي نو په خپل حالت روا او مباح پاتې کېږي، او که څه داسې مقاصد ورسره تړل شوي وي چې شرعا مطلوب وي، او د واجباتو له جملې څخه وي نو فتحا للذریعة دا بیرون وتل لازمي ګرځي تر دې چې په یو لړ حالاتو کې د میړه نافرماني کول ورته هم جواز پیدا کوي، همدا خبره د دې مبارک ایت څخه معتبرو مفسرینو فهم کړې ده.

**د «وقرن في بیوتکن» په تفسیر کې تفسیري اقوال**

له همدې امله چې د احادیثو په ذخیره کې بې شمېره احادیث داسې دي چې د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره ښځو ته د کور څخه د بیرون وتلو په جواز دلالت کوي، او د اسلامي امت ټول تاریخ په دې دلالت کوي چې سره له دې چې یو شمېر ښځې استحبابا په کور کې پاتې کېدلې، چې «ذوات الخدور» یا «مخدرات» او یا «مخدورات» به بلل کېدلې، او نورې ښځې چې د کور څخه بیرون به یې

کارونه کول هغوی ته «البرزة» ویل کېدلی، د فقهي احکامو په لحاظ د دې دواړو ډولو ښځو تر منځ تفاوتونه وجود لري، او دا تفاوتونه فقهاو رعایت کړي دي، د بېلګې په توګه د توکیل او شهادت په مسائلو کې د دې دواړو ښځو احکام سره متفاوت دي، په دې اړه تفصیلي احکام په د برهاني په محیط کې، په عالمګیري فتاوی کې، او په الدر المختار باندې د ابن عابدین شامي په حاشیه کې راغلي دي.

د دې دوه ډولو ښځو د تعریف په اړه ابن نجیم وايي: «المخدرة فهي في اللغة كما في القاموس من الخدر كالإخدار والتخدير بفتح الخاء الزام البنت الخدر بكسر الخاء وهو ستر يمد للجارية في ناحية البيت وهي مخدورة ومخدرة ا هـ، وفي الشرع هي التي لم تجر عادتها بالبروز ومخالطة الرجال، قال الحلواني والتي تخرج في حوائجها برزة»[18].

المخدرة په لغت کې ـ لکه په قاموس کې چې راغلي ـ د خدر څخه اخیستل شوی، چې د خاء په فتحې سره لوستل کېږي، او د إخدار او تخدير په معنی باندې راځي (یعنې ثلاثي مجرد او مزید فیه ټول په یوه معنی راځي) لغوي معنی یې دا ده چې انجلۍ په پرده (خدر د خاء په کسرې سره) باندې ملزمه کړی شي، او خدر هغه پردې ته ویل کېږي چې د کور په یو اړخ کې اچول کېږي، دې ښځې یا انجلۍ ته «مخدوره» یا «مخدره» ویل کېږي، او په شریعت کې «مخدورة» یا «مخدرة» هغه ښځې یا انجلۍ ته ویل کېږي چې په عادي حالاتو کې بیرون نه وځي او د سړیو سره تعامل نه کوي، او حلواني وايي: او هغه ښځه یا انجلۍ چې د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره د کور څخه بهر ته وځي هغې ته «برزة» ویل کېږي.

په الفتاوی الهندية کې وايي: «ويقبل تعديل المرأة لزوجها وغيره إذا كانت امرأة برزة تخالط الناس وتعاملهم كذا في محيط السرخسي»[19].

د سرخسي په محیط کې راغلي چې کله چې ښځه «برزة» وي او د خلکو سره خلط کېږي او تعامل ورسره کوي نو د خپل مېړه او نورو خلکو په اړه د هغې د عدالت ګواهي د منلو وړ ده.

همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث چې وروسته به یې یادونه وکړو، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک عصر څخه نیولی تر نن پورې د اسلامي امت تاریخ په دې شاهد دی

---

[18]. البحر الرائق (۷/ ۱۴۵) زین الدین ابن نجیم (۹۲٦هـ ۹۷۰هـ) د چاپ ځای: دار المعرفة، بیروت، لبنان. همدا راز د دې اصطلاح لپاره وګورئ الفتاوی الهندية (۳/ ۳۳۵) د حنفي علماو د یوې مجموعې له لورې لیکل شوی، چاپوونکې اداره: دار الفکر، بیروت، د چاپ کال: ۱۹۹۱م ۱۴۱۱هـ ق. همدا راز وګورئ المحيط البرهاني في الفقه النعماني (۸/ ۴۱) او (۸/ ۴٦۵) د أبو المعالي برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مازة البخاري الحنفي (المتوفى: ٦١٦هـ)، تحقيق: عبد الكريم سامي الجندي، چاپوونکي اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، لومړی چاپ: ۱۴۲۴ هـ - ۲۰۰۴ م. او په احکامو کې دا تفاوت نوی نه دی بلکې ابن عابدین یې د ابوبکر جصاص رازي څخه نقل کوي چې د څلورم قرن عالم دی، دې لپاره وګوئ: حاشية ابن عابدين (۷/ ۲۸۰) چاپوونکی اداره: دار الفكر للطباعة والنشر، د چاپ کال ۱۴۲۱هـ ۲۰۰۰م.

[19]. الفتاوی الهندية (۳/ ۵۲۸) همدا مخکینی مصدر.

چې ښځو د ژوند په بېلابېلو میدانونو کې فعال حضور درلوده، د خپلو شخصي اړتیاو لپاره په ټولنه کې موجودې وې، همدا راز یې په ډېرو ټولنیزو چارو کې ګډون درلود، که یواځې د صحیح البخاري د کتاب النکاح بېلابېل ابواب ملاحظه کړو د ډېرو بابونو د عناوینو په ترڅ کې دې ته اشارې لري چې په ټولنیزو چارو کې د ښځو فعالیت او په فعالیتونو کې ګډون له کراهت څخه پرته جواز لري.

همدا راز هغه بېلابېل احادیث چې د غزواتو په جریان کې د ښځو له لورې د مریضانو او زخمیانو تداوي[۲۰] سرته رسېدل، د شهیدانو ښخول[۲۱]، او لښکر ته د څښلو د اوبو راوړل، بلکې په بعضې حالاتو کې په جنګ کې ګډون کول د دې بېلګې دي.

د اسلامي تاریخ په اوږدو کې د داسې ښځینه عالمانو د شتون او فعال حضور په اړه چې د اسلامي او انساني علومو په وده کې یې لویه ونډه درلوده زموږ د رجالو او طبقاتو په کتابونو کې تفصیلي یادونه شوی ده، د بیلګې په توګه د امام ذهبي د سیر أعلام النبلاء څخه یو لوی مجلد د هغه ښځو په اړه راټول شوی دی چې د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې مؤثرې او عالمې وې[۲۲]، همدا راز د فقهاو په طبقاتو کې د ښځو یادونه شوی، د جرح او تعدیل په کتابونو کې د محدثاتو ذکر راغلی دی.

که د دې مبارک ایت مفهوم هغه وی چې مخکې مو ورته اشاره وکړه، نو بیا به حالت داسې نه وه، ځکه دا خو نا ممکنه خبره ده چې ټول امت دې د الله تعالی د حکم مخالفت وکړي، په دې معنی چې الله تعالی دې ښځو ته په کورونو کې د پاتې کېدو امر کړی وي او امت دې په دې التزام و نه لري، نو دا ثابته شوه چې د دې مبارک ایت معنی او تفسیر هغه نه دی چې دا خلک یې ترې اخلي، او وایي چې ښځه یا د کور ده او یا هم د ګور، چې دا ظاهري معنی ترې مراد نه ده، نو معنی یې څه ده؟ په دې اړه مفسرین لاندې دوه نظرونه لریس:

---

۲۰. په مصنف ابن أبي شيبة - ترقيم عوامة (۱۲/ ۵۲۵) کې دا لاندې حدیث لولو: عن حشرج بن زياد الأشجعي، عن جدته أم أبيه ؛ أنها غزت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم خيبر سادسة ست نسوة، فبلغ رسول الله صلى الله عليه وسلم، فبعث إلينا، فقال : بأمر من خرجتن ؟ ورأينا فيه الغضب , فقلنا : يا رسول الله , خرجنا ومعنا دواء نداوي به ونناول السهام، ونسقي السويق، ونغزل الشعر، نعين به في سبيل الله، فقال لنا : أقمن، فلما فتح الله عليه خيبر، قسم لنا كما قسم للرجال. دا د خیبر د غزا خبره ده چې د پیغمبر علیه السلام د غزواتو څخه د ورستنیو غزواتو له جملې څخه ده.

۲۱. المعجم الكبير للطبراني (۲۵/ ٦٤) أم عطية، تقول: «كنا نخرج مع رسول الله صلى الله عليه وسلم نداوي الجرحى، وندفن القتلى» په صحیح مسلم (۳/ ۱۴۴۳) کې دا حدیث لولو: عن أنس بن مالك، قال: «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يغزو بأم سليم ونسوة من الأنصار معه إذا غزا، فيسقين الماء، ويداوين الجرحى»

۲۲. جامع أخبار النساء من سير أعلام النبلاء (مع تراجم الجزء المفقود من السير) جمع وترتيب وتحقيق وتعليق: ابو عبد الرحمن خالد بن حسين بن عبد الرحمن، تقديم: فضيلة الشيخ مصطفى بن العدوي، مكتبة الرشد للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية، الرياض، د چاپ کال ۱۴۲۵هـ ۲۰۰۴م.

**لومړی نظر: د ازواج مطهراتو او نورو ښځو ترمنځ تفاوت**

یو شمېر مفسرین وايي چې دا مبارک ایت د ازواج مطهراتو په اړه وجوبا او د نورو مسلمانو ښځو په اړه استحبابا راغلی دی، علامه الطاهر بن عاشور د دې ایت په تفسیر کې وايي:«هذا أمر خصصن به وهو وجوب ملازمتهن بيوتهن توقيرا لهن، وتقوية في حرمتهن، فقرارهن في بيوتهن عبادة، وأن نزول الوحي فيها وتردد النبيء صلى الله عليه وسلم في خلالها يكسبها حرمة. وقد كان المسلمون لما ضاق عليهم المسجد النبوي يصلون الجمعة في بيوت أزواج النبيء صلى الله عليه وسلم كما في حديث «الموطأ» . وهذا الحكم وجوب على أمهات المؤمنين وهو كمال لسائر النساء»[۲۳].

دا امر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهراتو پورې ځانګړی دی، چې دوی باید په خپلو کورونو کې مستقرې پاتې شي او بیرون ته ترې و نه وځي، او دا حکم د دوی د احترام له امله، او د دوی د حرمت د تقویت لپاره ورکړ شوی دی، نو د دوی له لورې په خپلو کورونو کې پاتې کېدل عبادت دی. د دوی په کورونو کې د وحي نازلېدل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تګ راتګ دې کورونو ته احترام او عزت وربخښي، له همدې امله کله به چې په مسجد نبوي کې ځای نه وه نو مسلمانانو به د ازواج مطهراتو په کورونو کې د جمعې لمونځ کاوه لکه د موطا په حدیث کې چې راغلي دي (چې دا د دې کورونو د حرمت او عزت دلیل دی) پر دې حکم باندې التزام پر امهات المؤمنین باندې واجب وه، او د نورو ښځو لپاره د کمال او استحباب درجه لري.

ابن عاشور دا خبره ځکه کوي چې اسلامي امت ټول په دې اتفاق لري چې د ښځې لپاره د کور څخه بیرون تلل مطلقا حرام نه دي، نو کله چې دا حرام نه دي، نو باید د عامو مسلمانو ښځو په اړه دا حکم په استحباب باندې حمل شي، او د ازواج مطهراتو په اړه باید په وجوب حمل شي، ځکه په دې توګه الله تعالی د دوی د احترام او عزت ساتلو ځانګړی اهتمام کړی، او د عامو مسلمانو ښځو لپاره ځکه په وجوب حمل نه دی چې په وجوب باندې د حمل کولو څخه داسې مشقت رامنځته کېږي چې تحمل یې ډېر مشکل دی، او موږ په شریعت کې داسې احکام لرو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره په وجوب حمل وي او د امت لپاره نفل او مستحب وي، لکه قیام اللیل او د تهجدو لمونځ.

د ابن عاشور د دې تفسیر سره سم به دلته د امر صیغه (قرن) د مطلق طلب لپاره وي، چې دا طلب به د ازواج مطهراتو په حق کې جازم او قطعي طلب وي او د نورو عامو مسلمانو ښځو په حق کې به غیر

---

۲۳. التحرير والتنوير (تحرير المعنى السديد وتنوير العقل الجديدمن تفسير الكتاب المجيد) (۲۲/ ۱۰) د محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر بن عاشور التونسي (ت: ۱۳۹۳هـ) چاپوونکې اداره: الدار التونسية، تونس، د چاپ کال: ۱۹۸۴م. همدا خبره یې د صحیح البخاري لپاره په خپله شرح «النظر الفسيح عند مضائق الأنظار في الجامع الصحيح» (ص: ۲۰۳) کې هم کړې ده، محمد الطاهر ابن عاشور، چاپوونکی اداره: دار سحنون للنشر والتوزيع - دار السلام للطباعة والنشر، لومړی چاپ، کال: ۱۴۲۸ هـ - ۲۰۰۷ م.

جازم طلب وي، او په دې توگه به د نصوصو ترمنځ تعارض هم رفع شوی وي او د امت عام تعامل او د فقهاو فهم به هم د قرآن کريم د دې مبارک ايت سره برابر وي.

**دويم نظر: دا ايت د ښځو مطلق وتل حرام نه گڼي**

د دې مبارک ايت دويم تفسير دا دی چې په دې ايت کريمه کې د ښځو لپاره مطلق بيرون وتل نه دي حرام کړی شوي بلکې هغه وتل حرام گرځول شوي چې د لومړي جاهليت په څېر د شرعي ادابو د رعايت څخه پرته بيرون وتل دي، او دا ځکه چې ډېر مفسرين د ايت دويمه جمله د لومړۍ جملې لپاره تفسير گڼي، الله تعالی فرمايي: : {وقرن في بيوتكن ولا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى وأقمن الصلاة وآتين الزكاة وأطعن الله ورسوله إنما يريد الله ليذهب عنكم الرجس أهل البيت ويطهركم تطهيرا} [الأحزاب: ۳۳].

د دې ايت معنی به دا وي چې په خپلو کورونو کې پاتې شئ يعنې د لومړي جاهليت په زمانه کې د را څرگندېدو په څېر مه را څرگندېږئ....دا دويمه جمله (ولا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى) به د لومړۍ جملې (وقرن في بيوتكن) تفسير وي.

ابن عرفه د (ولا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى) په اړه وايي: «الصواب أن تكون هذه الجملة في معنى الأولى مفسرة لها، فيكون أمرهن بملازمة البيوت ليس نهيا عن مطلق الخروج، بل عن الخروج المخالف للشرع، وهذا خروج التبرج»[۲۴].

درسته خبره دا ده چې دا جمله د لومړۍ جملې په معنی ده، او د هغې لپاره تفسير دی، نو ښځو ته په کور کې د پاتې کېدلو د امر معنی به په مطلقه توگه د کور څخه د وتلو نه منع نه وي، بلکې د هغه وتلو څخه به منع وي چې د شريعت سره مخالف وي، او د شريعت سره مخالف وتل د تبرج او د بې پرده گۍ په حالت کې وتل دي.

همدا خبره په پوره صراحت سره شيخ محمد ثناء الله مظهري هم کوي، وايي: «امر بالقرار فى البيوت وعدم الخروج بقصد المعصية كما يدل عليه قوله تعالى ولا تبرجن فانه عطف تفسيرى وتأكيد معنى وليس فى الاية نهى عن الخروج من البيت مطلقا وان كان للصلوة او الحج او لحاجة الإنسان»[۲۵].

{وقرن في بيوتكن} په کورونو کې د پاتې کېدلو او د گناه په اراده د کور څخه د نه وتلو امر دی، لکه د الله تعالی وينا (ولا تبرجن) چې پرې دلالت کوي، ځکه دا (ولا تبرجن) (په وقرن في بيوتكن)

---

[۲۴]. تفسير ابن عرفة النسخة الكاملة (۳/ ۲۹۵) محمد بن محمد بن عرفة الورغمي التونسي المالكي، أبو عبد الله (ت: ۸۰۳هـ) تحقيق: جلال الأسيوطي، چاپوونکي اداره: دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال ۲۰۰۸م.

[۲۵]. تفسير المظهري ج۷ ص ۳۴۱- ۳۴۲، د قاضي محمد ثناء الله العثماني الحنفي المظهري النقشبندي (۱۱۴۳هـ ۱۲۲۵هـ) تحقيق: أحمد عز وعناية، چاپوونکی اداره: دار احياء التراث العربي، بيروت ـ لبنان، لومړی چاپ کال ۱۴۲۵هـ ۲۰۰۴م.

تفسيري عطف دی، او معنوي تأکيد يې دی، په دې مبارک ايت کې د کور څخه د مطلق وتلو نه منع نه ده راغلی و لو که د لمانځه، حج او انساني اړتياو لپاره وي.

د قاضي ثناء الله مظهري صاحب خبره واضح ده چې په ايت کې دويمه جمله (ولا تبرجن...) د لومړۍ جملې (وقرن في بيوتکن) تفسير او معنوي تأکيد دی، نو د دې دواړو جملو معنی به دا وي چې د کور څخه په داسې توګه مه وځئ چې د لومړي جاهليت د خلکو په څېر بې پرده او د بې حيايې په حالت کې را ښکاره شئ، او کله چې جمله کې قيد وجود ولري نو نهي او نفي نفس فعل ته متوجه نه وي بلکې قيد زائد ته متوجه وي، لکه کله چې ته ووايی: «ما رأيت زيدا راکبا» د دې معنی دا نه ده چې تا زيد اصلا نه دی ليدلی، بلکې معنی يې دا ده چې تا هغه د سپرلۍ په حالت کې نه دی ليدلی.

همدا خبره امام الوسي هم کوي، هغه له کور څخه د مسلمانو ښځو وتل په دوه ډولو ويشي، يو هغه وتل دي چې ناروا او نادرست دي، او هغه د جاهليت د زمانې په څېر له کور څخه وتل دي، او يو جائز، روا او مباح وتل دي چې هغه د شرعي آدابو سره د اړتيا لپاره وتل دي، هغه وايي: «وقد يحرم عليهن الخروج بل قد يكون كبيرة كخروجهن لزيارة القبور إذا عظمت مفسدته وخروجهن ولو إلى المسجد وقد استعطرن وتزين إذا تحققت الفتنة أما إذا ظنت فهو حرام غير كبيرة، وما يجوز من الخروج كالخروج للحج وزيارة الوالدين وعيادة المرضى، وتعزية الأموات من الأقارب ونحو ذلك، فإنما يجوز بشروط مذكورة في محلها»[۲۶].

کله به ښځو ته وتل حرام وي، بلکې کله به دا لويه او کبيره ګناه وي، لکه هدېرې ته وتل چې مفسده يې ډېره لويه وي، او همدا راز د زينت، سنګار او عطرو سره وتل سره له دې چې جومات ته هم وي کله چې پرې يقيني فتنه مرتبېږي نو دا حرام او ګناه کبيره هم ده، خو که يقيني فتنه پرې نه مرتبېږي بلکې احتمالي فتنه پرې مرتبېږي نو بيا حرام دي، خو کبيره ګناه نه ده، او بل ډول وتل چې روا دي لکه حج، د مور او پلار ليدلو لپاره وتل، د مريض د پوښتنې، په خپلوانو کې د مړي د تعزيت او داسې نورو کارونو لپاره وتل، نو دا په خپلو ځايونو کې د ذکر شوو شرطونو سره سم جايز دي.

**همدا د نبوي احاديثو مدلول هم دی**

دا کوم فهم چې له دې مبارک ايت څخه دا مفسرين وړاندې کوي همدا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د احاديثو څخه هم څرګندېږي، ځکه بې شمېره احاديث په دې دلالت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ازواج مطهراتو ته هم له کور څخه د وتلو اجازه ورکړې ده، چې دا احاديث بالطريق الاولی د عامو مسلمانو ښځو لپاره د کور څخه د وتلو په جواز دلالت کوي، همدا راز يې عامو مسلمانو

---

[۲۶]. روح المعاني في تفسير القرآن والسبع المثاني المعروف بتفسير الآلوسي (۱۱/ ۱۸۸) مخکيني مصدر.

ښځو ته د شرعي آدابو سره سم د کور څخه د وتلو اجازه ورکړی[۲۷] او دا د بېلابېلو احاديثو څخه فهم کېږي، دا احاديث خو ډېر زيات دي، زه دلته يواځې د يو څو احاديثو په راوړلو اکتفاء کوم:

**لومړی حديث:**

عن عائشة، قالت: خرجت سودة بنت زمعة ليلا، فرآها عمر فعرفها، فقال: إنك والله يا سودة ما تخفين علينا، فرجعت إلى النبي صلى الله عليه وسلم فذكرت ذلك له، وهو في حجرتي يتعشى، وإن في يده لعرقا، فأنزل الله عليه، فرفع عنه وهو يقول: «قد أذن الله لكن أن تخرجن لحوائجكن»[۲۸].

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: سودة بنت زمعة (أم المؤمنين) د شپې ووتله، نو حضرت عمر رضي الله عنه وليدله، او وه يې پېژندله، نو ورته يې وويل: په خدای چې ای سوده ته له موږ څخه پټېدلی نه شی! حضرت سودة رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله او د دې خبرې يادونه يې ورته وکړه، او هغه (رسول الله صلى الله عليه وسلم) زما په کوټه کې وه د ماښام ډوډۍ يې خوړله، او په لاس کې يې يو هډوکې وه، نو الله پرې وحي نازله کړه (د وحي کيفيت پرې راغی) کله چې دا کيفيت ترې لرې شو، نو وه يې ويل: الله پاک تاسې ته اجازه درکړی چې د خپلو اړتياو لپاره (له کوره) ووځئ.

دا حديث امام بخاري د «باب خروج النساء لحوائجهن» کې نقل کړی دی، اشاره يې دې ته ده چې سره له دې چې ازواج مطهراتو ته د نورو ښځو په نسبت په کور کې د پاتې کېدو حکم مؤکد هم دی مګر هغوی ته هم د اړتيا په وخت کې له کور څخه د وتلو اجازه الله پاک ورکړی ده، نو نورې مسلمانې ښځې خو بالأولی د دې کار اجازه لري.

يو شمېر خلک د خلکو د غلطولو کوښښ کوي، او وايي چې دا حديث د حجاب څخه دمخه وه، او کله چې د حجاب ايتونه يعنې د الله تعالی دا وينا چې فرمايي: {وإذا سألتموهن متاعا فاسألوهن من وراء حجاب} [الأحزاب: ۵۳] نازل شو نو په دې حديث کې د بهر وتلو حکم د ازواج مطهراتو په حق کې دا منسوخ شو، نو له دې څخه استدلال درست نه دی.

خو دا خبره درسته نه ده، ځکه د بخاري شريف په روايت کې په بل ځای کې د دې تصريح ده چې دا واقعه او په دې حديث کې د الله تعالی له لورې د اړتيا په وخت کې د بهر وتلو دا اجازه د حجاب د نزول څخه وروسته وه، «عن عائشة رضي الله عنها، قالت: خرجت سودة بعدما ضرب الحجاب لحاجتها،

---

۲۷. صحيح البخاري (۲/ ٦)، په دې حديث کې د حضرت عمر د ميرمنې واقعه هم ده چې دا پيغمبر عليه السلام د وفات څخه وروسته وه چې د نسخې ادعاء ردوي، «لا تمنعوا إماء الله مساجد الله» او په صحيح مسلم (۱/ ۳۲۷) کې دا روايت چې عن ابن عمر، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «لا تمنعوا إماء الله مساجد الله» خو شرط يې دا دی چې بې له عطرو به بيرون وځي لکه رسول الله چې فرمايي: «لا تمنعوا إماء الله مساجد الله وإذا خرجن فليخرجن تفلات»المنتقى من السنن المسندة لابن الجارود (ص: ۹۱).

۲۸. صحيح البخاري (۷/ ۳۸) د حديث شمېره: ۵۲۳۷، کتاب النكاح (باب خروج النساء لحوائجهن) لاندې نقل کړی دی، چاپوونکې اداره: دار طوق النجاة، د چاپ کال ۱۴۲۲هـ.

وكانت امرأة جسيمة لا تخفى على من يعرفها، فرآها عمر بن الخطاب فقال: يا سودة، أما والله ما تخفين علينا، فانظري كيف تخرجين، قالت: فانكفأت راجعة، ورسول الله صلى الله عليه وسلم في بيتي، وإنه ليتعشى وفي يده عرق، فدخلت فقالت: يا رسول الله، إني خرجت لبعض حاجتي، فقال لي عمر كذا وكذا، قالت: فأوحى الله إليه ثم رفع عنه، وإن العرق في يده ما وضعه، فقال: «إنه قد أذن لكن أن تخرجن لحاجتكن»[۲۹].

د حديث په دې روايت کې دا قضيه بالکل واضحه او څرګنده ده چې دا واقعه د حجاب د نزول څخه وروسته وه، په دې پورته حديث کې دي چې «بعد ما ضرب الحجاب».

بله غلط فهمي چې څه خلکو ته پيدا شوی هغه دا ده چې دا واقعه او د حجاب د فرض کېدو واقعه يوه ګڼي، خو دا خبره هم درسته نه ده، بلکې دا بيله واقعه ده او هغه واقعه چې د حجاب د نزول لامل وګرځېده چې حضرت عمر په کې ويلي وو چې «عرفناک يا سودة» هغه بېله واقعه ده چې امام بخاري په کتاب الطهارة کې په باب خروج النساء الى البراز[۳۰] کې نقل کړې دی.

د بخاري شريف ټول شارحين د دې حديث لاندې د دې تصريح کوي چې د اړتياو لپاره د کور څخه د ښځو وتل جواز لري او دا حديث په دې خبره دلالت کوي، دلته يواځې د نمونې په توګه د يو څو شارحينو ويناګانې نقل کوم، ځکه د ټول څخه نقل د بې ځايه اوږدوالی لامل ګرځي، ابن الملقن وايي: «فيه دلالة على خروج النساء لكل ما أبيح لهن الخروج فيه، من زيارة الآباء والأمهات والمحارم وغير ذلك مما بهن الحاجة إليه، وذلك في حكم خروجهن إلى المساجد»[۳۱].

دا حديث په دې دلالت کوي چې د هغه ټولو کارونو لپاره د ښځو له کورونو څخه وتل روا دي چې دوی يې په اړه د وتلو اجازه لري، لکه پلرونو او مورګانو او خپلوانو پوښتنه او داسې نور کارونه چې دوی ورته اړتيا لري، او د دې ټولو حکم په روا والي کې همداسې دی لکه مسجد ته چې ښځه وځي.

ابن بطال د بخاري په شرح کې وايي: «فى هذا الحديث دليل على جواز خروج النساء لكل ما أبيح لهن الخروج فيه من زيارة الآباء والأمهات وذوى المحارم والقرابات، وغير ذلك مما بهن الحاجة إليه، وذلك فى حكم خروجهن إلى المساجد . قال المهلب : وفيه جواز مكالمة المرأة من وراء الستر»[۳۲].

---

۲۹. صحيح البخاري (٦/ ١٢٠) مخکينی مصدر، په کتاب التفسير کې د سورت احزاب په تفسير کې په «باب قوله: {لا تدخلوا بيوت النبي إلا أن يؤذن لكم...» کې د حديث شمېره (۴۷۹۵).

۳۰. صحيح البخاري (٦/ ١١٨) د حديث شمېره (۱۴٦) ده.

۳۱. التوضيح لشرح الجامع الصحيح ج ۲۵ ص ۱۴۵، ابن الملقن سراج الدين أبو حفص عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري (المتوفى: ۸۰۴هـ)، چاپوونکې اداره: دار النوادر، دمشق – سوريا، لومړی چاپ، کال: ۱۴۲۹ هـ - ۲۰۰۸ م.

۳۲. شرح صحيح البخارى ج ۷ ص ۳٦۴، ليکوال: أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك بن بطال البكري القرطبي (توفي عام ۴۴۹هـ)، چاپوونکی اداره: مكتبة الرشد - السعودية / الرياض - ۱۴۲۳هـ - ۲۰۰۳م، دويم چاپ.

په دې حديث کې د دې دليل شته چې ښځو د هر هغه ځه لپاره د کورونو څخه بيرون وتل جايز دي چې شريعت ورته په کې وتل روا کړی دي، لکه د پلرونو، مورگانو او خپلو خپلوان ليدنه او زيارت، او داسې نور څه چې دوی ورته اړتيا ولري، او دا مسجد ته د وتلو په حکم کې دي، مهلب (د ابن بطال شيخ دی) وايي: د دې حديث څخه دا هم ثابتېږي چې د پردې تر شا ښځې سره خبرې اترې هم روا دي.

مشهور حنفي عالم او فقيه امام بدر الدين عيني وايي: «في هذا الحديث دليل على أن النساء يخرجن لكل ما أبيح لهن الخروج فيه من زيارة الآباء والأمهات وذوي المحارم وغير ذلك مما تمس الحاجة إليه، وذلك في حكم خروجهن إلى المساجد. وفيه: خروج المرأة بغير إذن زوجها إلى المكان المعتاد للإذن العام فيه»[۳۳].

په دې حديث کې پر دې دليل شتون لري چې ښځې د خپلو کورونو څخه د هر هغه کار لپاره بيرون وتلی شي چې بيرون وتل ورته په کې روا وي لکه د پلرونو او مورگانو او خپلوانو د ليدلو او همداسې د نورو کارونو د سرته رسولو لپاره چې اړتيا ورته پيدا کېږي، او دا مسجد ته د ښځو د وتلو په حکم کې دي، حديث په دې هم دلالت کوي چې ښځه د خاوند له اجازې پرته هم داسې ځايونو ته تللی شي چې عادتا ورته ښځه ځي، ځکه په دې کې د مېړه عمومي اجازه وجود لري.

د بخاري شريف د شارحينو په عبارتونو کې چې د کومو اړتياو يادونه شوی ده، هغه يواځې د بېلگې په توگه ذکر شوي دي، اړتياوې په دې کې منحصرې نه دي، بلکې دا اړتياوې له يو وخت څخه بل وخت ته او له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته متفاوتې وي، بله دا چې دا اړتياوې يوازې فردي اړتياوې هم نه دي بلکې په دې کې ټولنيزې اړتياوې هم شاملې دي، په دې معنی که ټولنه اړتيا پيدا کړي چې يو شمېر ښځې په څه کارونو وگمارې نو دا هم د اړتيا په مفهوم کې شامل دي او د دې لپاره به ښځو له کور څخه وتل جائز او روا وي.

**دويم حديث**

«عن حفصة بنت سيرين قالت: كنا نمنع جوارينا أن يخرجن يوم العيد، فجاءت امرأة، فنزلت قصر بني خلف، فأتيتها، فحدثت أن زوج أختها غزا مع النبي صلى الله عليه وسلم ثنتي عشرة غزوة، فكانت أختها معه في ست غزوات فقالت: فكنا نقوم على المرضى ونداوي الكلمى، فقالت: يا رسول الله، على إحدانا بأس إذا لم يكن لها جلباب أن لا تخرج؟ فقال: لتلبسها صاحبتها من جلبابها، فليشهدن الخير ودعوة المؤمنين. قالت حفصة: فلما قدمت أم عطية أتيتها فسألتها: أسمعت في كذا وكذا؟ قالت: نعم

---

۳۳. الكتاب: عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج ۲۰ ص ۳۰۹، ليکوال: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: ۸۵۵ هـ)، چاپوونکی اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، (منشورات محمد علي بيضون) لومړی چاپ، د چاپ کال ۲۰۰۱م ۱۴۲۱ هـ.ق.

بأبي، وقلما ذكرت النبي صلى الله عليه وسلم إلا قالت بأبي، قال: ليخرج العواتق ذوات الخدور، أو قال: العواتق وذوات الخدور - شك أيوب والحيض، ويعتزل الحيض المصلى، وليشهدن الخير ودعوة المؤمنين. قالت: فقلت لها: آلحيض؟ قالت: نعم، أليس الحائض تشهد عرفات، وتشهد كذا، وتشهد كذا»[٣٤].

حفصه بنت سيرين وايي: موږ به خپلې نجونې منع كولې چې د اختر په ورځ ووځي، نو يوه ښځه راغله او د بني خلف په ماڼۍ كې ميلمنه شوه، نو زه ورغلم، نو حديث يې بيانوه چې د هغه د خور (چې ام عطية نوميږي) خاوند د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په دولسو غزاګانو كې ګډون كړی دی، او خور يې هم په شپږو غزاګانو كې ورسره وه، (نو خور يې وايي): موږ به مريضان پالل، او د زخميانو تداوي به مو كوله، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې وويل: كه په موږ كې د چا څادر نه وي او و نه وځي ايا كومه ګناه ورته شته؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه ملګرې دې ورته خپل څادر وركړي، او د خير كارونو او د مؤمنانو د دعا مجالسو كې دې حضور پيدا كړي.

حفصه بنت سيرين وايي: كله چې ام عطية راغله نو زه ورغلم او پوښتنه مې ترې وكړه چې په دې اړه دې څه اورېدلي دي؟ هغې وويل: بلې زما پلار دې ترې قربان شي (هغې به اكثره چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ذكر كاوه دا به يې ورسره ويل زما پلار دې ترې قربان شي) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: ځوانې با پرده ښځې او يا يې وويل ځوانې او با پرده (ايوب په كې شک كړی) او په حيض كې مبتلا ټولې ښځې دې ووځي، او د خير كارونو كې د شتون پيدا كړي او د مؤمنانو د دعا مجالسو ته دې حاضرې شي، خو حائضې ښځې دې د مصلى څخه لرې اوسېږي، حفصه وايي ما ورته وويل: حائضې ښځې؟ ام عطيه وويل: (دا څه د تعجب خبره ده) حائضې ښځې عرفات او نورو نورو ځايونو كې نه حاضرېږي؟.

په دې حديث كې د «وليشهدن الخير» لفظ راغلی دی، يعنې د خير په كارونو كې دې شتون پيدا كړي، همدا راز «ودعوة المؤمنين» د مؤمنانو د دعا په مجالسو كې دې حضور پيدا كړي، په دې كې شک نشته چې دا امر د وجوب لپاره نه دی، مګر په عامه توګه د ښځو د كور څخه بيرون ته د وتلو اجازه ترې ثابتېږي.

همدا راز د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د ام عطيه په غزاګانو كې شركت كول او بيا د مريضانو پالل او د زخميانو تداوي كول دا ټول په ټولنيزو چارو كې د ښځو د ګډون په جواز دلالت كوي.

[٣٤]. «صحيح البخاري» (٢/ ٢٢) مخكينی مصدر، كتاب العيدين، باب إذا لم يكن لها جلباب في العيد، د حديث شمېره (٩٨٠)

**دریم حدیث: په واده کې ښځو ګډون**

امام بخاري په کتاب النکاح کې یو باب ایښی دی چې عنوان یې دی «باب ذهاب النساء والصبيان إلى العرس» او دا لاندې حدیث یې په کې راوړی دی، «عن أنس بن مالك رضي الله عنه، قال: أبصر النبي صلى الله عليه وسلم نساء وصبيانا مقبلين من عرس، فقام ممتنا، فقال: «اللهم أنتم من أحب الناس إلي»[۳۵].

چې رسول الله صلى الله عليه وسلم څه ښځې او ماشومان ولیدل چې له یو واده څخه راروان ؤ، نو له هغوی څخه د مننې په پار ودرېده او وه یې ویل: «الله شاهد دی چې تاسې ماته تر ټولو خلکو زیات محبوب یاست».

شيخ الحدیث محمد زکریا کاندهلوي صاحب وايي: حافظ ابن حجر وايي، د دې باب عنوان یې دا ځکه انتخاب کړی چې څوک دا ګمان و نه کړي چې په واده کې په دې ډول ګډون کول مکروه کار دی، نو وه یې غوښتل چې دا ثابت کړي چې دا کار له کراهت څخه پرته درست دی، همدا خبره علامه عیني هم کړې، او قسطلاني هم ورته اشاره کړې ده[۳۶].

په دې اړه احادیث ډېر زیات دي چې راجمع کول یې یو لوی کتاب ته اړتیا لري، یو مصري عالم عبد الحلیم ابو شقة یو کتاب لیکلی چې عنوان یې دی «تحرير المرأة في عصر الرسالة» ټول کتاب په شپږ ټوکو کې چاپ شوی دی، په دې کتاب کې یې یواځې د صحیحینو احادیث راجمع کړی دي چې د دویم جلد عنوان یې دی «مشاركة المرأة المسلمة فى الحياة الاجتماعية ولقاؤها الرجال»، او دا ټول مجلد په هغه احادیثو مشتمل دی چې په ټولنیزو کارونو کې د کور څخه بیرون د ښځو په ګډون باندې دلالت کوي، په دې کې ډېر زیات احادیث او ډېر زیات واقعات ذکر کړي دي. شاید په ډېرو امورو کې د شیخ عبد الحلیم ابو شقة سره توافق و نه لرم خو یواځې دا ویل غواړم چې په دې اړه ډېر زیات احادیث شتون لري چې دا ثابتوي چې مسلمانو ښځو په ټولنیزو فعالیتونو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت کې په قوت سره ګډون درلوده.

**د فقهاو تصریحات**

د فقهاو په اقوالو کې مې داسې کوم قول تر اوسه تر سترګو نه شو چې د کور څخه د ښځې وتل مطلقا ناروا وګڼي، څومره اقوال هم چې راغلي دي هغه د دې تصریح کوي چې د فتنې د وېرې له امله د ښځو وتل نا درست ګڼي، او یا یې هم له دې امله نا روا ګڼي چې څوک د شرعي پردې او حجاب رعایت نه کوي، او په دې کې خو شک نشته چې په بې پرده ګۍ سره او د شرعي سرحدونو څخه د تجاوز په صورت کې، او یا هم د داسې کارونو لپاره چې د ښځو لپاره اصلا روا نه وي د ښځو وتل ناروا او

---

۳۵. «صحيح البخاري» (۷/ ۲۵) مخکینی مصدر د حدیث شمېره (۵۱۸۰).

۳۶. شرح تراجم أبواب البخاري ج ۵ ص ۵۴۶، کتاب النکاح د باب شمېره ۷۵،تحقیق: دکتور ولي الدين بن تقي الدين الندوي، چاپوونکی اداره: دار البشائر الاسلامية، بیروت، لومړی چاپ ۱۴۳۳هـ ۲۰۱۲م.

نا درست دي، مګر له دې پرته که څوک د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره له کور څخه بيرون وځي نو دا کار نا روا نه دی او نه د الله تعالی د دې مبارک قول سره په تضاد کې قرار لري چې فرمايي: {وقرن في بيوتكن ولا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى} [الأحزاب: ۳۳]

په دې اړه دلته يواځې د حنفي فقهې د کتابونو څخه يو څو عبارتونه نقلوم، کېدلی شي په آخر کې د استئناس به خاطر د نورو مذاهبو مختصر عبارتونه هم نقل کړم.

په هدايه کې مرغيناني صاحب وايي: د حج د فرضيت په بحث کې دا خبره د يوې قاعدې په توګه يادوي، وايي: «لأنه يباح لها الخروج إلى ما دون السفر بغير محرم»[۳۷].

(د درې ورځو او درې شپو قيد يې ځکه ذکر کړ چې) ښځې ته له دې څخه کم مسافه کې (چې د شرعي سفر مسافه نه وي) د محرم څخه پرته بيرون وتل روا دي.

همدا خبره ټول فقهاء کوي د بېلګې په توګه علامه علاء الدين کاساني وايي: «أنه يباح لها الخروج إذا لم يكن بين مقصدها ومنزلها مسيرة ثلاثة أيام»[۳۸].

چې د ښځې د کور او هغه ځای چې هغه ورته د سفر اراده لري د درې ورځو مسافه نه وي (له دې څخه کمه مسافه وي) نو هغې د کور څخه وتل (د محرم څخه پرته) روا او مباح دي.

او ابن نجيم مصري وايي: «لأنه يباح لها الخروج إلى ما دون ذلك لحاجة بغير محرم» په دې باندې په تعليق کې ابن عابدين وايي: « أي إذا لم تكن معتدة وروي عن أبي حنيفة وأبي يوسف كراهة الخروج لها مسيرة يوم بلا محرم فينبغي أن تكون الفتوى عليه لفساد الزمان شرح اللباب»[۳۹].

ښځې ته د درې ورځو او درې شپو څخه په کمه مسافه کې د اړتيا په وخت کې له کور څخه وتل مباح دي د کوم محرم د مرافقت څخه پرته هم.

ابن عابدين وايي: يعنې کله چې ښځه د عدت په حالت کې نه وي نو بيا د اړتيا په وخت کې د محرم د مرافقت څخه پرته له کور څخه وتلی شي چې مسافه له درې ورځو او شپو د سفر څخه کمه وي، د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف څخه يو روايت دا هم دی چې که مسافه يوه ورځ وي نو د محرم

---

۳۷. الهداية شرح بداية المبتدي ج ۱ ص ۱۳۳، د أبو الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني المرغياني (۵۱۱هـ ـ ۵۹۳هـ) خپروونکي اداره: المكتبة الإسلامية.

۳۸. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج ۳ ص ۲۰۷، ليکوال: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: ۵۸۷هـ) خپروونکی اداره: دار الكتب العلمية

دويم چاپ، کال ۱۴۰۶هـ - ۱۹۸۶م.

۳۹. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (۲/ ۳۳۹) بحر الرائق د زين الدين ابراهيم بن محمد بن نجيم المصري (ت ۹۷۰ه) کتاب دی، او منحة الخالق دابن عابدين شرح ده، او تکملة بحر الرائق د محمد بن حسين بن علي الطوري الحنفي القادري کتاب دی، چاپوونکی اداره: دار الكتاب الاسلامي، بدون تاريخ.

ښځه پرته ښځې ته له کور څخه وتل مکروه دي، او پکار دا ده چې د زمانې د فساد له امله فتوی په همدې قول وي لکه په شرح اللباب کې یې چې یادونه شوی ده.

تر دې چې امام بدر الدین عیني په دې اړه اجماع نقل کوي چې د ازواج مطهراتو څخه پرته د نورو ښځو لپاره د کور څخه وتل روا دي په دې شرط چې شرعي ادبونه رعایت کړي، او د هغه شرعي مخالفتونو څخه ځان وساتي چې د قرآن کریم په اصطلاح «د لومړي جاهلیت د تبرج په څېر تبرج» بلل کېږي، هغه د بخاري شریف د کتاب التفسیر د سورت احزاب په تفسیر کې د دې باب لاندې چې: (باب قوله تعالی: {لا تدخلوا بیوت النبي إلا أن یؤذن لکم...) د حضرت سوده بنت زمعه د واقعې لاندې چې مخکې یې یادونه وشوه، وایي: «ولا خلاف أن غیرهن یجوز لهن أن یخرجن لما یحتجن إلیه من أمورهن الجائزة بشرط أن یکن بذة الهیئة خشنة الملبس تفلة الریح مستورة الأعضاء غیر متبرجات بزینة ولا رافعة صوتها»[٤٠].

په دې کې هیڅ اختلاف شتون نه لري چې د ازواج مطهراتو څخه پرته نورو ښځو ته روا دي چې د کور څخه د خپلو جایزو اړتیاو د پوره کولو لپاره بهر ووځي، په دې شرط چې په زړو جامو کې به وي، که لباس یې اغوستی وي نو باید شډل وي، عطر به یې نه وي لګولی، د جسم غړي به یې پټ وي، ښکلا به یې ښکاره نه وي، او نه به خپل اواز اوچتوي.

د کوم حالت ذکر چې امام عیني کوي، د دې معنی دا نه ده چې په حرفي توګه دا د تطبیق وړ وي، خو اصل خبره هماغه ده چې د قرآن کریم په همدې ایت کې یې یادونه شوی چې موږ یې د فهم کوښښ کوو، چې الله تعالی فرمایي: {ولا تبرجن تبرج الجاهلیة الأولی} [الأحزاب: ٣٣] نو کله چې ښځه د لومړي جاهلیت د ښځو په څېر د خپل ډول او سنګار د څرګندولو کوښښ نه کوي[٤١] او د عزت او حشمت جامې یې په تن وي نو د خپلو روا اړتیاو لپاره د کور څخه وتلی شي، او دا امت د عامو علماو نظر دی.

سره له دې چې کله ښځه واده شي د هغه لپاره د خپل خاوند اطاعت یو واجب امر ګرځي، او د کور او کورنۍ د حفاظت او ساتنې لپاره ښځه باید په هره وړه او غټ خبره کې د خاوند څخه اجازه واخلي، او په دې اړه ډېر احادیث هم راغلي دي، خو د شریعت طبیعت پېژندونکي فقهاء په دې هم تصریح کوي چې یو لړ ټولنیز فعالیتونه داسې دي چې هلته د خاوند له اجازې څخه پرته هم ښځه له کور څخه بهر

[٤٠]. عمدة القاري شرح صحیح البخاري (١٩/ ١٧٧) أبو محمد محمود بن أحمد بن موسی بن أحمد بن حسین الغیتابی الحنفی بدر الدین العینی (المتوفی: ٨٥٥هـ) چاپوونکی اداره: دار الکتب العلمیة، د محمد علي بیضوي د منشوراتو څخه، لومړی چاپ، کال: ١٤٢١هـ ٢٠٠١م.

[٤١]. د دې جملې په تفسیر کې مفسرینو ډېر اقوال نقل کړي دي، او د دې اقوالو په رڼا کې یېددې جملې تفسیر کړی دی.

وتلی شي، په دې اړه چې کوم حالات په الموسوعة الفقهية الكويتية کې ذکر شوي دي، هغه د لوستلو وړ دي، که څوک وخت لري نو هلته دې ورته مراجعه وکړي[٤٢].

په دې اړه حنفي مذهب دا تصريح کوي چې د حدودو او قصاص څخه پرته په نورو ټولو قضيو کې ښځه قضاء کولی شي، او کمال ابن الهمام د دې علت داسې بيانوي: «وجه جواز قضائها وهو أن القضاء من باب الولاية كالشهادة والمرأة من أهل الشهادة فتكون من أهل الولاية»[٤٣].

د قصاص او حدودو څخه پرته په نورو مجالاتو کې د ښځې د قضاء د جواز علت او دليل دا دی چې قضاء د ولايت له جملې څخه ده، لکه گواهي او شهادت، او ښځه د گواهي اهليت لري، نو بناء د ولايت وړتيا هم لري.

همدا راز د پيغمبر عليه السلام يوه صحابيه چې سمراء بنت نهيک نوميده او دره به يې په لاس کې وه او خلک به يې تأديبول[٤٤].

همدا راز د حضرت عمر بن الخطاب له لورې د الشفاء بنت عبد الله د ښار د کنترول لپاره مقررول[٤٥] هم په دې دلالت کوي چې د خير کارونو لپاره بهر ته د ښځو وتل شرعا کوم مانع نه لري.

د حنفي مذهب د تصريحاتو په څېر تصريحات د نورو فقهي مذاهبو په فقهي کتابونو کې هم شتون لري، چې له دې څخه دا څرگندېږي چې دا د امت يو اتفاقي دريځ دی، او هغه خلک چې په دې اړه تشدد کوي هغوی د احتياط په نوم په خلکو هغه څه تحميلول غواړي چې د اسلام د مزاج سره برابر نه دي.

---

[٤٢]. الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٨ ص ٢٣٥، د بيت الزوجية تر اصطلاح لاندې يې دا عنوان ايښی دی «ما يجيز للزوجة الخروج من بيت الزوجية» چې د احنافو د معتبرو کتابونو ترڅنگ يې د نورو معتبرو فقهي مذاهبو څخه هغه حالات په گوته کړي دی چې په کومو حالاتو کې ښځه د ميړه له اجازې پرته هم له کور څخه وتلی شي، سره له دې چې دا اصل دی چې د خاوند اجازه بايد ورسره وي، خو څه حالات داسې هم دي چې هغې پرته هم ورته وتل روا دي.

[٤٣]. شرح فتح القدير (٧/ ٢٩٨) کمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي (٦٨١هـ ق) چاپوونکی اداره: دار الفكر، بيروت ـ لبنان.

[٤٤]. دا حديث معجم کبير کې طبراني ص ٢۴ ص ٣١١، کې او هيثمي په مجمع الزوائد ج ٩ ص ۴٢٨ کې نقل کړی او وايي رواه الطبراني و رجاله ثقات.

[٤٥]. الآحاد والمثاني لابن أبي عاصم (٦/ ٣) تأليف: أبو بكر بن أبي عاصم وهو أحمد بن عمرو بن الضحاك بن مخلد الشيباني (المتوفى: ٢٨٧هـ) تحقيق: د. باسم فيصل أحمد الجوابرة، چاپوونکی اداره: دار الراية – الرياض، لومړی چاپ، کال ١۴١١هـ ق - ١٩٩١م.

**خاتمه**

اسلام د وسطیت دین دی، په هره قضیه کې اسلام دا وسطیت او اعتدال ساتلی دی، په دې قضیه کې هم همدا وسطیت چې د قرآن کریم، نبوي احادیثو او د اسلام د معتبرو فقهاو له اقوالو څخه څرګند دی، باید په پام کې ونیول شي، او هر څوک چې د قرآن کریم او د نبوي سنتو د غلط فهم او یا هم د سد الذریعې د اصولي قاعدې د غلط استعمال په نتیجه کې ښځه مطلقا په کور کې حبس کول غواړي، او د هر ډول ټولنیز فعالیت څخه یې منع کول غواړي، دا یو افراطي نظر دی، د اسلام د درست فهم سره سمون نه خوري، موږ په ډېرو قضیو کې د احتیاط په نوم هغه څه په دین ورتپل غواړو چې د دین د روح سره منافي وي، دا په حقیقت کې هماغسې ناوړه کار دی لکه اعتزالي فکر یا نوی اعتزالي فکر او یا هم نوپالان یې چې په منفي اړخ کې په اسلام ورتپل غواړي، تفاوت یواځې دومره دی، چې د خپل عقل پر بنسټ تلونکي احتیاط کاران د خپل عقل پر بنسټ هغه دائره نوره هم تنګول غواړي چې اسلام د انسانانو د ازادیو لپاره پرې ایښي ده، او دا عقل ګرایان هغه دائره د هغه حد څخه نوره هم پراخول غواړي چې اسلام ورته ټاکلی دی، چې دا دواړه کارونه درست نه دي، درست او صحیح دریځ هغه دی چې موږ د ازادیو او قیودو دائره په هماغه حد کې وساتو چې اسلام ټاکلی ده، همدا د اسلام وسطي فهم دی، او همدا د اسلام د معتمدو فقهاو د اسلامي فکر د تاریخ په اوږدو کې وړاندې کړی دی.

او هغه څوک چې ښځې ته د کور نه د وتلو په اړه د اسلام د مشروطې اجازې څخه ناوړه استفاده کول غواړي او له دې لارې د غرب د تمدن ناوړه اثرات په ټولنه مسلط کول غواړي، دا یو تفریطي نظر دی چې اسلام ورسره هیڅ ډول موافقت نه لري.

د اسلام درست او وسطي فهم هماغه دی چې د الله تعالی په دې مبارک قول کې یې یادونه شوی ده، چې فرمايي: {وقرن في بيوتكن ولا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى} [الأحزاب: ۳۳] په کور کې پاتې شئ، (او د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره د کور څخه وتلی شئ، خو کله چې له کوره وځئ نو) د لومړي جاهلیت د څرګندېدلو په څېر مه راښکاره کېږئ. یعنې د وتلو په وخت کې هغه شرعي اداب رعایت کړئ چې د پردی او احتشام په اړه په اسلام کې ټاکل شوي دي.

کله چې د دې مبارک ایت مفهوم دا شو نو هیڅ چا لپاره نه ښایي چې د دې مبارک ایت څخه نا درست استدلال وکړي او په مسلمانه ټولنه کې مسلمانه ښځه په مثبتو کارونو کې د ګډون څخه منع کړي، هو! دا د اسلامي نظام مسؤولیت دی چې داسې آداب او لوائح وضع کړي چې له لارې یې هغه بې بندوباری کنترول کړي چې یو شمېر خلک یې په مسلمانو ټولنو کې ترویجول او خپرول غواړي، د یو نظام په حیث د قضیو سره تعامل له دې سره تفاوت کوي چې یو مفتي یا یو عالم یې په شخصي توګه ورسره کوي، فقیه، مفتي او عالم خو حالت ګوري او د هغه مشخص حالت په اړه حکم صادروي، یا په د اصولیینو په تعبیر په مشخص حالت د شرعي حکم تنزیل کوي، مګر د یو نظام مسؤولیت دا دی چې د شریعت د اصلي حکم د تطبیق سره چې کوم نادرست او ناروا کارونه یو ځای شوي دي، چې د دې ناروا کارونو له امله هغه قبیح لغیره ګرځېدلی دی، او فقهاو ورته د همدې ناروا کارونو له امله پرې د

ناروا حکم کړی دی، هغه ناروا کارونه منع کړي او اصل حکم پر خپل ځای د عمل وړ پاتې شي، او دا ځکه چې کومې آزادۍ چې اسلامي شریعت په اسلامي ټولنه کې خلکو ته ورکړ شوی دي که هغه په یو نوم او یا بل نوم سلب کړی شي نو دا هم اختناق او استبداد رامنځته کوي، نو علاج یې دا دی چې اصل احکام چې په دې کې د اباحت یا آزادۍ حق دی هغه خلکو ته ورکړی شي او دا روا کار چې ناروا ګرځوي هغه کارونه منع کړی شي، دا کار درست نه دی چې د دې ناروا کارونو له امله د خلکو ازادۍ هم سلب کړی شي، دا به اسلام نا درست او غلط فهم او تطبیق وي.

دا هم باید په ذهن کې ولرو چې د فقهاو په کتابونو کې چې د کومو حالاتو یادونه شوی ده چې ښځه د هغې د سرته رسولو لپاره د کور څخه بهر وتلی شي، هغه یوائې د بېلګې په توګه ذکر شوي دي، او هر فقیه یې د خپلې زمانې د اړتیاو په نظر کې نیولو سره یادونه کړی ده، دا اړتیاوې له یوې زمانې څخه بلې زمانې ته متفاوتې دي، نو په کار ده چې په فقهي کتابونو کې یادو شوو صورتونو او حالتونو ته د مثال په سترګه وکتل شي، نه د حصر په سترګه، همدا راز اصل حکم ته وکتل شي چې د شرعي پردې په حالت کې مسلمانه ښځه شرعا اجازه لري چې د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره د کور د مشر په اجازه له کور څخه بهر ولاړه شي، او بیا د دې تعیین چې څه اړتیا بلل کېږي، په دې اړه خو باید دا څرګنده وي چې له دې څخه شرعي ضرورت مراد نه دی، بلکې له دې څخه هغه انساني اړتیاوې مراد دي چې انسان ورته اړ کېږي هغه که ضروریات وي، که حاجیات وي او که حتی تحسینیات هم وي، نو بناء دا اړتیاوې له یوې زمانې څخه بلې زمانې ته او له یوې منطقې څخه بلې منطقې ته متفاوتې وي.

بله خبره چې باید ورته متوجه وه اوسیږو هغه دا ده چې دا اړتیا به کله فردي اړتیا وي، او کله به دا ټولنیزه اړتیا وي، لکه زموږ د فقهي په پخوانیو کتابونو کې یې مثال «نفیر عام» ورکړی دی، چې ښځه په دې حالت کې د میړه اجازې ته هم اړتیا نه لري او وتلی شي، همدا راز نورې ټولنیزې اړتیاوې پیدا کېدلی شي چې ښځه باید د هغوی د پوره کولو لپاره بهر ته را ووځي، لکه په اوسنۍ زمانه کې په طبي او یا هم د اطفالو د تعلیم په برخه کې د ښځو راوتل چې دا یو ټولنیزه اړتیا ده او دا ټول باید په نظر کې ونیول شي.

د الله تعالی د دربار څخه لاس په دعا یو چې موږ ته د قرآن کریم د درست فهم توفیق راکړي، تر څو خپل ژوند د الله تعالی د شریعت سره په درسته توګه عیار کړی شو.

# رقابت های غیر قانونی تجارتی و التزامات قانونی آنها

احمد صمدی[1]

ahmadsamadi26@gmail.com

عبدالحمید رفعت[2]

abdulhamidrafat@gmail.com

**خلاصه**

رقابت تجارتی؛ اعم از قانونی و غیر قانونی، یکی از موضوعات مهم و قابل بحث در حقوق تجارت است که از مزایای منحصر به فرد آن جوامع امروز مستفید می شوند، اولین قانون رقابت تجاری، تحت عنوان قانون شرمن نام انگلیسی آن نوشته شود، بر ضد تراستها بود در حدود یک ونیم قرن قبل در آمریکا تصویب شد. که در کشور ما بعد از تصویب اصولنامه تجارت افغانستان در زمان محمد ظاهر شاه در سال ۱۳۳٦ هـ.ش منحیث اولین قانون در عرصه تجارتی در باره رقابت تجارتی صراحت های داشت و بعد از موافقتنامه بن و تصویب قانون اساسی، اقتصاد بازار به عنوان نظام اقتصادی پذیرفته شده. در نظام اقتصاد بازار مداخله دولت در بازار توسط وضع قوانین به خاطر جلوگیری از انحصار و هر نوع اعمال انحصار گرایانه محض توسط عرضه کنندگان اموال و خدماتی که در آن ضرر مستهلکین و جامعه باشد، پذیرفته شده است.

در این مجموعه با درک اهمیت و هدف موضوع تلاش شده است که جهت آگاهی دهی و تفصیل مسئله پیرامون موارد مربوطه مفاهیم موضوع، راهکار های قانونی و غیر قانونی و مویدات رقابت های غیر قانونی بحث صورت بگیرد

**مقدمه**

برای تنظیم امور بشری از بدو پیدایش بشر ضرورت احساس می‌شد تا قواعد و مقررات باشد، که امور بشری را تنظیم کند، حتی در معاملات یومیه، تا مدت ها قاعدهٔ که آرامش را در زندگی میان بشر آورده بود "قاعدهٔ صلح، آشتی و آرامش" بود. حفظ و نگهبانی از این قاعده وظیفه سنگین حقوق بود، هرگاه اختلاف و منازعهٔ شکل می‌گرفت و یا قاعده یی نقض می‌شد، حقوق دخالت میکرد و دوباره آرامش را می آورد. در این دوران تفاوتی میان زندگی مدنی و تجاری افراد وجود نداشت. یعنی در حیات تجاری هم همین قاعده حاکم بود. اما امروز بشر پی برده که در زندگی تجاری باید رقابت میان

---

[1]. عضو کادر علمی پوهنحی حقوق و علوم سیاسی پوهنتون سلام.

[2]. عضو کادر علمی پوهنحی حقوق و علوم سیاسی پوهنتون سلام.

تاجران حاکم باشد. که نتایج مطلوبی بار می آورد. زیرا استفاده بهتر از منابع، خود باعث توسعه و پیشرفت زود هنگام جامعه می گردد.

این وظیفه نوین را در دیگر شاخه های حقوق نمی توان یافت، به جز در رشته جدید که در اکثر کشور های توسعه یافته بنام حقوق رقابت از آن سخن به میان می‌آید.

**أ:بیان مسئله**

قوانین رقابتی نخست از امریکا سر چشمه گرفت و در اواخر قرن نوزدهم، امریکا نخستین کشوری بود که قانون حمایت از رقابت ((ضد تراست)) را تصویب کرد. این رشته نو پا در اوایل دهه ۱۹۹۰ م. رشد چشمگیری نمود. امروزه تقریبا ۱۰۰ کشور دنیا قانون رقابت تجارتی دارند. علت آن پی بردن کشورها از نواقص نظام اقتصاد انحصار دولتی و بعضی مزایایی نظام اقتصاد بازار آزاد است. پس جهت تأمین رفاه شهروندی، در نظام اقتصاد بازار ضرورت تصویب یک سلسله قوانین به خاطر کنترول بازار احساس می‌گردید. قوانین حمایت از رقابت تجارتی باعث رفاه شهروندی و جلوگیری از شکست بازار و عنصر بقای مدرن سازی است، که در نبود آن بازار آزاد مانند بازار دولتی محکوم به شکست می‌شود.

نیاز جدی در مورد مدیریت رقابت های تجارتی احساس می شود که باید مورد توجه دولت ها قرار داشته باشد.

به همین خاطر ضرورت احساس می شود که در مورد نگرانی های مزید در عرصه اقتصاد نوپای افغانستان تلاش صورت بگیرد جهت تقویهٔ روحیهٔ سرمایه گذاران و توجه و حمایت سرمایه گذاری آنها برای دولت تلقین بیشتر شود که در مورد حفظ و مدیریت بازار تلاش مضاعف انجام شود.

پس در تحقیق روی درک اهمیت مسئله تلاش صورت می‌گیرد جهت آگاهی عامه و جلب توجه تاجران بحث موثر و مفید ارایه شود.

**ب:اهمیت موضوع**

از بدو تأسیس موسسهٔ بنام دولت منابع تمویل آن خیلی بسیط و ابتدایی بود طوریکه از طریق زراعت، لشکر کشی ها، هدایا و غیره تأمین می‌شد. اما بعد از قرون وسطی با درک مسئولیت های جدید برای دولت زمینه برای این مساعد شد که دولت راهکار های بدیل را برای تمویل هزینه های خویش در نظر بگیرد.

پوښتنې: په یاد صورت کې پوښنتې مطرح کیږی چې:

- څنګه کیدای شي داین (احمد) خپل حق پرته له ضرره ترلاسه کړي؟

- مدیون ( محمود) څه څنګه کولی شی چې دین، داین ته په بشپړه توګه وسپاري او متضرر هم نشي؟

- څنګه کیدای شي چې دواړه اړخه د سود ورکولو او اخیستلو څخه هم وژرغول شي؟

- څه کول په کار دي تر څو معاملات په عادي ډول پرته له کوم مادي یا معنوي ضرره پرمخ لاړ شي؟

**د تحقیق موخه:**

پدې لنډه څیړنه کې هڅه کووڅو له معتبرو پخوانیو او اوسنیومنابعو څخه په استفادې، د پیسو ارزښت د بدلون په صورت کې د قرضونو د ورکړې شرعي حکم څرنګوالی بیان کړو، خو څرنګه چې یاده موضوع پراخه، حساسه او مغلقه ده؛ اړتیا ده چې ځینې جانبي عناوین او ضمني پوښتنې مطرح کړای شي، لکه د پیسو رامنځ ته کیدو تاریخ بیانول، د هغو بیلابیلو ادوار طی کولوپه هکله مختصر معلومات وړاندې کول او د پیسو د ارزښت د تغییر عوامل، دا ټول هغه جانبي عناوین دي چې د بحث په وضاحت کې مهم رول لري .

پورتنیو پوښتنو ته بشپړ او دقیق ځواب پیدا کول، تفصیل او تقسیم ته اړتیا لري؛ ځکه نقود په مختلفو زمانو کې له زیاتو بدلونونو سره مخ شوي دي، د دې پاره چې د پیسوحکم په وضاحت سره بیان شي، د هرې زمانې د پیسوحکم جلا او په منظم شکل وړاندې کوو:

---

[۱]. مجلة مجمع الفقه الإسلامي بجدة، الدورة الخامسة، العدد الخامس، الجزء الثالث، لسنة 1988م بحث الدكتور عجيل بن جاسم النشمي، ص162.

**لومړی- د دینارو اودرهمو زمانه:**

دینار اودرهم له اسلام څخه مخکې شتون درلود، چې د روم اوفارس له خوا له سرو او سپینو زروجوړې شوې پیسې، د هغه وخت معتبرې او عامې مروجې سکې بلل کیدې، او دجاهلیت په دورکې په عربوکې هم په راکړه ورکړه کې له اعتبار څخه برخمنې وې، د اسلام مقدس دین په راتګ سره هم، د تسامح له مخې ورته اعتبار ورکړل شو، دغه دینار او درهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه وو د ژوند په مختلفو چاروکې کارول کیدې، البته ارزښت یې له وزن سره ارتباط درلود، پدې معنا چې متفاوت وزن لرونکې درهم اودینار متفاوت قیمتونه لرل [١].

اسلام اسلام په لومړیو کې مالي حقوق او مکلفیتونه د ژوند په مختلفو چاروکې په دینارو اودرهمو سره تقییم او ادا کیدل، لکه د زکات نصاب معلومول او ورکړه یې، د جزیې مقدار، په شخصي احوالو کې د مهر اندازه او ادا یې، د عقوباتو په بحث کې د دیاتو او د هغه سارق چې غلا یې نصاب ته رسیدلی وي، د لاس قطعه کول یې او داسې نور[٢].

**د دینارو اودرهمو د پور ادا کولو څرنګوالی:**

ټول فقهاء په یوه نظر دي، چې که د چا په ذمه د سرو او سپینو زرو دینارو او یا درهمو دین وي، د وخت په تیریدو سره سره که په ارزښت کې یې تغییر هم راشي، مدیون به هماغه اندازه دینار یا درهم ورکوي چې په ذمه یې ؤ، په دې معنا چې د سرو زرو اویا د سپینو زرو په قیمت کې د تفاوت موضوع ته نه کتل کیږي؛ ځکه طلا اونقره په خپل ذات کې ارزښت لري او د اشیاوو د تبادلې ذریعه ده، نو په قیمت کې یې تفاوت د دین په ورکړه کې کوم اثر او ارتباط نلري.

د دینارو اودرهمو پرته د نورو پیسو شرعي حیثیت:

دینار او درهم چې له سرو زرو او سپینو جوړې شوې سکې دي او فقهاء ورته د نقدینو اصطلاح کاروي، چې اتفاقي شرعي ( نقدین ) پیسې ګڼل کیږي، خو داچې د دواړو نقدینو پرته نور څه کیدای شي د پیسو حیثیت خپل کړي ؟ پدې هکله علماء په دوو متفاوتو نظرونو ویشل شوي دي:

**لومړی نظر:**

دینار او درهم دوه هغه یوازینې شرعې پیسې دي، چې له هغو پرته نور څه دغه شرعي صفت نشي ترلاسه کولی اوکه څه نوي د تبادلاتو د ذریعې په حیث رامنځ کیږي، هغه به په بشپړ ډول په درهمو او دینارو پورې تړلې او تابع وي[٣]. د دې نظر پر اساس اوسنۍ کرنسي، په ټوله معنا نقود نه، بلکې له طلاوو او نقرې جوړو شویو دینارو او درهمو تابع پیسې ګڼل کیږي، چې له واقعیت څخه لری نظر دی.

---

١. ابن خلدون :المقدمة، ص261 السرطاوي، د.فؤاد :التمويل الإسلامي ودور القطاع الخاص، دار المسيرة، عمان، ط(1420، 1هـ1999-م(، ص17.

٢- القرضاوي، د.يوسف :فقه الزكاة، مؤسسة الرسالة– بيروت، ط، 4سنة1400هـ1980 -م ج، 1ص240.

٣. زعتري: النقود وظائفها الأساسية وأحكامها الشرعية، ص٣٦١-٣٧٣ بتصرف.

د دې نظر لرونکو، شرعي نقود په سرو او سپینو زروکې منحصرې بللي دي؛ په دې دلیل چې په قرآن کریم او په نبوي احادیثو کې یوازې سرو او سپینو زرو ته اعتبار ورکړل شوی دی، نو سپین اوسره زر خلقتا نقود دي، له هغو عدول جواز نلري[1].

**دویم نظر:**

شرعي نقود په سرو او سپینو زروکې منحصر او محدود نه دي، بلکې د خلکو له خوا د یو څه اتفاق او تعامل په نتیجه کیدای شي د شرعي نقودو حیثیت پیدا کړي، لکه پخوانې فلزي پیسې او اوس مهال کاغذي پیسې چې د تبادلاتو ذریعه ګڼل کیږي او مروجې پیسې بللې کیږي؛ په دې دلیل چې د دینار او درهم اعتبار د نقودو په حیث، په اسلامي شریعت کې د اسانتیا له مخې رامنځ ته شوی ؤ؛ ځکه چې دینار او درهم د وحې د نزول پر مهال په خلکو کې رواج وو؛ بناء د پیسو د اعتبار مساله عرف پورې تړلې ده، د وخت په تیریدو که خلک د سرو اوسپینو زرو څخه علاوه، په بل کوم شي اتفاق وکړي، د اسلامي شریعت له اړخه کومه ستونزه نلري، بلکې شرایطو ته په پام، مصلحت په دې کې دی چې اوسنۍ کاغذي پیسې شرعي نقود او د دینارو او درهمو بدیل وبلل شي؛ لدې وجهې د علماوو په وړاندې شرعي احکام، لکه د زکات وجوب او ادا یې، د سود حرمت او داسې نور مسایل په اوسنیو مروجو پیسو کې تصور کیږي. امام مالک رحمه الله په دې هکله داسې ویلي دي: که چیرې خلک په راکړه ورکړه کې د دینارو او درهمو پرځای نورڅه، لکه څرمن د پیسو په حیث غوره کړي، بیا ماته په دینارو او درهمو تعامل ښه نه ښکاري.[2]

اوسنۍ مروجې پیسې په خلکوکې پوره اعتبار لري، او خلک یې پانګه او د تبادلو یوازینې وسیله ګڼي. دویم نظر د معاصرو مشهورو علماوو نظر هم دی، لکه ډاکټر یوسف القرضاوي، ډاکټر وهبه الزحیلي، مفتي تقي عثماني.[3]

**دویم: د فلوسو( معدني سکو) زمانه:**

د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په زمانه کې متفاوتې وزن لرونکې دراهم خپاره شول، چې په ارزښت یې کې په طبیعي شکل تفاوت را منځ ته شو، خو د دې ترڅنګ یې یو ډول بې نظمي هم را منځ ته کړه، د دې بې نظمې له منځه وړو په موخه عمر رضی الله عنه د میسي سکو د ترویج امر وکړ؛ څوخلک فلزي پیسو ته اعتبار او پرې تعامل وکړي، چې دا د معدني پیسو د رامنځ ته کیدو لومړی پړاو ؤ او وروسته بیا په مختلفو دورو کې مختلف النوع سکې رامنځ ته شوې دي.[4]

د فلوسو( معدني سکو) د پور ادا کولو څرنګوالی:

---

۱. مخکیني مرجع

۲. الإمام مالك: المدونة، ج۳، ص۳۹٦

۳. قرضاوي: فقه الزکاة، ج۱، ص ۲۷۳ (شبیر: المعاملات المالیة المعاصرة، ص ۱۵۳)

٤. الشافعي،حسن محمود :العملة وتاریخها، ص85- بتصرف

د فلوسو یا معدني سکو د ارزښت د بدلون په صورت کې، د قرض ادا کولو د څرنګوالی په هکله فقهاء په دوو برخو ویشل شوي دي.

لومړی نظر: جمهور فقهاوو( مالکیه، شوافع، حنابله اوامام ابوحنیفه رحمهم الله ) نظر دی، چې وایي:

د معدني سکو( پیسو ) د ارزښت لوړوالی او ټیټوالی د دیونو او قرضونو په ادا باندې کوم اغیز نلري، په دې معنا، که د پیسو ارزښت لوړیږی یا ټیټیږي، په دواړو حالتونو کې، مدیون د دین په هماغه اندازه پیسو اداکولو باندې مکلف دی چې وړاندې د ده په ذمه کې دي. د بحث د اعتبار او وضاحت لپاره د پورته نظر د فقهاوو له منابعو څخه څو مثالونه راوړو:

۱. وفي منح الجليل عن المدونة:«إن أقرضته دراهم فلوسا، وهو يومئذ مائة فلس بدرهم، ثم صارت مائتي فلس بدرهم، فإنما يرد إليكم مثل ما أخذ لا غير ذلك».

معنی: که چا ته دې فلس ( د وخت د سکې پیسې ) قرض ورکړې، چې د قرض ورکړې په وخت ۱۰۰ فلس د یوه درهم معادل ؤ، خو وروسته د فلوسو ارزښت ټیټ شو او د ۲۰۰ فلسه د یوه درهم معادل وګرځیدل، نو پوروړی به تاسو ته هماغه اندازه پیسې چې اخیستې وې(۱۰۰) فلس درکوي .

۲. و في المغني: «وأما رخص السعر فلا يمنع سواء كان قليلا أو كثيرا؛ لأنه لم يحدث فيها شيء إنما تغير السعر. فأشبه الحنطة إذا رخصت أو غلت ... ».[1].

معنی: د پیسو د ارزښت ټیټوالی که لږ یا زیات وي، د دین په ورکړه کې مانع نشي واقع کیدای؛ ځکه په خپل ذات کې په پیسو کې بدلون نه دی راغلی، بلکې په ارزښت کې یې بدلون رامنځ ته شوی دی، نو حکم یې د قرض په ادا کې د غنمو په څیر دی، که د غنمو قیمت ټیټ یا لوړ شي، هماغه اندازه غنم ورکول کیږي، چې په قرض اخیستل شوي دي .

۳. وفي مجلة الأحكام مادة ۷۵۰:« وإذا كان القرض فلوسا أو دراهم مكسرة، أو أوراقا نقدية، فغلت أو رخصت أو كسدت، ولم تحرم المعاملة بها وجب رد مثلها»[2].

معنی: د مجله الاحکام په ۷۵۰ ماده کې داسې راغلي دي: که چیرې د قرض نقود، فلوس یا ماتې درهم او یا کاغذي پیسې وي، که د هغو پیسو ارزښت لوړ یا ټیټ او یا کوټه( ناچله) شي، خو تعامل پرې قانوني بنه ولري، نو هماغه اندازه پیسې ورکول کیږي، چې په قرض اخیستل شوي دي.

---

[1]. المغنی ۳۵۸/۴، مطالب أولي النهى ۲۴۱/۲.

[2]. مجلة الأحكام الشرعية مادة ۷۵۰.

دویم نظر: د امام ابویوسف رحمت الله علیه نظر دی، چې په حنفي مذهب کې د ده په نظر فتوی اوعمل کیږي. امام ابویوسف (رح ) وایي: د پیسو د قیمت د لوړوالي اویا ټیټوالي په دواړو صورتونوکې که د چا په ذمه پور وي، د قرض اخیستلو د ورځې قیمت ته په پام، قرض ورکول کیږي او که د چا په ذمه د بیعې له کبله دین وي، نو د عقد د ورځې قیمت ته په پام کې نیولو سره، دین ادا کیږي.

- علامه ابن عابدین د امام ابویوسف نظر داسې نقل کړی دی:

«إذا غلت الفلوس قبل القبض، أو رخصت، قال أبو يوسف: .... عليه قيمتها من الدراهم، يوم وقع البيع أي في صورة البيع، ويوم وقع القرض، أي في صورة القبض. ثم قال ابن عابدين: ....وعليه الفتوى»[۱].

معنی: که د پیسو ارزښت له قبضه مخکې لوړ اویا ټیټ شو، د امام ابویوسف په نظر : په پوروړي د پیسو ارزښت ته په کتو، له درهمو هماغه تفاوت ورکول کیږي، یعنی د بیعې په صورت کې د پیسو ارزښت د بیعې له ورځې او د قرض په صورت کې د قرض د ورځې ارزښت حسابیږي او په مذهب کې د امام ابویوسف په قول فتوا ده.

- تمرتاشي په خپله رساله ( بذل المجهود في مسألة تغير النقود) د امام ابویوسف نظر په لاندې توګه بیانوي:

« إذا غلت قيمة الفلوس أو انتقصت، فالبيع على حاله، ولا يتخير المشتري، ويطالب بالنقد بذلك العيار الذي كان وقت البيع.. كذا في فتح القدير، وفي البزازية : عليه قيمتها من الدراهم يوم البيع والقبض وعليه الفتوى، وهكذا في الذخيرة، والخلاصة عن المنتقى، ونقله في البحر وأقره. فحيث صرح بأن الفتوى عليه في كثير من المعتبرات، فيجب أن يعول عليه إفتاء، وقضاء، ولم أر من جعل الفتوى على قول الإمام، »[۲].

معنی: د پیسو د قیمت لوړوالي اویا کموالي په صورتونوکې، بیعه په خپل حال صحیح ده، مشتري ته د فسخې اختیار نشته، له هغه څخه به ثمن د بیعې د ورځې د پیسو د ارزښت په تناسب او تفاوت غوښتل کیږي، په فتح القدیر او بزازیه کې دا موضوع په همدې ښه راغلې ده: د عقد د ورځې د پیسو ارزښت ته په پام، په مدیون ( قرض اخیستونکي) د هغو قیمت اوتفاوت ورکول لازم دي او په دې فتوا ده. همداراز په الذخیره او البحر کتابونو کې راغلی ده چې فتوا د امام ابو یوسف په قول ده. داسې څوک نشته چې دی په دې مسآله کې د امام ابوحنیفه رحمت الله علیه په نظر فتوا ورکړی وي.

---

۱. تنبيه الرقود، ص۵۸، وحاشية ابن عابدين ۲۴/۴.

۲. لعقود الدرية، ص۲۸۱، وتنبيه الرقود ص۵۸.]

**دریم : اوسني بانکنوټونه ( کاغذي پیسې)**

اوسنۍ کاغذي پیسې په نړۍ کې مروجې او معتبرې پیسې دي، چې د تاریخ په اوږودو کې له مختلفو پړاونو اوبدلونونو څخه تیرې شوي دي او په پای کې یې دغه اوسنی حالت خپل کړی دی. د د ې بحث اصلي مطلب همدا د اوسنیو کاغذي پیسو( کرنسۍ) شرعي څرنګوالی دی، البته د اوسنیو مروجو پیسو د ارزښت له زاویې څخه. معاصرو علماوو دې موضوع ته زیات اهتمام کړی دی، په دې دلیل چې د پیسو د ارزښت قضیه عمومیت لري، په هکله یې خلکو ترمنځ زیاتې پوښتنې مطرح دي، له عمدو پوښتنو یې یوه داده چې د وخت په تیریدو سره، د زیاتو هیوادونو پیسې د اجناسو او نورو اسعارو په وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکوي؛ ځکه په پیسو کې بالعموم د ارزښت له اړخه تغییر په نزولي بڼه زیات واقع کیږي، کله کله د یوه خاص سیاست له مخې د ځینو هیوادونو د پیسو ارزښت پورته کیږي، نو کله چې د یوه هیواد په پیسوکې منفي بدلون رامنځ ته شي، پدې صورت کې دحقوقو خاوندان چې د نورو په ذموکې له اوږدې مودې راهیسې یې دیون وي، دوی ته خپل دیون د نوي قیمت له مخې ادا کول، په واقعیت کې دوی له زیان سره مخامخ کوي، نوڅنګه کیدای شي چې د دوې ضرر جبران شي؟ د سم او دقیق ځواب پیدا کولو په موخه لاندې تفاصیل وړاندې کول مهم ګڼم.

څرنګه چې اوسنۍ مروجې پیسې، د مبادلې ذریعه، د اجناسو د ارزښت مقیاس اود ټولو اشیاوود مالکیت ښکارندوی ده، پدې معنا چې که څوک نغدې پیسې ولري، هغه د داسې پانګې څښتن دی، چې هر نوعه مال پرې اخیستلی شي، آن تردې چې په مبادله کې د اوسنیوپیسو نقش، نسبت له سرو او سپینو زرو څخه زیات دی.

پورته ځانګړنو ته په کتو، اوسنۍ پیسې باید له بشپړ ثبات څخه برخمنې وای؛ ځکه پیسې د نورو اجناسو د قیمتونو د معلومولو ذریعه ده، خو د دې اصل په خلاف اوسنۍ مروجې پیسې د بیلابیلو عواملو له کبله بې ثباتې سره مخ دي، چې دلته یې په لنډه توګه یادونه کیږي:

داکثره هیوادنو په پیسوکې د ارزښت له اړخه بدلون نزولي وي، په ځانګړې توګه د پرمخ ودې هیوادنو کرنسې یاد مشکل سره زیات مخ کیږي، چې زیاتې اقتصادي او اجتماعي ستونزې زیږوي.

د اوسنیو پیسو په ارزښت کې د کمښت عمده اسباب :

څرنګه چې د مروجو پیسو ارزښت له اعتبار پورې تړلی دی، هر هیواد د خپلو پیسو د اعتبار ساتلو لپاره، ځانګړې پالیسي اوپولي سیاست غوره کوي، خو په ځینو وختونوکې حکومتونه د پیسو د ارزښت په ساتلوکې پاتې راځي، چې په اقتصادي وضعیت ډیرې بدې اغیزې لري.

په عامه توګه د پیسو د ارزښت کموالی، هغه مهال رامنځ ته کیږي، چې د عرضې او تقاضا ترمنځ تعادل مختل شي، په دې حالت کې د پیسو ارزښت د اجناسو په وړاندې کمزوری او اعتبار یې صدمه ویني، چې دې حالت ته د اقتصاد په اصطلاح کې تورم وایي او د تورم مختلف عوامل دي، چې لاندې ورته اشاره کیږي:

۱. د تورم یو عمده سبب سودي تعامل دی، په ځانګړي ډول د اسلامي هیوادونو د پیسو د بې ثباتۍ اود اقتصاد د ضعف لوی لامل په سود راکړه ورکړه ده، چې حکومتونه له مختلفوهیوادونو اوبنسټونو څخه په سود پورونه ترلاسه کوي اوله هغو پورونو څخه په پانګونې اود کار موندنې په برخوکې ګټه نه اخیستل کیږي، چې د وخت په تیریدو سره د سود ثقیل چارج له لامله، په ټاکلې موده کې یې بیرته د ادا توان نلري، په پایله کې مدیون هیواد له اقتصادي رکود سره مخ کیږي؛ ځکه سود یوازې د پیسو د ازدیاد باعث کیږي، نه د تولید یا د پانګونې، چې په نتیجه کې دپیسو ارزښت کم او قیمتي رامنځ شي.[۱]

۲. جنګ او سیاسي بې ثباتي، هم یوله هغو عمده عواملو څخه ګڼل کیږي، چې د یوه هیواد په اقتصاد اوپه ځانګړي ډول په کرنسۍ باندې یې منفی اغیزې لري، د مثال په توګه د سوریا، عراق، صومالیه هغه جنګ ځپلي هیوادونه دي، چې کرنسې یې ډیرې بې ارزښته شوي دي، همداراز اوس مهال د پاکستان روپۍ چې د سیاسي بې ثباتۍ ښکار شوی ده، چې قیمت یې د ډالر په وړاندې په بې ساری ډول کم شوی.[۲]

۳. د یوه هیواد د فوځ له حده زیات لګښتونه هم د پیسو د ارزښت د کمښت لامل کیږي، دا چې د یوه هیواد فوځ جنګ ته د تیارئ په موخه او یا په جنګ کې ښکیل کیدو له امله، د هیواد د بودیجې لویه برخه مصرفه وي، پرته لدې چې هیواد یې په هماغه کچه مالي توان ولري، بلکې فوځ له سیالۍ لپاره د هیواد په اوږو درووند بار اچوي او د یاد هیواد پیسې له تورم سره مخ کوي.

۴. د یوه هیواد د وارداتو زیاتوالی اود صادراتو کموالی هم د یوه هیواد د کرنسۍ په ارزښت باندې منفی اغیز لري؛ ځکه د یاد هیواد په پیسو راکړه ورکړه کمیږي، په بازار کې یې ډالر له کمښت سره مخ کیږي، چې دا په خپله نیغ په نیغه د هیواد کرنسۍ ته لوی ګوزار دی.[۳]

پورته شیان د پیسو د ارزښت د کمیدو عمده سببونه دي، چې متعدد نورعوامل زیږوي او په یوه هیواد کې اقتصادي ناورین رامنځ ته کوي

- د اوسنیو پیسو د ارزښت بدلون او د دین ورکړې څرنګوالی:

د اوسنۍ پیسو د نزولي بدلون په صورت کې د دین د ادا کولوکیفیت په هکله، د معاصرو علماوو نظرونه.

پدې هکله د معاصرو علماوو له اقوالو څخه درې مشهور نظرونه له دلایلو سره یو ځای راوړو:

لومړی نظر: د پیسو دارزښت تغییر معتبر دی اود دین په ورکړې کې د محاسبې وړ دی.

---

۱. مجلة مجمع الفقه الإسلامي بجدة، الدورة الخامسة، العدد الخامس، الجزء الثالث لسنة ۱۹۸۸م بحث الأستاذ الدکتور (۳ )یوسف محمود قاسم، ص۱۷۰۷ -۱۷۰۸.

۲. عبد المهدي: التضخم المالي والتخلف الاقتصادي، ص٦٨

۳. مخکینی مرجع.

د پیسو د ارزښت د تغییر په صورت کې، د عقد د ورځې قیمت اعتبار لري، پدې معنا که د دین د ورکړې پرمهال د پیسو ارزښت د دین د لزوم وخت سره تفاوت ولري، یعنی اوس مهال یې قیمت ټیټ شوی وي، دحق دلازمیدو وخت ته په کتو، داین ته تفاوت محاسبه او ورکول کیږي. د دې نظر لرونکو له جملې څخه، دکتور محمد سلیمان الاشقر او دکتور علی محی الدین القره داغی دي، د دوی نظرد امام ابویوسف رحمت الله علیه له نظر څخه الهام اخلي، چې د فلوسو په مبحث کې تیر شو.[۱]

د دې نظر پربنسټ که چا یوه کس ته یوکال مخکې ۱۵۰۰۰ افغانۍ پور وکړی وي او اوس بیرته خپل پور ترلاسه کوي، د افغانیو یوکال مخکې ارزښت ته په پام باید ده ته دین له تفاوت سره مل ورکړل شي.

د دې نظر دلایل:

۱. د اوسنیو پیسو ارزښت اعتباري دی، خلکو د اتفاق په نتیجه کې ورته یې اعتبار ورکړی دی؛ ځکه دغه پیسې په خپل ذات کې ارزښت نلري او د کاغذ یوه ټوټه ده.

۲. اوس مهال دغه مروجه پیسې په سرو او سپینو زرو متکي نه دي او اعتبار یې د طلاوو او سپین زرو له زیرمو سره مستقیم تړاو نلري؛ بناء د دینارو اودرهمو حکم لاندې نه راځي؛ ځکه د اوسنوپیسو اود یادو قدیمو نقودو سره یې ورته والی لږ دی، نو ورته د طلاوو یا د سپینو زرو حکم نه ورکول کیږي.[۲]

۳. دا نظر د اسلامي شریعت له مهمو قواعدو سره مطابقت لري، لکه (الضرر یزال)، (الحاجة تنزل منزلة الضرورة عامة كانت أو خاصة) او(ورفع الحرج). د دې شرعي قاعدو پر اساس داین څخه باید هغه متحقق ضرر چې د دین په ترلاسه کولوکې ورسره مخ کیږي، دفعه شي، چې د پیسود قیمت د تفاوت د محاسبې له لارې شونی دی.

۴. څرنګه چې اسلام د سود قرض پدې اساس حرام ګڼلې دی؛ څو قرض اخیستونکی له ضرره څخه خوندي وساتي او ظلم پرې ونشي، په دې صورت کې قرض ورکونکی متضرر کېږي، نو اسلامي شریعت د دې اجازه نه ورکوي چې قرض ورکونکی متضرر شي، خو که چیرې داین ته د پیسو د ارزښت د تفاوت په صورت کې قیمت ورنه کړل شي، پرته له شکه ضررویني، بناء دا نظر د دې آیت مفهوم سره مطابقت لري (...وإن تبتم فلكم رؤوس أموالكم لا تظلمون ولا تظلمون).[۳]

دویم نظر: د پیسو د ارزښت تغییر د دین په ورکړه کې اعتبار نلري:

---

[۱]. المعاملات المالية المعاصرة في الفقه الإسلامي، دار النفائس، عمان- الأردن، ص١٩٦، ٢٠٠١م، ١٤٢٢هـ، ط ٤.
[۲]. القره داغي :بحوث في الاقتصاد الإسلامي، ص.
[۳]. سوره البقره آیت ( ۲۴۹ )

د معاملاتو په پایله کې که د چا په ذمه د اوسنیو مروجو پیسو دین وي او د وخت په تیریدو سره د پیسو ارزښت لوړ او یا ټیټ شي، مدیون به هماغه اندازه دین داین ته ورکوي چې مخکې یې په ذمه کې ؤ او د پیسو د قیمت لوړوالي او ټیټوالي ته نه کتل کیږي. دغه نظر د دکتور یوسف القرضاوي او علی السالوس دی.

د دې نظر پر اساس په کال ۱۹۸۸ کې مجمع اسلامي، چې د ناستې ځای یې د کویت هیواد ؤ فیصله وکړه، چې مفهوم یې داسې دی: په ذمه کې د ثابتو دیونو ورکړه په بالمثل بڼه ده، نه په قیمت باندې؛ ځکه د دیونو ادا بالمثل تر سره کیږي، د پیسو د قیمت بدلون پکې رول نلري.[1]

د د ې نظر دلایل :

۱- اوسنۍ مروجې پیسې د طلا او سپینو زرو حکم لري؛ ځکه د طلاوو او سپینو زرو قایم دي، ټول وظایف یې ترسره کوي او ترڅنگ یې اوسنۍ پیسې له مثلي اموالو څخه گڼل کیږي، نو د دین ادا یې هم بالمثل ترسره کیږي.

۲- که چیرې د پیسو ارزښت ته اعتبار ورکړل شي، په عقودو کې جهالت را منځ ته کیږي، داین او مدیون دواړه نه پوهیږي چې دین به څومره وي، مدیون په کومه کچه تفاوت سره دین داین ته ورکوي او داین په څومره تفاوت سره د دین مطالبه کولی شي، چې په نتیجه کې د نزاع اواختلااف باعث کرځي.[2]

۳- لومړنی نظر جامع او شامل نظر نه دی، بلکې سطحي او د افرادو په ټیټه کچه کې دی، اوس مهال خو راکړه ورکړه د هیوادونو په کچه ترسره کیږي، دا په داسې حال کې چې د نړۍ په کچه دیون د هیوادونو ترمنځ بالمثل ادا کیږي، آن تردې چې غیر اسلامي هیوادونه هم په همدې بڼه تعامل کوي، دپیسو د ارزښت بدلون پکې هیڅ اعتبار نلري، نوڅنگه کیدای شي مسلمانان مغایر تعامل باندې مکلف کړو؟

۴- په بانکونو کې جاري حساب د قرض حکم لري، بانک د شخص د سرمایې ضامن او په خلاص لاس ترې گټه اخلي، خو د پیسو د ارزښت په صورت کې ټول معاصر علماء وایي چې بانک د حساب خاوند په هماغه اندازه پیسو بیرته ورکړه مکلف دی.

۵- که د دیونو په ادا کې د اسعارو قیمت دخیل شي، نو د پیسو ارزښت چې کله ټیټ شي، او تفاوت یې محاسبه اوپراساس یې داین ته ورکړل شي، دا پدې معنا شوه چې مدیون داین ته له دین څخه زیاتې پیسې ورکړې او دا د قرض د سود، عملي مصداق گرځي.[1]

---

۱. http://www.islampedia.com/MIE2/fatawa/zakat2.htm

۲. مجلة مجمع الفقه الإسلامي بجدة، بحث الدكتور علي أحمد السالوس.

دریم نظر: په پیسو کې فاحش تغییر اوتفاوت د دین په ادا کې معتبر دی:

د پیسو په ارزښت کې فاحش بدلون، د دین په ورکړه کې باید محاسبه شي، پدې معنا که د دین د لزوم وخت او د ورکړې د وخت سره تفاوت ولري او د داوړو وختونو د پیسو قیمت په پرتله کولو سره تفاوت زیات وي، هغه تفاوت ته په پام لرلو سره، باید داین ته خپل دین ورکړل شي اوکه د پیسو په ارزښت کې تفاوت لږ رامنځ ته شوی وي، دغه تفاوت ته د دین په ادا کې نه کتل کیږي، هماغه اندازه دین ورکول کیږي چې د مدیون په ذمه لازم شوی ؤ. پورته نظر د ځینو معاصرو علماوو نظر دی، لکه دکتور مضر نزار العانی.[۲]

د پورته آراوو دلایلو ته کتنه:

که په ټوله کې وګورو د لومړي نظر زیات تاکید پردې دی چې داین او مقرض له ضرره وژغوري، څو خلک نسیه معاملاتو ته مخه وکړي؛ ځکه په اوسنۍ زمانه کې د راکړې ورکړې لویه برخه په نسیه ترسره کیږي، نو

داخوف او اندیښنه باید نه وي، چې د دین د تاخیر په وجه داین اود حق خاوند متضرر کیږي، بلکې د احتمالي ضرر جبران د اسعارو قیمت ته په اعتبار ورکولو سره حل کیږي. نو ویلی شو چې لومړي نظر په مصلحت او د تعامل په واقعیتونو باندې بنا دی.

خو دې ته هم باید وکتل شي، چې له سودې معاملو څخه ځان ژغورل، مسلمانانو ته خورا مهمه موضوع ده اوترڅنګ یې په مطلق ډول د اسعارو ارزښت معیار ګرځول عاقدین له نزاع او مشکلاتو سره مخ کوي، نو ویلی شو چې دویم نظر په احتیاط بنا دی؛ د دې لپاره چې د سود مخه ونیول شي، د پیسو په ارزښت کې تفاوت ته یې هیڅ اعتبار نه ورکوي.

دریيم نظر په حقیقت کې د لومړینو دوونظرونو څخه اخیستل شوی دی، چې د لږ تفاوت په صورت کې یې دویم قول سره یو ځای کیږي، او فاحش تفاوت په صورت کې لومړي نظر ته اعتبار ورکوي.

**د بحث پایله:**

د پورته موضوع د څیړنې عمده هدف دا دی چې د خپل فهم او استعداد په کچه له مختلفو معتبرو شرعي منابعو څخه په استفادې، یاده موضوع په سمه توګه وړاندې کړم، د لیکنې د لوستلو پرمهال له بحث څخه نیتجه اخیستنه د هر لوستونکی خپل حق دی، خو زه هم د بحث د لیکونکي په حیث د

---

[۱]. مجلة مجمع الفقه الإسلامي بجدة، الدورة الخامسة، العدد الخامس، الجزء الثالث، بحث الشيخ عبد االله بن سليمان بـن منيع، ص 448.

[۲]. مخکینی مرجع.

يادې موضوع په هکله خپل نظر په لاندې مختصرو ټکوکې وړاندې کوم، په دې هيله چې د پام وړ مو ورگرځي:

څرنگه چې اوسنۍ کرنسي (کاغذي پيسې) د ارزښت اصلي منبع يې د خلکو لخوا اعتبار دی او اعتباري پيسې ورته ويل کيږي؛ ځکه دغه کاغذي پيسې په خپل ذات کې پدې کچه کوم ارزښت لرونکی جنس نه دی، بلکې د هر هيواد ښه او بد حالت يې په پيسو مستقيم اغيز لري، خو ترڅنگ يې له نقدينو (طلا، نقرې) سره يې هم څه ارتباط شته دی، د دينارو او دراهمو زيات وظايف پر مخ وړي، شرعي حقوق او مسؤوليتونه د دينارو او درهمو له ادرسه پرې ادا کيږي، بناء اوسنۍ پيسې په بشپړه توگه مستقل جنس نه گڼل کيږي؛ نو اوسنۍ پيسې له طلاوو څخه سل په سلو جلا هم نه دي اوهمدا راز زيات پرې متکي هم نه دي؛ پر دې اساس په کلي ډول يوه نظرته اعتبار وکول مناسب نه بولم، بلکې کولی شو چې د پورته دوه لومړنيو نظرونو ته په اعتبار ورکولو لاندې محملونه وټاکو:

**لومړی محمل : عادي او عام حالت:**

کله چې د يوه هيواد هر اړخيزه وضعيت عادي وي، په پولي سياست کې يې کوم بيړنی تغيير نه وي رامنځ ته شوی او پيسې يې له تورم څخه په امن وي، که د پيسو په ارزښت کې يې فاحش تفاوت نه وي راغلی، لږ تفاوت د پيسو په ارزښت کې د دين په ادا کولو کې ورته اعتبار نه ورکول کيږي؛ ځکه د نورو اجناسو قيمتونه هم د کال په اوږدو کې کښته او پورته کيږي، خو د دين په ادا کې يې دغه تفاوت ته اعتبار نه ورکول کيږي، نو بناء په دې حالت کې دويم نظر باندې عمل کول په کار دی.

دويم محمل: استثنايي او خاص حالت :

که چيرې د هيواد پيسې په غير عادي بڼه او په لويه کچه د غير عادي عواملو په وجه نزولي حالت غوره او خپل ارزښت له لاسه ورکړي، پرته له شکه په دې حالت کې فاحش غبن رامنځ ته کيږي، لکه د پاکستانۍ روپيې اوسني حالت، که چيرې داين ته دين د کميت له مخې هماغه ټاکلی دين ورکړل شي، ضرر واضح دی؛ ځکه پدې صورت کې هغه خپل حق په بشپړه توگه نه ترلاسه کوي؛ نوبناء دلته بايد د اهل خبره او مسلکي خلکو په محاسبه بايد د داين ضرر جبران شي، چې په دې صورت کې لومړي قول ته اعتبار ورکول کيږی او ور باندې عمل کول مناسب بولم.

د يادونې وړده، د افغانستان صرافانو د تعامل پر اساس، هغوی د تبادلاتو معيار امريکايي ډالر گرځولی دي، پدې معنا چې په صرافه مارکيټ کې د نورو کرنسيو تبادله او راکړه ورکړه، په اوتوماتيک ډول په ډالرو معادله کيږي، چې د اختلاف له منځه وړو او دحقوقو د ادا لپاره ښه عرف دی؛ ځکه د ډالرو په نرخ کې زيات تغيير نه پيښيږي.

د ضرر او نزاع له منځه وړلو په هدف، د صرافانو له عرف څخه په الهام اخيستلو، که چيرې، زمونږ په معاملاتو او د حقوقو په ورکړې کې، دا معيار معروف وگرځي، نو که د پيسو ارزښت د معاملې پرمهال په سرو زرو اويا په ډالرو، معادلت شي، د ډيرو ستونزو مخه نيسي.

**د پیسو د ناچله کیدو په حالت کې د دین د ورکړې څرنګوالی:**

د پیسو ناچله کیدو موضوع په حقیقت کې پراخه بحث دی، په هکله یې باید مستقله لیکنه وشي، خو د ځینو مهمو پوښتنو د ځواب ورکولو په هدف، دلته یې په لنډه توګه د مهمو ټکو یادونه کوم.

د یوه هیواد د پیسوکوټه (ناچله) کیدلو له امله زیاتې سیاسي، اقتصادي او اجتماعي ستونزې را ولاړیږي، چې د حکومت د کمزوري کیدو سربیره د خلکو په ژوند باندې یې هم منفي اغیزې پریوځي، په ځانګړې توګه د حقونو خاوندان له جدي اندیښنو سره مخ کوي، چې څنګه به خپل حقوق ترلاسه کړای شي؟ د یادې اندیښنې دحل په موخه، د پیسو د ناچله کیدو په صورت کې د دین د ورکړې شرعي حکم په لنډه توګه بیانول ضروري دي.

**د کساد او انقطاع مفهوم:**

(ا)– کساد:کله چې د یوه هیواد پیسې په کلي ډول، له تعامله وغورځیږي او څوک پرې راکړه ورکړه ونکړي، دې حالت ته کساد ( ناچله پیسې) ویل کیږي[1].

(ب)- انقطاع: انقطاع د پیسو هغه حالت ته وایې چې په عامه توګه له بازارونو ورکې او منقطع شي، ولو که له ځینو جهتونو سره شتون هم ولري [2].

له پورته تعریفونو څخه څرګندیږي، چې د کساد ( نه چلښت) او انقطاع، په دواړو صورتونوکې، پیسې له تعامله غورځیږي؛ ځکه په لومړي صورت کې که پیسې شتون هم ولري، څوک پرې راکړه ورکړه نکوي او په دویم صورت کې، که خلک پرې تعامل ته تیار هم وي، خو لاس رسی ورته نلري؛ بناء انقطاع هم د پیسو د ناچله کیدو یوه حالت کیدای شي.

د پیسو د ناچله کیدو دوه مهم صورتونه:

۱. د پیسو د ناچله کیدو یو صورت دادی چې یو حکومت پخوانې پیسې لغوه او راکړه ورکړه پرې منعه اعلان کړي او پرځای یې نوی پیسې اعلان او ورته اعتبار وکړي، پرته لدې چې د لغوه شویو او اوسنیو پیسو ترمنځ په ارزښت کې څه تفاوت شتون ولري. د پیسو د بطلان د یاد صورت سبب بالعموم د نظامونو بدلون وي، لکه شاهي یا نظامي نظامونه په ولسي نظام بدلیدل. په دې حالت کې معمولا حکومتونه خلکو ته معین وخت ټاکي، څو پخوانې پیسې اړونده جهتونو ته وسپاري او پرځای یې نوې پیسې ترلاسه کړي.

---

[1]. المعجم الوسيط: ص ٧٨٦. تنبيه الرقود: ٦٠/٢

[2]. رسالة تنبيه الرقود على مسائل النقود ضمن رسائل ابن عابدين، ج ٢ ص٥٨؛ وحاشية رد المحتار له أيضا، ج ٤ ص١١٨.

د یادونې وړ ده چې په بانکي حسابونو کې شته پیسې په خپله بدلیږي. په دې صورت کې د حقونو خاوندان خپل حقوق د نویو پیسو په اخیستلو سره ترلاسه کوي او د پخوانیو پیسو د مطالبې کوم دلیل شتون نلري. [۱]

۲. دویم صورت دا دی چې د حکومت له خوا پخوانۍ پیسې لغوه او پرځای یې نوې پیسې اعلان شي، خو د دواړو ترمنځ د ارزښت له اړخه تفاوت شتون ولري، لکه اوسنۍ افغانۍ چې د استاد رباني د حکومت د پخوانیو پیسو قایم مقام شوې، پخوانۍ سل افغانۍ، د جمهور رییس کرزي په وخت کې په یوې افغانۍ معادله شوې. په دویم صورت کې پخوانۍ پیسې اکثرا د تورم په سبب لغوه کیږي. دلته هم د لومړي صورت په څیر، د حقونو خاوندان مکلف دي، چې خپل حقونه په نویو پیسو ترلاسه کړي؛ ځکه داین په دې صورت کې د نویو پیسو په اخیستلو، څه ضرر نهویني. [۲]

---

۱. مجلة مجمع الفقه الاسلامي ج ۱۹ ص۱۱۳۳

۲. مخکینی ماخذ.

# ملخصات البحوث باللغة العربية

## المقال الأول:

### الأولويات المتعلقة بالعلاقات الخارجية الأفغانية في الظروف الراهنة


**ملخص البحث:**

حاولنا في هذا المقال المختصر أن نبحث في الأولويات المتعلقة بالسياسة الخارجية الأفغانية في الظروف الراهنة، و أن نقدم ذلك بشكل مقترح لأصحاب القرار في أفغانستان، الأولويات المتعلقة بالسياسة الخارجية عدة أنواع؛ الأولويات المتعلقة بأهداف العلاقات الخارجية، والأولويات المتعلقة بإيجاد تلك العلاقات، والأولويات المتعلقة بالمشاركة الفعالة للإمارة الإسلامية بالدول الأخرى.

تناولنا في بداية المقال الأولويات المتعلقة بالأهداف، وذلك لأنها من أهم الأولويات؛ لأنها تحدد وجهة السياسة الخارجية للإمارة الإسلامية، وتحدد لها الهدف الذي يجب أن تسير نحوها في مجال العلاقات الخارجية، و قد تم تحديد تلك الأولويات بصورة محددة و بشكل نقاط معينة، و نأمل أن تكون هذه النقاط نصب أعين الوزارة الخارجية والسفارات والجهات الممثلة لأفغانستان في دول العالم.

ثم تناولنا في الجزء الثاني من هذا المقال، الأولويات التي تساعد في إيجاد العلاقات الخارجية، وحددنا في هذا المجال خمس أولويات، فإذا أردنا أن نبني علاقات خارجية متينة يجب أن نراعي تلك الأولويات، وهي (وحدة الرأي بين قيادات الإمارة الإسلامية حول ضرورة العلاقات الخارجية) و (تحديد الأولويات بين العلاقات الخارجية والقرارات التي تدمر تلك العلاقات على أسس شرعية) و (والتأكيد على جلب ثقة الدول الأخرى بدل التأكيد على الاعتراف الشكلي بالإمارة الإسلامية) و(الحفاظ على مصداقية الإمارة الإسلامية عن طريق الوفاء بالوعود) و (اختيار السياسة الخارجية المتوازنة أو السياسة المحايدة الفعالة).

وفي الجزء الأخير من المقال نوقشت الأولويات المتعلقة بمشاركة الإمارة الإسلامية الإيجابية مع الدول الأخرى، وتمت الإشارة إلى أن أفغانستان تملك بيدها حاليا قضايا تهم دول العالم كما أنها تهم دول الجوار والمنطقة على حد سواء، وأكد المقال أنه يجب على الإمارة الإسلامية أن تطرح هذه القضايا لتقوية علاقاتها؛ فإنها و إن كانت من أهم ما تلفت نظر دول العالم واهتماها فهي في ذات الوقت من أولويات أفغانستان كذلك، وتلك الأولويات التي أشير إليها في هذا الصدد كما يلي: (التركيز على أن تكون أفغانستان نقط الوصل في المنطقة) و (المصالح الاقتصادية المتبادلة) و(القضايا المتعلقة بالمياه) و(القضايا المتعلقة بالمجموعات المسلحة الأجنبية والقضايا المتعلقة بأمن العالم واستقراره) و (أن الإمارة الإسلامية ليس لديها أجندة عالمية) و (النزاعات الحدودية مع دول الجوار) و (الهجرات غير الشرعية) وغيرها من القضايا التي وردت في المقال، فإذا طرحنا مثل هذه القضايا نستطيع أن نلفت نظر دول العالم ودول الجوار ونبني علاقات إيجابية مع دول العالم.

هذه الأولويات يجب رعايتها في كل المراحل، و برعايتها نستطيع أن نبني العلاقات الخارجية على أسس متينة، لكن إن لم نراع هذه الأولويات تبقى إيجاد العلاقات الخارجية الناجحة والمتينة مجرد خيال لا تمت إلى الواقع بصلة.

## المقال الثاني

### التفسير الراجح لقوله تعالى "وقرن في بيوتكن".


### الملخص

هذه الدراسة المختصرة محاولة لتصحيح تصور خاطئ حول تفسير الآية الثالثة والثلاثين من سورة الأحزاب، يرى بعض من لا يرجع المتشابهات إلى المحكمات: أن الجملة الأولى في الآية المذكورة و هي قوله تعالى: "وقرن في بيوتكن" مستقلة عن الجملة الثانية فيها، وهي قوله تعالى: "ولا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى"، مع أن الجملة الثانية تفسير للجملة الأولى، و لأجل ذلك يقعون في الخطاء في تفسير الآية المذكورة.

حاولنا في هذه الدراسة المختصرة تصحيح هذا التصور الخاطئ، و ذلك بأننا أثبتنا أن عامة علماء الأمة يرون إباحة خروج المرأة من بيتها للأمر المباح إذا كانت محتشمة ومحجبة، وهذا ما تثبته أحاديث الرسول صلى الله عليه وسلم، و قد صرح بذلك الفقهاء وشراح الحديث، كل ذلك تدل على أن فصل الجملتين بعضها عن بعض، وفهم كل جلمة بصورة مستقلة يؤدي إلى خطأ في فهم الآية الكريمة الفهم الذي مضى عليه عام علماء الأمة.

و من ثم يكون التفسير الصحيح للآية المذكورة الذي اختاره كثير من المفسرين أن نجعل الجملة الثانية و هي قوله تعالى: { ولا تبرجن تبرج الجاهلية الأولى} بيانا للجملة الأولى وهي قوله تعالى: {وقرن في بيوتكن }، ويكون التفسير الراجح للآية أن المرأة مأمورة بالبقاء في البيت وأن لا تخرج من بيتها إذا كانت متبرجة مثل تبرج الجاهلية الأولى، ويكون خروجها من البيت في غير هذه الحالة مباحا بناء على حجية مفهوم المخالفة عند الجمهور، وعند الحنفية الذين لا يرون مفهوم المخالفة حجة، يكون خروج المرأة في حالة التبرج ممنوعا، أما غير هذه الحالة فيكون مباحا بالإباحة الأصلية أو بناء على الأدلة الأخرى من الأحاديث وغيرها.

و قد أشارت الدراسة في النهاية إلى أنه لا يصح بناء على ذلك التفسير المرجوح أن يحرم نصف المجتمع من حقوقه المشروعة، نعم يجب أن نمنع من يتجاوز الآداب الشرعية عند الخروج من البيت.


## المقال الثالث

### المنافسة التجارية غير المشروعة ومستلزماتها القانونية


### ملخص

المنافسة التجارية؛ سواء كانت قانونية أو غير قانونية، فهي واحدة من أهم القضايا القابلة للنقاش في القانون التجاري الذي تستفيد من مزاياه الفريدة المجتمعات الحديثة.

كانت البادرة الأولى لقانون المنافسة التجارية، هو القانون الذي عرف بـ "قانون شيرمان"، وكان تشريعه لتنظيم أمور "الصناديق الائتمانية" وكان ذلك قبل قرن ونصف من الزمان في الولايات المتحدة الأمريكية، و بعد إقرار "أصول نامه تجارت أفغانستان" الذي أقر في عهد الملك محمد ظاهر شاه عام ۱۳۳۶هـ ش الموافق ۱۹۵۷م كأول قانون تجاري في البلد، وكان مشتملا على بعض المواد حول المنافسة التجارية، و بعد موافقة "بن" الألمانية عام ۲۰۰۱م والموافقة على الدستور الجديد للبلد تمت الموافقة على "اقتصاد السوق".

و في نظام اقتصاد السوق، يسمح للحكومة أن تتدخل في السوق فقط من خلال وضع قوانين تمنع الاحتكار وأي نوع من الممارسات الاحتكارية البحتة من قبل موردي السلع والخدمات التي تضر بالمستهلكين والمجتمع.

في هذا البحث المختصر. نظرا لأهمية الموضوع. بذلنا جهدا في البحث عن الأمور المتعلقة بالموضوع، وبيان وتوضيح المفاهيم ذات الصلة بالموضوع، والحلول القانونية وغير القانونية، والأدلة على المنافسات غير القانونية.

## المقال الرابع

### تحليل ظاهرة الذكاء الاصطناعي:

### الخرافات، الحقائق، والواقع المتغير للتطور التكنولوجي

**ملخص**

في سلسلة التطورات التكنولوجية، يعد الذكاء الاصطناعي أحد أهم التطورات التي ظهرت كظاهرة ثورية في الصناعات والحياة العامة على مستوى العالم. تلقي هذه الورقة البحثية الضوء على الجوانب المختلفة للذكاء الاصطناعي، مثل الخلفية التاريخية للذكاء الاصطناعي، وتأثيراته على الصناعة، وفوائده، والمخاوف من التهديدات التي يوجهها الذكاء الاصطناعي للبشرية، و كذلك يتحدث عن الخرافات والمفاهيم الخاطئة عنه لدى عامة الناس.

كما تسلط هذه الدراسة الضوء على نماذج مختلفة من لغة الذكاء الاصطناعي، وما يواجهها من القصور في الأداء.

وفي الختام يشير البحث أيضا إلى واقع التطورات التكنولوجية الحالية ومستقبلها. أرجو أن يستفيد القارئ الكريم من محتوى البحث من أجل الوصول إلى التناسق والتناغم مع العصر الديناميكي للتكنولوجيا.

كلمات البحث الأساسية: الذكاء الاصطناعي، مزايا البحث، عيوب البحث، النماذج اللغوية، التطورات التكنولوجية

## المقال الخامس

### إجراءات محاكم الإمارة الإسلامية في القضايا المدنية في ضوء المراسيم والمكاتيب الإرشادية

**ملخص البحث**

ضمان العدالة وإحقاق الحقوق بين المواطنين من خصائص النظام الإسلامي، وللقضاء مكانة وأهمية خاصة في الإسلام، وإن نجاح أي نظام في أن يكون له نظام قانوني وقضائي منظم ومحايد ومستقل، و أن تكون له قوانين مكتوبة ورسمية و أن تكون سهلة و ميسورة الفهم، وتكون قادرة على حل مشاكل المجتمع، وتعتقد الأنظمة الحاكمة في العصر الحديث أن من واجبها تعزيز مصداقيتها وشرعيتها عن طريق امتلاك نظام قضائي ناجز وقابل للتطبيق.

مما لا شك فيه أن المجتمع يتوقع من النظام الحاكم تطبيق العدل في المجتمع، كما أن أفراد المجتمع يتوقعون أن تعطى الحقوق لأصحابها، و أن يمنع أصحاب الجاه والمال والسلطان من التلاعب بأمن المجتمع والخروج على القانون، و أن يستتب الأمن والاستقرار في المجتمع.

على الرغم من أن إمارة أفغانستان الإسلامية قد أصدرت وثيقتين (أصول نامه اداري محاكم (الأصول واالضوابط الإدارية للمحاكم) و أصول نامه عدلي محاكم (الأصول والضوابط العدلية للمحاكم)) كما أصدرت مجموعة مراسيم لتنظيم الدعاوى القضائية، إلا أننا حاولنا في هذا المقال المختصر أن نتعرف على طريقة تعامل محاكم الإمارة الإسلامية مع القضايا المدنية في ضوء الفرامين الصادرة من أمير المؤمنين، والمكاتيب الإرشادية الصادرة عن المحكمة العليا للإمارة الإسلامية، و ذلك لأن عامة الناس ليسوا على اطلاع جيد بها، و أنها لم تصل إلى عامة الناس، وفي نهاية المقال قدمت مقترحات لتطوير النظام القضائي.

الكلمات المفتاحية: المكاتيب الاسترشادية، الفرامين، المحامي المعين من قبل المحكمة، تغيير المحاكم، الدعاوى المدنية

## المقال السادس

## دراسة حالة تلوث الهواء في مدينة كابول وعلاقتها بالتغير المناخي


### ملخص البحث

إن تلوث الهواء لتؤثر على حياة الإنسان وجهازه التنفسي، وتأثيره على تغير المناخ أمر واضح ومؤكد. واعتبرت حالة الهواء في كابول في العقد الماضي، خاصة خلال فصل الشتاء، ملوثة للغاية، مما تسبب في وفاة الناس، وخاصة الأطفال وكبار السن، وبسببه تفاقمت حالة التغير المناخي.

ينجم تلوث الهواء في مدينة كابول عن انبعاث غازات التدفئة الناتجة عن الأنشطة الاستثنائية في فصل الشتاء. في هذه الدراسة تمت محاسبة حالة تلوث الهواء في مدينة كابول من حيث انبعاث غازات التدفئة مثل ثاني أكسيد الكربون وأكسيد النيتروز والميثان وثاني أكسيد الكربون في ثلاثة قطاعات: الطاقة والصناعة والزراعة والثروة الحيوانية في الأعوام ٢٠١٢ و٢٠١٣ و٢٠١٤ عن طريق المعايير التي وضعت من قبل الهيئة الحكومية الدولية المعنية بتغير المناخ وفق برمجياتها لعام ٢٠٠٦. وقد تم التأكد من أن انبعاث ثاني أكسيد الكبريت في فصل الشتاء كان أكثر من (0.164PPM) وأن كمية غاز ثاني أكسيد الكربون في الهواء كانت (٥٦٦٥٦،٢٢) جيجا جرام في عام ٢٠١٣م، مما يدل على أن كمية الغاز في الهواء زادت بسبب إنتاج الطاقة والاستفادة من الوقود الأحفوري (الفحم) للتدفئة في أيام الشتاء، وقد بلغت كمية الغبار والدخان في الهواء في فصل الشتاء إلى أكثر من ٣٥ ميكروغرام لكل متر مكعب من (٢،٥PM) وأكثر من (١٥٠) ميكروغرام لكل متر مكعب من (١٠PM) في فصل الصيف والربيع والخريف.

و من هنا فإن الحل تكمن في الحد من إنتاج غازات التدفئة وتقليل (٢،٥PM) و(١٠PM) و الازدياد في المساحات الخضراء داخل المدينة، والحظر على استيراد الوقود منخفضة الجودة إلى البلاد، وإدارة سليمة لتلوث الهواء، وتوعية الناس بالحفاظ على البيئة بكل جدية. وتشجيع الناس على التعاون مع الحكومة في مجال نظافة المدينة وتطهيرها مما يلوثها، والإدارة السليمة لحركة المرور وتنظيم القمامة.

وتظهر نتائج هذه الدراسة أن تغير المناخ في مدينة كابول كان ملحوظا منذ عقد من الزمن وهو آخذ في الازدياد. فإن المناخ يزداد حرارة بمرور الوقت، و هذا ناتج عن الازدياد في طلب واستهلاك الطاقة.

وتتطلب هذه النتائج مزيدا من الاهتمام من المسؤولين والمنظمات ذات الصلة فيما يتعلق بالخطة الشاملة للحد من تلوث الهواء في مدينة كابول و الحد من استعمال الوقود الأحفوري للتدفئة في فصل الشتاء، وهذه الدراسة تعتبر بمثابة إنذار جدي في هذا الصدد.

الكلمات المفتاحية: تلوث الهواء، PM٢،٥، PM١٠، المواد الأحفورية، الغازات الناتجة عن التدفئة

## المقال السابع

## المشروعية الفقهية للتأمين، والماهية القانونية له

### خلاصة:

التأمين هو أداة مالية تستخدم للحماية من المخاطر المالية والاقتصادية. الغرض الرئيسي من التأمين هو التعويض عن الخسائر المالية وتغطية النفقات غير المتوقعة، والنفقات الناتجة عن الأحداث غير المتوقعة مثل حادث غير مترقب أو حريق أو غير ذلك.

ويشتمل نظام التأمين على ثلاثة أطراف: المؤمن له، والمؤمن، والمؤمن عليه. وتكون شركة التأمين أو شركة التأمين مسؤولة عن الوفاء بالتزاماتها المالية بالتعويض. المؤمن له أو حامل الوثيقة هو شخص طبيعي أو اعتباري التزم بدفع قسط التأمين مقابل التغطية وشراء وثيقة التأمين.

وفي أفغانستان، كغيرها من البلدان، يستخدم التأمين كأداة مالية للحماية من المخاطر المالية والاقتصادية. يتم تقديم أنواع مختلفة من التأمين في هذا البلد، بما في ذلك التأمين ضد الحريق، والتأمين الصحي، والتأمين التجاري.

تركز هذه الدراسة على الجوانب الفقهية والشرعية للتأمين كما أنها تتناول الماهية الفقهية للتأمين، لأن بعض العلماء يرون أن عقد التأمين غير شرعي وغير جائز. إن قلة وعي الناس بالتأمين في أفغانستان كان السبب الرئيسي لتراجع نموه في هذا البلد. كما تبحث هذه الدراسة في الطبيعة القانونية لعقد التأمين وتبحث في المخاوف المتعلقة به.

الكلمات المفتاحية: المؤمن، المؤمن له، المؤمن عليه، المشروعية الفقهية، الطبيعة القانونية للتأمين.

## المقال الثامن

## غرس السيخ في الخرسانة

### ملخص:

هذا المقال الذي تتصفحه هو نتيجة بحث عن غرس السيخ في العناصر الخرسانية للمبنى (الأعمدة والأساس). حاول الباحث في هذا المقال أن يقدم النتائج المحصلة من البحث حول غرس السيخ بصورة علمية وتجريبية.

مشكلة غرس السيخ تمثل تحديا كبيرا في مدينة كابول، و من ثم فلها أهمية خاصة، و لذلك تستوجب أن تقدم حلول علمية لحلها، فإنه قد حدث في كثير من الأحيان أن مسؤولي البلدية قد قطعوا أسياخ الوصلات (التي توصل

طابقا سفليا بطابق علوي) بعد بناء طابق أو اثنين و في بعض الأحيان يتم قطع الوصلات بعد الصب وتنفيذ الأساس، ويكتشف موظفو البلدية بعد ذلك أن الإجراء الذي قاموا به كان خطأ، السؤال المطروح هو كيف يمكن إصلاح هذا الخطأ؟ حاولنا أن نقدم حلا مقترحا لهذه المشكلة.

بالإجمال قد تم اقتراح ثلاثة حلول لغرس السيخ، ويمكن الاستفادة من كل حل مقترح وفقا لما يراه مهندس البناء أو وفقا للإمكانات المتوفرة، بطبيعة الحال كل حل له خصائه.

المنهج المتبع الذي أمكننا الوصول من خلاله إلى المقصود . بعد المرور على البحوث السابقة حول الموضوع . عبارة عن التجارب المخبرية والاستفادة من معايير البناء المعتمدة والتجارب الميدانية.

تظهر نتائج التجارب التي تم إجراؤها بعد الاختبار في المختبرات أن عملية غرس السيخ في الخرسانات التي تصلبت لديها مقاومة مطلوبة وأنه يمكن أن تستجيب لجميع المتطلبات التقنية.

وقد توصل الباحث في خلاصة البحث أن أحد الحلول المقترحة هو أفضل الحلول، ثم قدم الباحث عدة نقاط يمكن أن تكون محل مناقشة و بحث من قبل المهندسين لإثراء البحث في هذا الموضوع، نرجو أن يكون هذا البحث المختصر وسيلة لنتائج إيجابية لمهندسي البناء والإنشاءات، وأن يكون له أثر إيجابي في ذلك.

الكلمات الرئيسية: غرس السيخ، الغراء الإيبوكسي، الوصلة الميكانيكية، المشبك الميكانيكي

## المقال التاسع

## التغيرات في قيمة العملات المالية و أثرها على سداد الديون

### ملخص البحث

لا ينكر أحد وجود تغيير في قيمة العملات المالية في العصر الحاضر، ولها آثار مباشرة على الأفراد والمجتمعات، ولذلك اهتم علماء الشريعة الإسلامية المعاصرون بهذه القضية واعتبروها نازلة من النوازل الفقهية، وكتبوا عنها الشيء الكثير، واعتبروا نوعية العملات المالية وتعيين خصائصها، وحق طباعتها وصكها والكمية التي يجب أن تدور في السوق، اعتبروا كل ذلك من الأمور المهمة حول العملات المالية من مسؤولية الدولة وصلاحيتها، وقالوا بأن الدولة مسؤولة عن اتخاذ التدابير اللازمة للحفاظ على العملة المالية التابعة للدولة.

تهدف هذا المقال إلى بيان الحكم الشرعي في أداء الدين حالة تغير قيمة العملات المالية، فإذا كان الدين بدنانير الذهب أو دراهم الورق (الفضة) فإن العلماء قد اتفقوا على أنه لا اعتبار لتغيير قيمتها في أداء الدين، بل يجب أن يؤدي المديون إلى الدائن المقدار الذي أخذه منه، وإذا كان الدين بالعملات المعدنية الأخرى فيرى جمهور الفقهاء أن حكمها مثل حكم الدين بالدنانير الذهبية والدراهم الفضية، إلا أن الإمام أبا يوسف يجعل التغيير في قيمة العملة معتبرا في حق أداء الدين في هذه الحالة، بمعنى أن المدين يقضي دينه مراعيا الفرق الذي حصل في قيمة العملة من وقت أخذ الدين إلى وقت أدائه، والفتوى على مذهب أبي يوسف في المذهب الحنفي.

أما العملات الورقية الحالية فيرى العلماء المعاصرون أن أحوال هذه العملات لا تخرج من حالتين اثنتين، نبينها بصورة إجمالية كما يلي:

الحالة الأولى: هي الحالة العادية، والحالة العادية هي الحالة التي تكون عملة الدولة مستقرة ومصؤونة عن التضخم، بأن لا يحصل فارق كبير في قيمتها بمرور الوقت، والفرق القليل لا اعتبار لها في أداء الدين، فإن أسعار السلع الأخرى ترتفع وتنخفض خلال العام.

الحالة الثانية: هي الحالة الاستثنائية والخاصة، و هذه الحالة هي إذا فقدت العملة قيمتها بسبب أحوال غير عادية، في هذه الحالة إذا أعطي الدائن المبلغ الذي استدانه المديون يلحقه ضرر كبير بذلك، و لا يمكن أن يستوفي حقه، في هذه الحالة يجب أن يستوفى حق الدائن عن طريق محاسبة الفرق بين العملة من وقت أخذ الدين إلى وقت أدائه، ويجب أن يعطى الفرق للدائن حتى يتمكن من استيفاء حقه.

وفي حالة إلغاء عملة البلد من قبل الدولة أو الحكومة أو بسبب التغيير في السلطة فإن لمحاسبة الدين طريقتان:

– أحد أحول إلغاء العملة هو أن تلغي الدولة عملتها السابقة وتستبدلها بعملة جديدة من غير أن يكون في قيمة العملتين تفاوت يذكر، وغالبا يكون سبب استبدال العملة بالعملة الأخرى التغير في نظام الحكم، في هذه الحالة تعطي الحكومة للناس وقتا معينا ليستبدلوا ما عندهم من المبالغ على العملة السابقة بالعملة الجديدة، والمبالغ الموجودة في الحسابات البنكية تستبدل اتوماتيكيا، و أصحاب الحقوق يستوفون حقوقهم بالعملة الجديدة، من هنا لا يصح أن يطالب شخص دينه بالعملة السابقة.

الحالة الثانية أن تلغي الحكومة العملة السابقة و استبدلتها بعملة جديدة وبين العملتين تفاوت كبير في القيمة، مثل العملة الأفغانية في حكومة المجاهدين لما استبدلت بعملة جديدة في حكومة كرزاي، كانت روبية أفغانية واحدة جديدة تساوي مائة روبية سابقة، والسبب في استبدال العملة في الحالة الثانية هو التضخم المالي، في هذه الحالة الثانية يستوفي أصحاب الحقوق حقوقهم بالعملة الجديدة إذا تم تحديد قيمتها من قبل الحكومة.

However, Imam Abu Yusuf (RA) holds a distinct view. He posits that in both scenarios, whether there's an increase or decrease in the value of metal money, the debtor should repay the debt based on the prevailing price on the day the loan was initiated. This viewpoint aligns with the Hanafi school of thought.

Contemporary scholars offer two primary perspectives concerning the repayment of debts denominated in modern customary paper money, contingent upon specific circumstances:

1. Usual Situation: When a country's currency remains stable without significant inflation or drastic value fluctuations, minor variations are not considered in debt repayment. This is because prices of goods fluctuate naturally over time, but these changes are not factored into loan repayment calculations.
2. Exceptional and Special Situation: In cases where a country's currency rapidly loses value due to unusual circumstances, the term "ghabnfahish" or deceit comes into play. In such situations, if a debt is repaid in the same quantity as originally owed, the creditor may not receive their full entitlement. To address this, knowledgeable scholars should calculate the difference and ensure compensation for the loss.

Regarding currency demonetization by a government, there are two scenarios:

1. When a government demonetizes its old currency and replaces it with a new one without a significant change in value. In such cases, individuals typically have a specified period to exchange their old currency for the new one. Money in bank accounts is updated automatically, and creditors receive their due in the new currency, rendering the demand for the old currency unnecessary.
2. When a government demonetizes old currency and introduces new currency with a significant difference in value. For instance, when the current Afghani replaced the previous currency during Professor Rabani's government, and the new currency held a higher.

been correctly placed. Consequently, this article proposes a scientifically grounded approach to address this issue.

Three different solutions for embedding reinforcing steel into concrete are introduced; each of these methods could be adaptable based on engineer recommendations or available resources. Each of these methods possesses unique characteristics, and this research offers a comprehensive exploration of these approaches, both from a theoretical and practical perspective.

Our approach to achieving our research goal involves a thorough review of prior works, laboratory testing, compliance with established building codes, and on-site field testing. Laboratory results confirm that the process of embedding reinforcing steel into hardened concrete demonstrates strong resistance and complies with all technical requirements.

In conclusion, among the three proposed methods, one stands out as the most promising. The article concludes by presenting recommendations aimed at further enhancing this research and urges engineers to give due consideration to these suggestions when embedding reinforcing steel into concrete. It is our hope that this research will yield positive outcomes for our construction engineers and contribute to the improvement of the process of embedding reinforcing steel into concrete.

Keywords: embedding reinforcing steel, epoxy adhesive, mechanical connection, mechanical anchor.

## Ninth Article:

### Change of Currency value and its impact on debts repayment

#### Abstract

In the contemporary era, the fluctuation in the value of money is a significant concern that directly impacts individuals and communities. Islamic Sharia scholars have recognized this as a juridical emerging issue and have extensively addressed it. They assert that the nature of money, its characteristics, printing, and the quantity of issuance are matters within the purview of government authority to safeguard the currency's value.

The primary objective of this article is to elucidate the Sharia ruling regarding the repayment of debts in cases of changes in the value of money. If the debt is denominated in gold, dinars, silver, or dirhams, jurists unanimously contend that changes in value are not considered, and the debtor is obligated to repay the same amount originally owed. Similarly, when the debt is in the form of metal money, it is generally treated like gold and silver, with changes in value not being recognized.

## Seventh Article:

### Juridical Legitimacy of Insurance and Its Legal Nature

**Abstract**

